# په افغانستان کي جرم او جګړه

ليکوالان: پروفسور جان برېټ وېټ او ډاکټر علي وردک

ژباړن: پوهنيار وحيدالله اميري

## د موضوعاتو لړليک

**لومړۍ برخه: د (هابز) حل لاره**

۱. مذهبي استبداد د نظم د تحميل د معاصرې لارې په توګه

۲. افغانستان: جګړه، دولت او ټولنه

۳. له ۲۰۰۱ ز کال څخه وروسته د عدلي نظام مجرم کيدل

۴. مخدره مواد او د عدلي سيستم جرمي کول

۵. د جګړې مجرمول

**دويمه برخه: د (جفرسون) بديله لار؟**

۶. په افغانستان کې دولت، ټولنه او ټولنيز نظم

۷. جرګه او د شخړو حل

۸. د دويز عدالت سياسي شوې سيالۍ

۹. په افغانستان کی د عدم تشدد او عدالت لپاره نوې لارې پيداکول

۱۰. د ټولنې له لارې د ژغورونکي (ليوايتان) ولسواکه کول

# په افغانستان کې جرم او جګړه

## لومړۍ برخه: د (هابز)[۱] حل لاره

## لنډیز

دا مقاله تر ډېره بریده افغانستان ته (د جګړې د ډګر) پر ځای د عدالت د جرمي شوو نظامونو (Criminal Justice Systems ) ترمنځ د سیالۍ د ډګر په سترګه ګوري. (په ۱۹۹٦ز کال کې) د طالبانو واک ته رسیدو لوی لامل په هغو سیمو کې د نظم راوستل وو چې د نا مسئوله وسله والو او جهادي ډلو د جګړو له امله په کې وېره او ډار خپور شوی وو. په ۲۰۰۱ ز کال کې د طالبانو له ماتې څخه وروسته (کله چې نوی دولت رامنځته شو) د دولت د عدلي او امنیتي غړو/ تنظیمونو د ناکامۍ له امله (د طالبانو) وسله وال پاڅونونه بیرته پیل شول. طالبان بیرته راپورته شول او د دولت له محکمو سره یې سمې موازي محکمې رامنځ ته کړې. ډېر ولسي خلک د دولت د محکمو په پرتله د طالبانو محکمې اغیزناکې او عادلانه ګڼي. نظر په پوښتنې ښیي چې خلک قاضیان د (افغانستان) د فاسد دولت تر ټولو فاسد غړي ګڼي. پولیسو ته د خلکو د ملکیتونو د ساتونکو نه؛ بلکې د هغو د لوټونکو په سترګه کتل کیږي. که څه هم دامریکا متحده ایالات توانیدلي وو چې تر ۲۰۰۹ ز کال پورې د افغانستان د ستونزې د حل لاره د (هابز) د سیاسي فرضیه/ نظریه مطابق په مناسبه توګه تشخیص کړي، خو د حامد کرزي ملاتړ د Leviathan[2] (ژغورونکي) په توګه د ستونزې د حل غوره لار نه وه. لویدیزه نړۍ په ۲۰۰۱ ز کال کې ونه توانیده چې له ځانه وپوښتي چې: خلکو ته د امنیت د برابرولو په موخه په افغانستان کې کومې لارې چارې عملي دي؟ د دې پوښتنې یو ځواب هم جرګه / شورىٰ وه چې د (توماس جفرسن) د ولسي جمهوریت[۳] له فرضیه/ نظریه سره سر خوري؛ د ښځږو د هوارۍ لپاره د خلکو عنعنوي او ولسي لارې چارې کار کوي؛ خو دوی دا لار تعقیب نه کړه.

---

۱. Hobbesian اصطلاح د توماس هابز د تفکر او فلسفې پلویانو (لارویانو) ته کارول کیږي، نوموړی د لویدیځ د سیاستپوهنې او ټولنپوهنې سرلاری مفکر او فیلسوف دی.

۲. لیوایتان Leviathan د توماس هابز دکتاب نوم دی . د کتاب اصلي موضوع د ټولنې د جوړښت او حکومت د مشروعیت دی. د لوستونکو د اسانتیا په خاطر د لیکنې په پاتې برخه کې د لیوایتان د اصطلاح پر ځای یې ژباړه یا ژغورونکی اصطلاح به وکارول شي (د ژباړن یادښت).

۳. توماس جفرسون (Thomas Jefferson) د امریکا د خپلواکۍ د اعلامیې لیکونکی، د بهرنی چارو لمړنۍ وزیر او دریم ولسمشر وو.د جفرسون د ولسي جمهوریت (Rural Republicanism) د نظریې په اساس د جمهوریت او دموکراسۍ د تمثیل اساس باید په ټیټه کچه په محلي ټولنو کی شتون لري ؛ د نوموړو ټولنو د ورځنیو چارو د کنترول یا هم په چارو کی د مداخلې په موخه د مرکزي حکومت واک هرو مرو محدود وي (د ژباړن یادښت).

## سریزه

(توماس هابز) (Thomas Hobbes) د انګلستان د کورنیو جګړو پر مهال ژوند کاوه. دا مهال انګلستان له ګڼو امنیتي ستونزو او ګواښونو سره لاس په ګرېوان و. نوموړي (د خپل چاپېریال د ستونزمنو شرایطو د حلولو په اړه) دې پایلې ته رسیدلی وو چې: ژوند به تر هغه غوندي، وحشي او د مرګ په خوله کې ولاړ وي تر څو پورې چې Leviathan یا ژغورونکی را څرګند نه شي. دغه ژغورونکی به د سیمې پر ټولو وسله والو ډلو برلاسي کوي او د خپلې واکمنۍ په ټینګولو او سیمې ته د نظم راوستلو له لارې به مشروعیت تر لاسه کړي. شونې ده چې دا ژغورنکی پاچا اوسي یا هم بل هر وګړی چې د دولت مرکزي کنټرول په لاس کې واخلي. افغانستان د ۱۹۷۸ز کال را په دېخوا، د انګلستان د هغه وخت په پرتله، د مختلفو جګړه مارو ډلو له خوا (حتی د هغو ډلو پر ګډون چې د دولت د تشکیل برخې وې) ډېر تاوتریخوالی لیدلی او زیات زیانمن شوی. د (هابز) له فرضیه/ نظریې سره سم ولسمشر حامد کرزی له ۲۰۰۱ز کال څخه وروسته د ژغورونکي په توګه، د (ناټو) په چوکاټ کې د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ایساف) په ملاتړ، په لومړیو کلونو کې پر دې وتوانیده چې افغانستان ته امنیت راولي.

خو په دې وروستیو کې بیا د افغانانو ژوند د پخوا په پرتله ډېر بدغونی، تریخ او لنډ دی، کټ مټ هماغسې لکه د لرغوني (روم) مورخ (تاسیتوس) (Tacitus) ویلي دي: "پخوا مونږ له جرمونو (د مجرمینو له اعمالو) څخه زیان لیده او ځورېدو؛ خو اوس له قانون (د قانون پلي کوونکو له اعمالو او رویې) څخه زیان ګورو او ځورېږو". د دې لیکنې په اوږدو کې استدلال شوی چې د (تاسیتوس) نظر د طالبانو په اړه هم صدق کوي ځکه طالبان په ۱۹۹۶ز کال کې د ژغورونکو په توګه را څرګند شول او د چپاولګرو جرمي ډلو او نا مسئوله وسله والو ملیشو څخه یې افغانان وژغورل او ډېر ښه امنیت یې راوست. طالبانو په ورته توګه د جهادي تنظیمونو (چې طالبانو د شر او فساد ځواکونو په نوم یادول) خپلمنځي جګړو ته هم د پای ټکې کیښود؛ خو دوی هم پر خپل وار د استبدادي نظام او قوانینو په رامنځته کولو سره ولسي وګړي، په ځانګړي ډول ښځې، په وېره او وحشت کې واچول. د ژغورونکو په توګه (ناټو) او کرزی دویمه ستونزه چې په دې مقاله کې تر بحث لاندې نیول شوې ده. دغو ژغورونکو ـ دولت او (ناټو) ـ د الیکسن(Ellickson ) د نظر مطابق په ټولنه کې "له قانون پرته د نظم موجود سیستم یا (Order Without Law)[4] " له منځه وېوړ. د کرزي او ناټو دولت دا کار

۴. د قانون پرته د نظم موجودیت order without law مفهوم دادی چې اړینه نده چې یوازې د قانون په شتون کې دی په ټولنه کې نظم وي ؛ بلکه شونی ده چې د قانون په نه شتون یا په کمزوری شتون کی هم په ټولنه کې نظم موجود وي (دژباړن یادښت)

هماغسې وکړ لکه څرنګه چې طالبانو، مجاهدینو او کمونیستانو نظامونو- له اوسني نظام څخه دمخه د ژغورونکو نظامونو په توګه راڅرګند شوي وو- له قانون څخه پرته په ټولنه کې شته نظم له منځه وړی وو.

د (الیکسن) له نظره شونې ده چې ټولنه دې داسې یو دولت ولري چې په کې ټولې سیالې وسله والې ډلې بې وسلې شي او د عدالت ټول نارسمي او دودیز نظامونه د قانون په نه شتون کې هم امن رامنځته کړي او هم ټولنیز نظم ټینګ کړای شي.له بده مرغه باید ووایو چې د (ناټو) له مداخلې څخه نیولې ان د (اوباما) د حکومت تر دویم کال پورې د دغسې لارو چارو او ظرفیتونو څخه د ګټې اخیستلو هڅه ونه شوه. مونږ (لیکوالان) استدلال کوو چې له یوې لسیزې څخه وروسته د امریکا په تګلاره کې بدلون یوه پر ځای پرېکړه وه خو پوښتنه دا ده چې د بدلون دغه پرېکړه ډېره ناوخته ونه شوه؟

په لومړۍ لیکنې (همدغه لیکنه) کې یوازې د (هابز) د نظریاتو په رڼا کې مونږ خپلې شننې وړاندې کوو. په دویمه لیکنې کې د (جفرسون) پر نظریاتو بحث کوو چې پر بنسټ یې د عدالت سیمه ایز او دودیز نظامونو په تقویه او اصلاح تمرکز کوي. د لومړۍ لیکنې په لومړۍ برخه کې به د (هابز) د نظریاتو په نظر کې نیولو سره د مذهبي او یا نورو استبدادي نظامونو د منځته راتګ په اړه بحث او تحلیل وړاندې کوو. وروسته بیا دی استدلال ته بیلابیلو پړاوونو کې ټوټه کیدنې (ماتیدنې) له سرچینو (عواملو) سره اړیکه ورکوو. مونږ د لومړۍ برخې تحلیل ته د دولت له جرمي کیدنې (criminalization of state)، د عدلي نظام له جرمي کیدنې (criminal-ization of the Justice cystem ) او د جګړې له جرمې کیدنې (criminalization of war) سره هم اړیکه ورکړې ده. د دې ټولو ستونزو چی (هابز) یی د(ټولنیز رنځ) په نوم یادوي ،په لومړی برخه کې ځای ورکړل شوی دی. په دویمه برخه کې د (جفرسون) د نظریاتو په رڼا کې نوموړو ستونزو ته د حل پر لارو چارو غور او بحث شوی دی.

## مذهبي استبداد د نظم د تحمیل د معاصرې لارې په توګه

په ۱۹۹۸ز کال کې د اندونیزیا د (امبن) او (پوسو) (Amban and Poso) په ایالتونو کې، چې د مذهبي او سیاسي سیالیو سیمې وې، د مسلمانانو او عیسویانو ترمنځ شخړې او تاوتریخوالی پیل شوې (Braithwaite et al 2010). دا تاوتریخوالی په ډېرې چټکۍ سره د اندونیزیا د ملیکو (Ma-luku) او مرکزي سیلاوسی (Central Sulawesi) سیمو ته هم خپرې شوې او په پایله کې یې له

لس زرو (۱۰۰۰۰) څخه ډېرو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړه. په دواړه لانجمنو سیمو کې جګړه له لاندې دوو حالتونو څخه پر یو حالت واوښته او لا نوره هم توده او کړکیچنه شوه. د جګړې لومړی حالت دا وو چې د مسلمانانو د مرستې لپاره په جکارتا کې د مذهبي توند لارو د لاریونونو او غوښتنو په ځواب کې په زرګونه مسلمان ځوانان له توند لارو اسلامي ډلو لکه لشکر جهاد سره یو ځای شول او د (امبن) او (پوسو) په لور یې حرکت وکړ. دغو ځوانان چې په ټوله معنی پر وسلو سمبال وو کلیو ته له ننوتو سره سم یې کورونه وسوځول او هغه عیسویان یې له منځه یوړل چې په تېښته بریالي شوي نه وو. د جګړې دویم لوری دا و چې امنیتي ځواکونه هم د جګړې ارخ وګرځېدل. د بېلګې په ډول په (آمبن) ایالت کې د پولیسو د ځواکونو ډېره برخه له عیسویانو سره یو ځای شول او بله خوا د اردو سرتېري له مسلمانانو سره. د ملي اردو ځینو مسلکي نښه وېشتونکو د پیسو په بدل کې د جګړې دواړه خواوو ته خپل وژونکي خدمتونه خرڅول.

په نوموړو دوه وو ایالتونو کې په هغه ډول چې (هابز) عقیده لرله، ولسي وګړي د ولسي وګړو سره په جګړه[5] کې ښکېل شول. دغه جګړه که څه هم د لنډې مودې لپاره وه خو مذهبي توند لارې ډلې په دې لنډه موده کې وتوانېدې چې په نوموړو سیمو کې د ترهګرو روزنځایونه رامنځ ته کړي چې په پایله کې یې اندونیزیا تر ۲۰۰۲ز کاله پورې په نړۍ کې د ترهګریزو چاودونو له امله تر ټولو نوم بدی هیواد و چې وروسته په ترتیب سره عراق، افغانستان او پاکستان دا ځای ونیوه. د بالي (Bali) د ۲۰۰۲ ز کال چاودنې، چې په کې دوه سوه ۲۰۰ کسان وژل شوي وو، د (ملیوکو) او مرکزي (سیلاویسي) په ترهګریزو مرکزونو کې د روزل شوو ترهګرو له خوا طرحه شوې . دغه مرکزونه اوس تړل شوي دي. که څه هم اوس کله ناکله د مسلمانانو او عیسویانو تر منځ د تاوتریخوالي خبرونه اورېدل کیږي خو دا نښتې او تاوتریخوالي هغومره نه دي څومره چې په ۱۹۹۸ز کال وو. په تاوتریخوالو ددې سترې بریا اصلي لاملونه درې وو: لومړی لامل یې دا و چې مذهبي مشرانو له جنګیالو څخه غوښتنه وکړه تر څو خپلو کورونو ته راستانه شي او سوله ایز ژوند غوره کړي. د دې مشرانو له ډلې څخه یوه ډله هغو مذهبي مشرانو چې په سعودي عربستان کې مېشت وو د اوربند او د جګړې د درولو په هکله فتوی صادره کړه. بله ډله د (جاوانیز) او (سلاویسي) (Javanese and Sulawesi)د کلیو مذهبي مشران وو چې د هغوی له کلو څخه ځوانان د جګړې لپاره ګمارل شوي وو، دریمه ډله مشران د (آمبن) او (پوسو) د کلیو مذهبي مشران وو چیرې چې جګړه روانه وه او

۵. د هابز په آند دولس په وړاندې د ولس جګړه (War of all against all / war of each against all) هغه جګړې ته ویل کیږي چې په هغې کې ولسي خلک یو د بل په وړاندې جنګیږي او د حالت حاکم وي (د ژباړن یادښت)

جنګيالي د دې کليو د ساتنې او دفاع په موخه راغلي وو. د بريا دويم لامل د مسلمانانو او عيسويانو دمذهبي مشرانو تر منځ د پخلاينې او روغې جوړې د خبرو اترو (مذاکراتو) پيل وو. د خبرو اترو په پايله کې مشران پر دې وتوانيدل چې په ټيټه (کليواله) کچه د پخلاينې له دوديزو لارو (هغه لارې چې له عيسويت او اسلام څخه دمخه په خلکو کې دود وې) څخه په ګټنې د مسلمانانو او عيسويانو ترمنځ روغه جوړه رامنځ ته کړي. د بريا دريم لامل د امنيتي ځواکونو په جګړه کې د مختلفو ښکيلو خواو له ملاتړ څخه لاس اخيستل او د سولې د په وړاندې جدي اقدامات وو. د ۲۰۰۰ مې ز کال په اوږدو کې په دواړو ولايتونو کې نيمګړې خو نسبتاً ټينګ امنيت را منځ ته شوه.

بنګله ديش هم په ۱۹۹۸م کال کې له همداسې حالت سره وروسته له هغې مخ شو چې د جماعت المجاهدين بنګله ديش (JMB) سلفي ډله د پخوا په پرتله پياوړې شوه. نوموړې ډلې د بنګله دېش په مختلفو سيمو کې په سلګونو ترهګريز چاودنې تر سره کړې چې تر ټول ډېرې چاودنې يې د ۲۰۰۴- ۲۰۰۵م کلونو په اوږدو کې ترسره کړې (ICG 2010; South Asian Terrorism Portal 2010 ) نوموړې ډلې د فرقه يې شخړو، په چارو کې د پوليسو ناکاميو، خپلسريو، کمزورې حکومتولۍ او په مختلفو کليوالي سيمو (په ځانګړي توګه په راج شاهي) کې د امنيت په اړه د خلکو له بې اعتمادۍ او وېرې څخه د يو فرصت په توګه د خپل خوځښت د سمولو لپاره ګټه واخيسته. نوموړې ډلې د شرعي نظام په جاري کولو سره په نوموړو سيمو کې لومړ ی امنيت ټينګ کړ ، خو بيا يې له دې سيمو څخه د ترهګريزو روزنځايونو او مرکزونو په توګه ګټه پورته کړه چې د بنګله دېش په مختلفو سيمو کې تر سره شوي ترهګريز بريدونه به له همدې ځايه رهبري او اداره کيدل.

د ۲۰۰۰ مې ز پېړۍ د لومړي لسيزې په منځني کلونو کې په بنګله دېش کې (د اندونيزيا د ۱۹۹۰ز لسيزې د وروستيو او ۲۰۰۰ مې ز پيړۍ د لومړيو کلونو د حالت په څېر) د حکومت او مدني ټولنو د ګډو هڅو په پايله کې جماعت المجاهدين بنګله دېش ترهګرې ډلې ځالې په مؤثره توګه له منځه يوړل شوې (Fink and El-Said 2011: 5-7) خو لا هم د نوموړې ډلې د بيرته راګرځيدلو ګواښ په بشپړه توګه له منځه نه دی تللی. په حقيقت کې نن ورځ بنګله دېش او اندونيزيا چې د نفوس په لحاظ د اسلامي نړۍ تر ټول لوی او د مسلمانانو اکثريت وګړي لرونکي هيوادونه دي او د نورو اسلامي هيوادونو لکه افغانستان، پاکستان، يمن او سومالیې په شان د ترهګريزو فعاليتونو مرکزونه نه دي. د بنګله دېش د امنيتي چارو يو کارپوه جان بريټ ويټ (John Braithwaite) ته د مرکې په مهال ويلي چې جماعت المجاهدين – بنګله دېش او طالبان د فعاليتونه په سرته رسولو کې يو له بل سره ډېر ورته والی لري: دواړه ډلې په هغو کليوالو سيمو کې مرکزونه جوړوي کومو سيمو کې

چې د غیر مسئولو وسله واله ډلو د موجودیت له کبله د قانون د حاکمیت خلا رامنځ ته شوې وي.[۶]

له پورته شننې څخه وروسته د دې لیکنې اصلي برخې ته ګرځو چې د (هابز) د نظریاتو په رڼا کې د طالبانو د خوځښت د منځ ته راتلو د څرنګوالي ارزونه ده. په دې اړه مونږ څپله ارزونه داسې وړاندې کوو چې د طالبانو پر وړاندې د نړیوالې ټولنې غبرګون هم هابزي غبرګون و: یعنې د طالبانو تر امارت لاندې ستونزمن ژوند ددې لامل شو چې په مقابل کې یې د ژغورونکي په توګه حامد کرزی واک ته ورسول شو.

په داسې حال کې چې په ۲۰۰۱ز کال کې نړیواله ټولنه تر ډېره بریده د (یوګوسلاویا) د تجزیې د صحنې/ منظرې د تکرار څخه په افغانستان کې وېرېده، د افغانستان په هکله ورته تاریخي مثال موجوده نه وه. نړیوالو مرستندویه دولتونو په همدې خاطر د یو قوي مرکزي دولت پر جوړېدو ډېر ټینګار کاوه چې پر آند یې د قوي مرکزي دولت په نه شتون کې به هېواد له تجزیې سره مخ شي (Barfield 2010: 8). باب وډوارډ (Bob Woodward: 2011) په خپل کتاب د (اوباما) جګړه (Obama's War) کې، خپل امنیتي ټیم (ډلې) ته د وینا پر مهال د ولسمشر (اوباما) هغه خبرې رانقل کړې چې وایي په افغانستان کې زمونږ د مداخلې موخه دا نه ده چې هلته (جفرسون) ډوله ډیموکراسي پلې کړو. په دې بنسټ زمونږ ارزونه، چې د دې لیکنې د دویمې برخې په پای کې به هم وړاندې شي، دا ده چې د افغانستان د اوسنۍ غمېزې اصلي لامل هغه ناسمې تګلارې دي چې تر ډېره بریده د (هابز) د نظریاتو په رڼا کې ترتیب شوي خو د (جفرسون) د وګړواکۍ نظریاتو ته په کې ډېر کم ځای ورکړل شوی. د (جفرسون) د جمهوریت د لیدلوري پر بنسټ د واکمنۍ د ټینګښت او د تاوتریخوالو او د استبداد د مخنیوي په موخه اړینه ده چې غیر مرکزي، سیمه ایز او د قواو د تفکیک قوتونه د څارګر نقش ولوبوي.

د استبدادي نظم هغه بدیل چې مونږ یې وړاندې کوو دا دې چې په سیمه ایزه کچه د وګړواکۍ نظام مثال/ سرمشق چې بنسټ یې محلي ټولنه وي اما د وګړیز دولت له ملاتړ څخه برخمن وي: لکه د (پنچایت) نظام چې د (مهاتما ګاندي) په سیاسي نظریاتو کې هم لیدل کېږي (وګورئ Braithwaite et al. 2010). د دې تحلیل پر بنسټ، د عدالت د رسمي نظام په پرتله د عدالت سیمه

۶. ددې څېړنې لپاره ۱۱۴ مرکې ترسره شوې چې ډېره برخه یې د لیکوالانو له خوا په ګډه توګه د ۲۰۱۱ز کال د جولای او اګست په میاشتو کې په افغانستان کې تر سره شوې. د ساحوي څېړنې د پای څخه وروسته ،نورې پاتې مرکې د بهرنیو نظامي او نورو دنده کونکو سره (هغه چې په افغانستان کې یې دنده درلوده) په مختلفو هېوادونو کې سرته رسیدلې. ډاکټر علي وردګ په افغانستان کې زیږیدلی او د ژوند ډېره برخه یې هم په افغانستان کې تیر کړې، نوموړی همدارنګه د ۲۰۱۱ز کال راهیسې د نورو څېړنیزو پروژو د سرته رسولو په موخه ډېر ځلې افغانستان ته کاري سفرونه هم کړې. د څېړنیز اخلاقو او اصولو د مراعتولو په موخه مرکې پرته له نوم څخه نشرېږي مګر په هغه صورت کې چې سرچینه (مرکه ورکونکې) د نوم او شهرت د نشرغوښتونکې وي.

ایز نظامونه خورا زیات اهمیت لري، خو دا هم باید په یاد ولرو چې د آزادیو د تامین او د تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه خالي ټولنې لپاره د عدالت د دوارو نظامونو مرسته په برابره ډول اړینه دی.

## افغانستان: جګړه، دولت او ټولنه

که څه هم افغانستان د ۱۹۷۸ز کال له کمونستي کودتا څخه دمخه ډېرې ستونزې لرلې خو بیا هم په عمومي توګه د (محمد ظاهر شاه) د پاچاهۍ او د ولسمشر (محمد داود خان) د واکمنۍ پر مهال د څه له پاسه پینځو لسیزو لپاره سوله ایز هیواد و. په نوموړې موده کې (په ځانګړې توګه له ۱۹۷۳ز څخه تر ۱۹۷۸ز کلونو پورې) د افغانستان دولت ورو ورو تدریجي ډول سره د ملي بنسټونو د پیاوړتیا لړۍ پیل کړه. په ورته توګه د ټولنې ټولو وګړو، په ځانګړي ډول ښځو، په تدریجي ډول آزادي تر لاسه کړه. د هغو مخ پر ودې هېوادونو په پرتله چې له افغانستان سره په یوه کچه د پرمختګ په حال کې وو، د افغانستان د تعلیمي بنسټونو حالت د راتلونکي پرمختګ لپاره ډېر هیله بښونکی و؛ خو همدغه تعلیمي بنسټونه د افغانستان د بد مرغیو او ناخوالو لامل هم وګرځېدل. د ۱۹۶۰مې ز لسیزې په وروستیو او د ۱۹۷۰مې ز لسیزې په لومړیو کې، د نړۍ د نورو پوهنتونو په څېر کابل پوهنتون هم د زده کړیالانو د افراط مرکز وګرځید؛ خو د کابل پوهنتون د افراطیانو او د سربان (Sorbonne) او برکلي (Berkeley) پوهنتونونو د افراطیانو ترمنځ دا توپیر وو چې د کابل پوهنتون کېڼ اړخي افراطیانو د شوروي اتحاد (یا هم د چین د ماو Mao) له پراخه ملاتړ څخه برخمن وو او مذهبي افراطیانو یې د پاکستان، ایران او یا هم نورو اسلامي هېوادونو ملاتړ له ځانه سره درلود. په ځانګړې توګه د شوروي له یرغل څخه وروسته، د افغانستان اسلامي افراطیانو د پاکستان د څارګرې ادارې (ISI) او د امریکا متحده ایالاتو د څارګرې ادارې (CIA) له ملاتړ څخه هم ډېر برخمن شول. سعودي عربستان او ځینو نورو عربي هېوادونو د جنګیالو ، پیسو او وسلو په برخه کې له دغو مذهبي افراطیانو سره مرسته کوله.

د نوموړو هیوادونو په ملاتړ او مرسته، په ترتیب سره لومړی کمونستان او بیا اسلامي ډلې وتوانیدې چې دولتي واک ترلاسه کړي. واک ته د رسیدو په موخه د نوموړو ډلو د سیالیو په ترڅ کې د دولت جوړونې هڅې (که څه هم کمزورې وې) هم له منځه یوړل شوې. د کمونستانو او مجاهدینو د پرله پسې جګړو په پایله کې په اټکلي توګه د ۱.۲ میلونو څخه ډېر افغانان ووژل شول. د نوموړو جګړو په پایله کې د افغانستان اقتصادي، سیاسي، تعلیمي او کلتوري بنسټونه او تاسیسات تر ډېره بریده له منځه لاړل. په داسې حال کې چې د دولت د ویجاړ شوو بنسټونو کنټرول د بریالو جګړه

مارو ډلو په لاس کې ولوېد، ملیشې ، ورې جګړې مارې ډلې پر دې و توانیدې چې د کلیوالي سیمو کنټرول تر لاسه کړي.بالاخره د جګړو په پایله کې تعلیمي بنسټونه ویجاړ او ډېرو افغانانو ته د تعلیم حاصلولو یوازینی لار په دیني مدرسو کې زده کړه وه. د دې دیني مدرسو ډېره شمیر د افغانستان او پاکستان د سرحدي کرښې په اوږدو او د پاکستان په ځینو ښارونو کې وې چې د (اسامه بن لادن) په څیر وګړو له خوا تمویلیدې.

کله چې شوروي اتحاد پر دې پوه شوه چې یوازې د وسلو او سلاکارانو له لارې نه شي کولی چې خپل لاسپوڅی کمونستي نظام په واک کې وساتي نو د ۱۹۷۹ز کال د ډیسمبر میاشت کې یې نیغ په نیغه پر افغانستان نظامي یرغل وکړ. مجاهدین پر دې وتوانېدل چې له روسي یرغل سره د مقابلې په موخه د امریکا متحده ایالتونو، غربي اروپا هېوادونو، پاکستان، سعودي عربستان او اسامه بن لادن ملاتړ ترلاسه وکړي د. د شوروي اتحاد د ماتولو لپاره له مجاهدینو سره د نومړو هېوادونو مرستو بسنه وکړه او په دې توګه مجاهدین وتوانېدل چې د نړیوال اشتراکي/ ګډ اصول په راپرځولو کې لویه ونډه واخلي. په افغانستان کې د کمونستي رژیم آخرنی واکمن ډاکټر نجیب‌الله د شوروي په شان له کمونستي نظام څخه لاس واخیسته او پر ځای یې له اسلام او ولسواکۍ څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. له دې سره سره بیا هم نظام د شوروي لاس پوڅی و او د هغې د نظامي مرستو پر مټ په واک کې پاتې وو. که څه هم د ګورباچوف (Gorbachev) او یلتسن (Yeltsin) د مشرۍ په وخت کې نور نو شوروي له امریکا سره په سړه جګړه کې ښکېل نه وه، خو بیا هم امریکا له دې فرصت څخه د واک د لیږد په موخه ګټه وانخیسته تر څو له شوروي سره په ګډه له اشتراکي/ ګډ اصول څخه وګړوالي ته واک ولیږدوي. د ګډ کار پر ځای د امریکا متحده ایالات د سړې جګړې د بریا په خوښۍ کې بوخت، له سړې جګړې څخه د راولاړو شوو غمیزو او ورانیو له مسولیت څخه یې انکار وکړ او خپلو د مالي ګټو د ساتنې په خاطر یې پر افغانستان ټولې مالي مرستې ودرولې. امریکا په افغانستان کې د سولې په موخه د سیمه ایزې سولې مسوولیت پاکستان ته وسپاره. په دې کار سره د دې احتمال رامنځ ته شو،چې افغانستان چې یو وخت د نړۍ د زبر ځواکونو (روسیې او امریکا) د سیالۍ میدان و، اوس د سیمه ایزو ځواکمنو او سیالو هېوادونو (په ځانګړي ډول د پاکستان او هندوستان) د سیالۍ پر میدان بدل شوې. د افغانستان په غرب کې د ګاونډي هېواد ایران له خوا په افغانستان کې شیعه ملېشو ته د وسلو ورکول هغه څه و چې د امنیت او ثبات موضوع یې نوره هم کړکیچنه کړه.

د امریکا متحده ایالات یوازینی هیواد نه و چې د شوروي اتحاد له وتلو څخه وروسته یې د غلطې پرېکړې له مخې افغانستان یوازې پرېښوده او د ترهګرۍ ښکار شو (Wardak 2002). پاکستان او

هندوستان هم په ورته ډول له ترهګرۍ څخه زیانمن شو. د نومړو هیوادونو په شان روسیه هم له هغو مخدره توکو څخه چې له افغانستان څخه راځي زیان ګوري او له همدې امله هر کال ۱۴۰۰۰ زره روسي ځوانان خپل ژوند له لاسه ورکوي دغه شمیره د روسیې د هغو ځوانو پوځیان له شمیرې سره نږدې ده چې د افغانستان د جګړې په اوږدو کې وژل شوي وو. په همدې ډول ایران هم له هغو مخدره توکو څخه زیانویني چې د افغانستان څخه قاچاق کیږي، دغه مخدره توکي د ټولې نړۍ د هیروئینو د قاچاق څه له پاسه دریمه برخه جوړوي (Paoli et al. 2009: 238). د روسیې له وتلو څخه د ۲۰۰۰ ز کال تر لومړیو پورې د ایران کابو۳۷۰۰ پولیس د مخدره توکو له قاچاقبرانو سره د جګړې پر مهال وژل شوي (Ashouri and Rahmdel 2003; Paoli et al. 2009: 238). د افغانستان د ژغورلو چانس د شوروي اتحاد سره د جګړې په پای کې د ۲۰۰۱ ز کال په پرتله کله چې غربي نړۍ د افغانستان د ژغورنې په موخه بیا په افغانستان کې ښکېل شوه، ډېر وو.

د (هابز) د نظریو په یو نواخت تطبیق کې د افغانستان ستونزو ته د حل لارو د لټولو لاره ده. که د دولت په نه شتون کې ګاونډیان د خپلو لنډ مهاله ګټو لپاره د ولس پر وړاندې د ولس جګړې ته لمن وهي نو دا په حقیقت  کې وحشي جګړه مارو ډلو ته په ټولنه کې د ژورو ریښو ځغلولو او منګولو ټینګولو د برابرول په معنی دي. دا ډول لنډ مهاله ګټې له ځان سره اوږد مهاله خطرونه لري حتی کېدای شي په پښتون میشته قبایلي سیمو کې چې ډېری وختونه یې د افغانستان او پاکستان امنیت ګواښلی دی اتومي ګواښ هم رامنځ ته کړي؛ نړیواله ټولنه دا اندیښنه هم لري چې کیدای شي د پاکستان اتومي وسلې د ترهګرو لاس ته ورشي. په ورته ډول کولای شو چې د سومالیې، یمن او د پاکستان د نورو برخو له وضعیت څخه یو څه زده کړای شو. که څه هم د ګډوډیو د تشخیص لپاره د (هابز) لیدلوری منطقي او پرمعنی ده، خو په دې لیکنه کې مونږ استدلال کوو چې ولې د (هابز) د (لیوایتان) وړاندیز چې په ځواکمن پولیس او نظامي ځواک متمرکز دی د تطبیق په پایله کې د افغانستان حالت د پاکستان په شان نور هم د ګډوډۍ او خرابۍ لور ته یوړل.

## د دولت ټوټه کیدل

د مجاهدینو مختلفو سیالو ډلو لومړی د شوروي په وړاندې او بیا په ۱۹۹۲ز کال کې د روسیې په ملاتړ د ډاکټر نجیب‌الله د نظام په وړاندې په جګړه کی بریا تر لاسه کړه.له بده مرغه  کله چې د امریکا متحده ایالاتو د سیمه ایزې سولې د تامینوونکي په توګه پاکستان غوره کړه نو پاکستان د خپلو ګټو د ساتنې په موخه په افغانستان کې د خپل لاسپوځي حکومت درلودلو په هیله کله د مجاهدینو د

یوې ډلې او کله هم د بلې ډلې ملاتړ پیل کړ. له یوې مذهبي ډلې څخه بلې مذهبي ډلې ته د پاکستان د ملاتړ بدلیدل رابدلیدل په افغانستان کې د یو خپلواکه او ملي مشرتابه د رامنځ ته کیدو لوی خنډ وګرځید (Rubin 2002: x). پاکستان افغانستان ته د خپل نفوذ د ساحې او بالقوه متحد (ملګري) په سترګه کتل تر څو په دې توګه د هندوستان پر ضد" وارد مخه طرحه شوې دفاعي تګلاره[۷]" یا " کړنلاره عمق[۸]" پلان کړي. تر ټولو مهمه خبره دا چې د پاکستان دا لویه هیله ده چې افغانستان مرکزي آسیا ته د ننېلوونکې لارې په توګه وکاروي چې وکولای شي خپل سوداګریز مالونه مرکزي آسیا ته ولیږدوي او له هغه ځایه تر ټولو ډېر اړین توکي (لکه ګاز او تیل) را دننه کړي. ښایې پاکستان د افغانستان بې ثباتي دومره ډېره بده نه وي ګڼلې او ګومان یې کړی وي چې کولای شي دا حالت خپله مهار کړي. په ځانګړي ډول پاکستان داسې یو باثباته افغانستان نه غوښته چې د پاکستان د دښمن (هندوستان) نږدې ملګری وي؛ هغه هندوستان چې په پرله پسې توګه په افغانستان کې اقتصادي او سیاسي پانګونې کوي. پاکستان د افغانستان او هندوستان ترمنځ په دې وروستیو کې لاسلیک شوي کړنلارې تړون او د هندوستان هغه وړاندیز ته، چې له مخې به یې افغان امنیتي ځواکونه د هندوستان له خوا روزل کېږي، د شک او توطئې په سترګه ګوري.

پاکستان په ۱۹۹۴ز کال کې هغه وخت له طالبانو څخه ملاتړ پیل کړ چې د مجاهدینو دلاس پوڅو ډلو له لارې د افغانستان تر خپل واک لاندې راوستلو هڅې یې ناکامه شوې؛ د دې ناکامۍ لوی لامل د سیمه ایزو ځواکمنو هېوادونو لکه هندوستان، ایران، روسیې او د پخواني شوروي اتحاد د مرکزي آسیا وګړواکونو له خوا د هغوی د نفوذ لاندې جهادي ډلو ملاتړ و. که څه هم د کابل د نیولو په موخه د مجاهدینو خپلمنځي جګړو کې هغومره خلک ونه وژل شول کوم چې د کمونستي نظام خلاف جګړې په وخت کې وژل شوي وو؛ خو بیا هم د مجاهدینو خپلمنځي جګړو د دولت تشکیلات او په کابل کې دولتي بنسټونه په پراخه توګه ویجاړ کړل. په همدې توګه د کابل د ښار ډېرې ودانۍ په کنډوالو بدلې شوې، د دې ودانیو په منځ کې هغه ودانۍ هم ویجاړې شوې چې یو وخت یې د یو افغان ځواکمن دولت ښکارندويي کوله: د بیلګې په ډول د کابل د تخنیک ساحوي پوهنځی او د کابل پوهنتون ځینې نور خورا مهم مرکزونه چې د هېواد په کچه مشهور ښوونیز بنسټونه وو.

خو (کندهار) تر بل هر ځای ډېر په ګډوډۍ کې ښکیل وو. وسله والو ډلو د کندهار له ښاره بهر

۷. مخکې طرحه شوې دفاعي تګلاره forward defence اصطلاح په نظامي برخه کې هغه تګلارې لپاره کارول چې د هغې په اساس د هیواد د ګټو او امنیت د ساتلو لپاره خپل هیواد پر ځای په بل هیواد کې جګړه ترسره کیږي تر څو ددښمن د خطر مخه ونیول شي.

۸. ژوره کړنلاره strategic depth اصطلاح په نظامی برخه کی په لاندی معنی کارول کیږي: دجګړې د لومړۍ کرښو څخه د دجګړه کونکو هیوادونو دمرکزي او صنعتي ښارونو ، نظامي مرکزونو، ملکي ځایونو او نورو اهدافو ترمنځ فاصله او لرې والی.

برخې تر خپل واک لاندې راوستل او د ځوانو هلکانو او نجونو اختطاف په پراخه کچه شتون درلود. د وسلو والو د جګړو له امله ولسي وګړي یا به د رندو دزو قرباني وو او یا به دښمن ته د پناه ورکولو په تور د وژل کېدو له ګواښ سره مخامخ و. دهقانانو نه شول کولای چې خپل کرنیز توکي د خرڅلاو لپاره بازار ته یوسي. مسافرینو نه شول کولای چې وسله والو ډلو ته له باج ورکولو پرته خپل ملکري یا هم کورنیو سره ووینې. له دې بدمرغیو سره د مبارزې په موخه د دیني مدرسو د ښوونکو او زده کونکو یوه خپلسرې غبرګون د (ملا محمد عمر) په مشرۍ رامنځ ته شو تر څو وسله والې ډلې تر لاس لاندې او د ولس لوټونکې تالاشۍ بندې کړي؛ دغه خوځښت وروسته په ملي کچه د طالبانو د تحریک په نامه وپېژندل شو. د ۱۹۹۴ز کال د نوامبر په میاشت کې طالبانو وکولای شو چې کندهار ولایت تر خپل سلطې لاندې راولي او د شریعت د احکامو په نافذولو سره یې قاطع نظم رامنځته کړ. د واک په لومړیو ورځو کې طالبانو د نظم او قانونیت د راوړلو د داعیې پر بنسټ وتوانېدلی شو چې د نظم په راوړلو سره د خپل واک سیمه نوره هم پراخه کړي؛ د واک له ټینګولو وروسته د نظام د مخته وړلو لپاره یې خپل مذهبي (دیوبندي مفکوره) په پوره ډول عملي کړه (Barfield 2010:257).

د طالبانو چټک پرمختګ د دې سبب شو چې وروسته د پاکستان ملاتړ ترلاسه کړي؛ پاکستان د مرکزي آسیا د هېوادونو په ځانګړې توګه د ترکمنستان او ازبکستان سره د ژورو اقتصادي اړیکو د رامنځته کولو لپاره ډېر هیله من وو تر څو له یو باثباته او ملګري افغانستان سره نږدې اړیکې ولري. د پاکستان څارګرې اداري (ISI) او یا هم په نوموړې اداره کې ځینو کړیو وروسته د (طالبانو) او (القاعدې) په منځ کې د "رویبار" رول ولوباوه. طالبان، چې هغه وخت په افغانستان کې د خلکو له پراخه ملاتړ څخه برخمن و، له (القاعدې) څخه د پیسو (او یو څو سوو جنګیالیو) له لاس ته راوړلو څخه وروسته وکولای شول چې د ۱۹۹۸ ز کال د اګست تر میاشتې پورې د افغانستان ډېره زیاته برخه تر خپل واک لاندې راولي. (آمبن)، (پوسو) او (بنګله دیش) ته په ورته ډول، مذهبي توند لارو وکولای شو چې د ګډوډیو له منځه وړلو څخه وروسته په کندهار کې خپل واک ټینګ کړي. د (کندهار) او د (آمبن)، (پوسو) او (بنګله دیش) د حالاتو یوازینی توپیر دا وه چې طالبانو د نظامي واک تر ترلاسه کولو وروسته هم له بهرنیو مرستو څخه برخمن وو. حتی د امریکا متحده ایالاتو هم طالبانو ته د ژغورونکو په سترګه کتل او دا یې انګېرله چې طالبان به وکولای شي په افغانستان کې امن تامین کړي او په دې توګه به امریکایي شرکتونه (په ځانګړې توګه یونوکال UNOCAL) وکولای شي چې له مرکزي آسیا څخه د ګازو او تېلو لیږد پیل کړي (Rubin 2002: vix).

که څه هم د مختلفو ګاونډیانو او سیمه ایزو ځواکونو په ملاتړ د مجاهدینو خپلمنځي جګړو

په معاصر تاريخ کې افغان دولت ته پريکنده ويجاړونکي ګوزارونه ورکړل خو په حقيقت کې د دغو جګړو سرچينه تاريخي عوامل دي چې له امله يې د افغانستان دولت ټوټې شوی. دا سرچينې عبارت دي له: کورنۍ جګړې، د پرديو ځواکونو لاسوهنې حکومتونه او د افغانستان موقعيت چې د سيالو امپراتوريو (روسيې او برېتانيې) او د سيالو ايتلافونو (روسيې او امريکا) ترمنځ حايل حيثيت درلودلی دی (Rubin 2001)؛ همدارنګه يوه بله سرچينه هم د واک لاس ته راوړلو لپاره د حکمران د ځايناستو ترمنځ اختلاف او بې ثباتي شخه عبارت دی چې د افغان دولت جوړونې کړنلاره يې تکامل او بشپړتيا ته نه ده پرېښې (Saikal 2001) او ځينې نور مختلفې سرچينې له مختلفو عواملو سره هم ښايي موجودې وي. د تير تاريخي نظامي جګړو پر بنسټ د دولت بنسټونه د معاصرو جګړو په پرتله په ژوره توګه تخريب شوي وو د بيلګې په ډول په ۱۳ مه پيړۍ کې (چنګيز خان) خان ډېر ښارونه ويجاړ او د اوبو لګولو نظامونه يې له منځه يوړل چې په دې توګه ډېر خلک ناچاره بېرته د کوچي والی ژوند ته ستانه شول (Rubin 2002:22). په دې لړ کې د شمالي ايتلاف جګړه ماران/مشران او حامد کرزي ددولت تحميل د ژغورونکي په توګه (پرته له دې چې په اغيزناکه توګه د قواوو د تفکيک اصل مراعات شي) دافغان دولت قانوني مشروعيت نور هم تر پوښتنې لاندې راوست. دا کار د دې لامل شو چې افغاني ټولنه (د کمزوري دولت او غښتلې ټولنې) بېلګه غوره کړي (Migdal 1988). د افغانستان مدني ټولني او عامه وګړي د امنيت ، عدالت او اقتصادي فرصتونو لپاره په خپلو کليوالو او ټبر ډيره متکي او باوري ده. دوی په دولت باور نه لري. جرګه د نادولتي مدني ټولنو له ډلی شخه تر ټولو ډېربااررښته بنسټ دې .

## د ښځو او سرغړونکو پر وړاندې د طالبانو دولتي جرايم

طالبانو د واک پر مهال د (القاعده) د جنګياليو په ملاتړ په (مزار شريف)، (يکاولنګ) او (شمالي) کې په وحشيانه ډول د جنګي جرمونو او د بشريت پرضد جرمونو د ارتکاب مظنون شول(Afghanistan Justice Project 2005; Grossman 2006). وروسته له دې چې طالبانو خپل افراطي ډوله مذهبي قضايي نظام په بشپړه توګه پلی کړ، نو ددولتي جرائمو ارتکاب ته يې هم برابره کړه، په داسې حال کې چې د دغې څېړنې ډېرو ګډون کونکو ويلي دي چې د طالبانو په وخت کې دوی په کوڅو کې ځانونه ډېر خوندي احساسول:"تر هغې وخته پورې چې يو کس ديني احکام مراعتول نو هغه کس کولای شول چې په خونديتوب سره هر چيرته لاړ شي. دغه کار نه د طالبانو له وخت شخه مخکې ممکن و او نه اوس امکان لري" (interview, Kabul civil servant 2011). خو ستونزه دا وه چې کله به چا له

ديني احکامو څخه سرغړونه کوله نو د طالبانو له دولتي ترهې سره به مخامخ کېدل. بې ضرره هنري کارونه لکه د هنري فلمونو جوړول يا کتل او يا هم ښځينه سندرغاړو ته غوږ نيول د جزا وړ جرمونه وو. طالبانو په دې نوم چې په ټولنه کې اصيل ديني عقايد پلی کوي د کلتوري ميراث پر ضد د جرمونو مرتکب شول، په (باميانو) کې د (بودا) د لرغوني مجسمې ويجاړول يې ښه بېلګه ده.

د نظم د ټينګښت يو لامل هم له شرعي احکامو څخه د طالبانو ځانګړی شخصي تفسير و د بېلګې په ډول د قتل په تور به د قاتل مجازات (قصاص) او يا هم په غلا د تورنو اشخاصو لاسونو پرېکول (حد) به د خلکو په عام محضر کې، د فوټبال په لوبغالي کې، تطبيق کيده. په ورته ډول که چيرته به د چا ږيره نه وه نو په قوي احتمال سره به د جزا وړ و، اما ښځې د دې استبدادي نظام تر ټولو ډېره قرباني ډله وه. که څه هم د طالبانو د نظام هر غړي د دې حق درلود چې د دولت په استازيتوب سرغړونکوو ته جزا ورکړي خو د امر باالمعروف او نهي عن المنکر پوليس د دولت تر ټولو مهم ارکان او استازي ګڼل کيدل. د خاوند له اجازې پرته په عامه ځايونو کې د ښځو ګرځيدل هم د مجازاتو وړ جرم وو. همدارنګه د دې لپاره چې ښځې وکولای شي له کوره دباندې ووځي نو بايد لږ تر لږه بورقه پر سر کړي.

## له ۲۰۰۱ ز کال څخه وروسته د دولت جوړونې کړنلاره

د امريکا متحده ايالاتو د اردو پر مټ او د شمالي ټلوالې د جګړه مارو په مرسته د طالبانو د نظام له نسکورېدو څخه وروسته، د غربي هيوادونو له خوا په افغانستان کې د دولت جوړونې لومړنۍ پراخه هڅې تر سترګو نه شوې. کله چې په ۲۰۰۱ ز کال کې د طالبانو حکومت په بشپړ ډول له منځه تلل تر سره شو، نو غربي ځواکونو خپله ټوله توجه د افغانستان پر ځای عراق ته ځانګړې کړه څکه د دوی په آند عراق د افغانستان په پرتله لويه ستونزه او ننګونه وو. د ولسمشر جورج بش (George Bush) د اداري تګلاره په حقيقت کې د دولت جوړونې پر بنسټ نه وه ولاړه؛ په افغانستان کې د نوموړې اداري لومړيتوب دولت جوړونه نه وه بلکې د (القاعده) او (طالبانو) د پاتې غړو نيول او يا هم له منځه وړل وو. د ملګرو ملتونو لوړ رتبه مامور فرانسس ويندريل (Frances Vendrell:2011) په دې هکله داسې وايي:

> "زمونږ له ډلې ډېرو کسانو پر دې خبره ډېر ټينګار وکړ چې مونږ هرومرو په جدي ډول سره د (کمبوډيا)، ختيځ (تيمور)، (بوسنيا) او (کوسوو) له تجربې څخه په افغانستان کې هم ګټه واخلو، څکه افغان ولس چې کلونو جګړو او بې قانونيو ځپلی له مونږه (نړيوالې ټولنې) غوښتل

چې د جګړه مارو او طالبانو څخه پرته، د هیواد په بیا رغوونه او د قانون د حاکمیت د بنسټونو په جوړولو کې غښتلی رول ولوبوو. خو زمونږ وړاندیز د اکثریت له لوری په دې دلیل رد شو چې نړیواله ټولنه باید له نرمښت څخه کار واخلي او د دې سیاسي کړنلارې مشري باید د افغانانو په کې وي؛ که څه هم دا تګلاره تر ډېره بریده سمه وه خو په عمل کې د دې کړنلارې مشري د افغانانو د ریښتنو استازو پر ځای تر ټولو لویو ورانکارو ډلو په لاسو کې پرېوته. افغانان د دې ګواه وچې نړیوالې ټولنې د هېواد تر ټولو وحشي او ظالمو وګړو ته د واک د لېږد د کړنلارې ملاتړ وکړ او په دې ډول هغه پایله په لاس راغله د کومې چې اټکل کېده" (Vendrell 2011: 54-5).

له ۲۰۰۱ز کال څخه وروروستیو کلونو کې دا واقعیت په راڅرګندېدو شو چې د شمالي ټلوالې جګړه مارو/ مشرانو او د ولسمشر حامد کرزي خپلوانو او ملګرو په دولت کې لوټ او تالان ګډ کړی. د دولت واک یوازې تر کابل پورې محدوده دی. له کابل څخه د باندې د دولت د حاکمیت او واک ادعا یوازې د شعار په ډول شتون درلود، حتی په کابل کې د دولت مشروعیت مخ په کمېدو و. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) یوې سرچینې مونږ ته دا په ډاګه کړه چې (ناټو) په لومړیو کې "د سولې د تامین په موخه د رشوت ورکول" تګلاره خپله کړې وه تر څو په دې توګه" جګړه مار خوښ وساتي":

"ځینو کسانو د سولې د تامین لپاره د رشوت ورکولو د تګلارې پلوي کوله ځکه دوی په آند د افغانستان د لنډ مهاله مودې تر ټولو لوی اړین اړتیا امنیت دی او له ادراي فساد سره د مبارزې لپاره به وروسته یو نظام رامنځ ته شي. د افغانستان لپاره د (کوفي عنان) ځانګړي استازي براهیمي، ویلي وو چې یوه ورځ پرته له جګړې په دې معنی ده چې مونږ تلپاتې سولې ته د یوې ورځې په اندازه نږدې کیږو.و دا تګلاره د زورزیاتي او معافیت کلتور ته ګټور و. په افغانستان کې له اداري فساد سره مبارزه یوه سمه لاره وه خو دا یې د "ښې حکومتولۍ په صندوق[۹]"کې په دې اند خوندي کړه چې دا ستونزه به وروسته حل شي. خو په حقیقت کې دا تګلاره هم ستونزې ته په مناسب وخت کې د مناسبې حل لارې د نه پیدا کولو په معنی ده" (interview, 2007 UNDP).

وروسته غربي هیوادونو د افغان دولت جوړونې برخه کې په پرله پسې توګه او پراخه کچه مرستې وکړې. دا مرستې په داسې لوښي کې ورتوی شوې چې ډېر سوري یې درلودل او له دې سوریو څخه

۹. د ښه حکومتولی صندوق Good governance box اصلاح په دې معنی دی چې ډېر وختونه حکومتونه ددی پر ځای چې ځیني ستونزی حل کړي هغه ددی لپاره له پامه غورځوی چې په راتلونکی کی به یی حل کړي خو دا ستونزی چې په اوله کی عادي ستونزی وي دوخت په تیریدو سره حکومت له لویو ننګونو سره مخامخ کوي او کله نا کله ددی ستونزو حل د حکومت له وسی پورته خبره وي.

تویيدونکې مرستې ټولې د ژغورنکي (لیوایتان) په لاس/ مراقبت کې وې؛ او یوازې هغه دا ټولې مرستی ټولولې. د دغه ژغورنکي (لیوایتان) د لاس لاندې کیدو/ مراقبت لپاره د قواو د تفکیک کوم اغیزناک نظام موجود نه وو. د کار په اولو وختونو کې حکومت هغه وخت د سترو سهوو مرتکب شو چې د ټولنې واکمني یې مجرمینو ته وسپارله او په دې توګه یې د معافیت کلتور رامنځ ته کړ؛ په همدې ډول داسې انتخاباتي نظام یې رامنځته کړه چې هر څه یوازې او یوازې د ګټونکي په برخه رسیږي، په دې ډول د سیاسي ګوندنو د پرمختګ مخه ونیول شوه. تر ټولو بده خبره لا دا ده چې غاصبو ځواکونو د اساسي قانون په ذریعه ټول واک یوازې او یوازې د یو کس، ولسمشر، په لاسونو کې انحصار کړ. ولسمشر په خپل نوبت د دې لپاره چې د فاسدو زورواکانو ملاتړ تر لاسه کړي دوی ته یې د دولتي چوکیو او رتبو په ویش پیل وکړه. په ۲۰۰۱ ز کال کې د (بن) هوکړه لیک هم د قانونیت د شرایطو د رامنځته کولو لپاره ګټور نه وو (Afsah 2011: 157) ځکه د هوکړه لیک په پایله کې د جګړې د پاتې شونو په انفرادي ویش تمامه شوه نه د قدرت په بنسټیز ویش. د طالبانو له راپرځېدو څخه وروسته د نوي دولت په دوه لومړیو اساسي دورو کې کلیدي وزارتونه او د دولت مهمې څوکۍ هغو جګړه مارو ته ورکړل شوې چې د طالبانو پر ضد وو او د کابل په ورانولو، د سلګونو کسانو په وژلو، جنسي تیریو، او پراخه کچه د شتمنیو په لوټ او تالان کې ښکیل وو (Afghanistan Justice Project 2005; Grossman 2006; Nordland 2012). وروسته په دې وزارتونو کې - په ځانګړي توګه د کورنیو چارو وزارت، دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او د ملي امنیت ریاست کې ـ په جګړه مارو ډلو ټپلو پورې تړلي وګړي پر دندو وګومارل شول چې په دې توګه نوموړو ډلو نه یوازې له واک څخه ناوړه ګټه اخیسته بلکې په دولتي ادارو کې یې د اداري فساد او خپلوۍ پالنې شبکې په بنسټیز ډول سره رامنځته کړې (Grossman 2009). تر ټولو مهمه لا دا ده چې له طالبانو څخه وروسته نوموړو شبکو هم د ژغورونکي نظام (لیوایتان) او هم د نړیوالې ټولنې مشروعیت، چې د بشري حقونو د پرمختګ او وګړوالۍ لپاره هڅې کولې، ډېر زیانمن کړ.

افغان دولت پر دې ونه توانید چې د امنیت او عدالت په تامین، د فساد پر وړاندې مبارزه، جنګي جرایمو او بشریت ضد جرایمو ته رسیدګي او د مخدره توکو د قاچاق د مخنیوي لپاره په بشپړې خپلواکۍ سره خپل ځواک وکاروي. هغه طالب جنګیالی چې په ۲۰۰۱ ز کال کې یا تبنتیدلی او یا هم تسلیم شوی و، د روغې جوړې او د کرزي واکمنۍ منلو ته چمتو و؛ په دې ډله کې د طالبانو له عادي جنګیالو څخه نیولې تر لوړ پوري نظامي قومندانو او د طالبانو د وخت د دفاع وزیر هم شامل و (Afghan 2011: 308-9; ICG 2011: 6; Ruttig 2011: 6). که څه هم کرزي په ورته ډول په

۲۰۰۱ز او ۲۰۰۲ز کلونو کې غوښتل چې له طالبانو سره د روغې جوړې کړنلاره پیل کړي خو امریکایي مشرانو د کرزي د دې لومړیتوب پر وړاندې په بشپړ ډول بې پروا پاتې شول. تر ټولو بده لا دا وه چې د امریکا متحده ایالات د شمالي ټلوالې له هغو غړو سره ډېره خواخوږي/ ملګرتیا لرله چا چې د طالبانو د هغو غړو پر وژلو، بندي کولو او ځورولو کې لاس درلود چې د ولسمشر کرزي او یا هم ولایتي شورئ د مشرانو په هڅه د سولې له کړنلارې سره د یوځای کیدو لپاره چمتو شوي وو (ICG 2011:11). مایکل سمپل (Michael Semple 2011:2) په ورته توګه وایي چې په ۲۰۰۲ ز کال کې ډېر طالب مشرانو له نوې ادارې سره د وفادارۍ کولو د ژمنې هڅه وکړه خو په غبرګون کې یې هغوی تعقیب او مجازات شول. ډېر هغه کسان چې د سولې په کړنلاره کې اغیزناک ثابتیدلای شوای د امریکا له خوا د (ګوانتانامو) زندان ته ولیږل شول. طالبان له دې ترخې تجربې څخه دې نتیجې ته ورسیدل چې د پخلاینې له پروسې سره یو ځای کیدل مجازات دي نه پخلاینه. نو هماغه وو چې د طالبانو پاتې جنګیالي بیرته سره یو ځای شول تر څو له کرزي او بهرنیو ځواکونو سره د جګړې لپاره خپل وسله وال مخالفت بیا جوړ کړي (Strick van Linschoten and Kuehn 2012).

## له ۲۰۰۱ ز کال څخه وروسته د عدلي نظام جرمي کیدنه (Criminalization)

" افغان حکومت یو وحشي او جنایتکاره بنسټ دی چې د څو کسانو له خوا اداره کیږي "(د پارلمان پخواني غړي وینا چې په Nixon 2011:11 کې رانقل شوې)

> "د افغانستان زندانونه له هغو خلکو څخه ډک دي چې جرم یې نه دی ترسره کړی؛ خو د ا چې د رشوت ورکولو توان نه لري نو په زندان کې پاتې دي؛ دا په داسې حال کې ده چې خطرناکه مجرمین زندان ته نه لیږل کیږي ځکه ډېر رشوت ورکوي. د افغانانو له نیمایي څخه ډېره برخه په خپلو سیمو کې ځان خوندي نه احساسوي (Asia Foundation 2009)، خو د طالبانو تر واک لاندې سیمو کې د اوسېدونکو خلکو ډېره برخه ځانونه خوندي احساسوي او د عدالت د تامین په اړه هیله مند دي" (Mason 2011:1)

په افغانستان کې د قانون حاکمیت: له لاسه وتلی حالت (The Rule of Law in Afghanistan: Missing in Inaction) نومي کتاب کې (چې د ماسن Mason پورتنی نقل قول هم ترې اخیستل شوی) راغلي چې طالبان د دولت په پرتله په ګټوره توګه خلکو ته د قانون د حاکمیت خدمتونه برابروي. د کتاب د پرانیستې په غونډه کې ډیوډ کیلکلن (David Kilcullen) طالبان "د قانون د حاکمیت وسله وال خوځښت" په نوم یاده کړل. نوموړي د کتاب په هغه څپرکي کې چې ده لیکلی

(Kilcullen 2011) د طالبانو شرعي محکمې د دولت د فاسدو محکمو په پرتله غوره ګڼلي ځکه د نوموړې په اند د طالبانو شرعي محکمې شخړې په اغیزناکه توګه په په قاطع پریکړو سره هوارووي او تطبیقوي (که څه هم کله ناکله ظالمانه وي). د هغوی پریکړې د سیمې خلکو لپاره د اهمیت وړ وي د بیلګې په ډول د ځمکې پر سر شخړې او یا هم نورې شخړې. دغه شرعي محکمې له یو قاضي او دوو عالمانو څخه جوړې شوي دي او د طالبانو د اداري نظام یوه برخه ده (Ruttig 2010:17). کیلکلن په همدې توګه دا تشریح کوي چې طالبان څرنګه د شکایتونو د څیړنې لپاره محتسب ټاکي (همدا ډول وګورئ Peters 2011: 108-9) تر څو خلک وکولای شي هغوی ته د طالبانو ځای ناستی(نارسمي[۱۰]) دولتي خدماتو په اړه، د محکمې په ګډون، خپل شکایتونو وړاندې کړي. د پیترز (Peters 2011:108-9) موندنې ښیي چې که چېرې د طالبانو کوم غړی په ناڅاپي ډول ډېره شتمني تر لاسه کړي نو پلټنه ترې پیل کیږي او که چیرې په رشوت او یا اختطاف تورن شي نو په اغلب ګومان یا به خپله دنده له لاسه ورکړي او یا هم جسمي مجازات شي. د طالبانو د عدلي سیستم په هکله وروستی ساحوي څیړنه ـ ځای ناستی عدالت: طالبان څرنګه خپل قضایي نظام پرمخ وړي؟- هم دا موندنې تاییدوي (Giustozzi et al. 2012). د طالبانو په اړه د آیساف د ۲۰۱۲ز کال د جنوری میاشتې د ۶مې نیټې راپور د نیویارک ټایمز (www.nytimes.com/inter-active/world/asia/23atwar-taliban-report-docviewer:html?emc=etal) له خوا افشاء شو. د دغه راپور، چې قسماً له ۴۰۰۰ طالبانو څخه د پوښتنو ګروېږنو (پلټنو) پر بنسټ ترتیب شوی، موندنې ښیي چې د طالبانو د شکایتونو د څیړنې مامور(محتسب) په خپلو چارو او د طالبانو د قوانینو د تطبیق په برخه کې له خپلواکۍ څخه برخمن دی او خلک هم د نوموړي خپلواکۍ ته احترام لري (۳ څخه تر ۶ پاڼې پورې).

کیلکلن (Kilcullen 2011) د طالبانو د قضایي خدمتونو او په عراق کې د القاعده د ډارونکې او غیر عادلانه قضایي خدمتونو له پرتله کولو څخه وروسته يې د طالبانو قضایي خدمتونه هغوی څخه متفاوت ګڼلي: په عراق کې خلک د القاعدې له قضایي خدمتونو څخه تر هغې کچې ناراضه و چې پر وړاندې يې پاڅون وکړه او له منځه يې یوړل. له بله پلوه د کېلکلن موندنې ښیې چې په لبنان کې د حزب الله ډلې د خیر ښیګڼې کارونه او د ترمیمي (رغنیز) عدالت خدمتونه[۱۱] په هر اړخیزه توګه

۱۰. د نارسمي دولت shadow state څخه مراد هغه دولت دی چې خپلې چارې په پټه توګه سرته رسوي یا هم کولای شو چې تش په نامه دولت یې وبولو ځکه په حقیقت کې دا دولت په رسمي ډول واکمن نه وي.

۱۱. په اصلي لیکنه کې د ترمیمی (رغنیز) عدالت Restorative justice اصطلاح نده کارول شوی بلکه د reintegrative justice اصطلاح کارول شوی چې په حقیقت کې د رغنیز عدالت یوه تیوری (نظریه) یا یوه نوعه ده او موخه یې داده چې د جرم څخه وروسته باید ټولنیز اړیکې بیرته ورغول شي او مجرم

د طالبانو د خدمتونو په پرتله ډېر غوره او اغیزناک دي. په پای کې کیلکلن لوستونکو ته د مختلفو وختونو او سیمو حالات بیانوي او د لرغوني یونان د لیکوال هیروډیټس (Herodotus 1945) له لیکنو څخه دا په ډاګه کوي چې د د انارشۍ (ګډوډۍ) په وخت کې نظامي قومندانانو وکولای شو چې د با کیفیته قضایي او امنیتي خدماتو په وړاندې کولو سره خپل واړه نظامي مرکزونه هغه سیمو ته پراخه کړي چیرته چې ډار او بې امنیتي خپره وه.

د پورته تجربوي څېړنو له وړاندې کولو څخه موخه دا نه ده چې ګوندې د طالبانو محکمې او یا محتسبین د طالبانو د بې ساري عدالت بیلګې دي، بلکې موخه دا ده چې د افغانستان د دولت د قضایي خدمتونو په پرتله د طالبانو خدمتونه لږ څه قانع (بسیا) کونکې دي. په دویمه لیکنه کې به موږ (لیکوالان) دا په ډاګه کړو چې د طالبانو او د دولت د عدلي نظامونو اصلي سیال جرګه/ شوریٰ ده، خو طالبانو او دولتي چارواکو (او د دوی تر مخه د امریکا د امریکا متحده ایالاتو) د ګډې انګیزې پر بنسټ د جرګې/ شوریٰ د ځپلو هڅه وشوه. خو اوس لپاره خپل پخواني بحث ته دوام ورکوو.

ډېرو افغانانو له موږ سره د مرکو پر مهال د پولیسو له خوا د خلکو د شتمنیو د غلا او شوکو په اړه خپل شکایتونه وړاندې کړي:"طالبان یوې خوا ته پرېږدئ، زموږ تر ټولو لویه ستونزه پولیس دي " (د موټر چلونکي وینا چې په Wilder 2007 کې نقل شوې). بهرنیو امنیتي سلاکارانو هم په مکرر ډول ورته نظر وړاندې کړی د بیلګې په ډول کاناډایی ډګرمن ګیری او براین (Gary O'Brien) د افغان پولیسو په هکله وایي چې " افغان پولیس په خپله د ستونزې یوه برخه ده. دوی خلکو ته امنیت نه برابروي ـ دوی د خلکو د مالونو او شتمنیو غله دي " (Cotter 2007). د امریکا له ټېروتنو څخه یو هم دا وه چې د ۲۰۰۲ز او ۲۰۰۳ز کلونو په اوږدو کې یې د پولیسو ملاتړ ته ډېره کمه پاملرنه لرله، که څه هم تر ۲۰۰۷ ز کال پورې دا مرستې تر سل برابره ډېره شوه (Wilder 2007:20). دا چې د پولیسو او دولت لپاره بنسټ مفسد و؛ نو د یو لوړپوړی سیمه ایز پولیس د موقف تر لاسه کولو لپاره دې یو څوک باید ډېرې غټې پیسې وشیندي؛ ځکه چې (سالم) رقابت او سیالي خو د مفسدو مشرانو د مداخلې له امله له منځه تللې ده.په دې کار سره ډېره شتمني د پولیسو هغه اجرائیوي مشرانو لاسو ته ورغله چې د عامه خلکو د خدمت پر ځای د هغوی د لاس لاندې/ مراقبت او استثمار په هڅه کې وو:

" منځنیو او لوړ پوړو مامورینو په امنیتي ادارو کې د لوړ پوړو څوکیو اخیستلو په موخه په لسګونو یا هم کله کله په سلګونو زره ډالره مصرفوي چې وروسته بیا د رشوت، له مجرمینو او

بیرته خپل عادي ژوند او حالت ته را وګرځي (د ژباړن یادښت)

جنيګيالو سره د مرستې، غير قانوني کارونو او يا هم د پيسو په بدل کې د اختطاف (برمتې) له لارې بيرته پيسې لاس ته راوړي " (ICG 2011:23).

که څه هم د پوليسو په ښه چلند او ګټورو کارونو سترګې نه شي پټيدلی، خو مبصرين پر دې خبره همغږي دي چې د امريکا او د اروپا په ميليونونو دالرو مرستې د پوليسو په نظام کې د عمودي زوراکۍ کلتور رامنځته کړ چې په هغې کې د ټولنيزو پوليسو[۱۲] ظرفيتونه ډېر کمزوري دي (Bayley and Perito 2010; ICG 2007; 2008; Murrary 2007; Wilder 2007).

د پوليسو په اداره کې د مشرانو د فساد او د مليشه سازۍ له امله ټولنيز پوليس له ناکامۍ سره مخ شو. په ۲۰۰۶ز کال کې د نړيوالو په مرسته دافغانستان د کورنيو چارو وزارت د ملي پوليسو په چوکات کې د کومکي پوليسو ادراه رامنځته کړه تر څو د ټولنيز پوليسو توانايي لوړه شي. خو د دې پر ځای چې د نوموړې موخې لاس ته راوړلو لپاره کار وشي، دکومکي پوليسو له کړنلارې څخه د شخصي ملېشو (اربکېانو) د منظم کولو او د هغوی د رسمي کولو لپار کار واخيستل شو (Lefè vre 2010:1). د دې پروسې د ناکامۍ بل لامل دا و چې د جذب شوو سرتيرو د ډېری برخی تعلق له هغو سيمو سره نه وو چې دوی يې د نظم او ساتنې لپاره موظف شوي و (Lefè vre 2010:6). د کومکي پوليسو څانګه په ۲۰۰۸ز کې منحل شوه خو پر ځای يې دوه نوری څانګې، د افغانستان د عامه ساتنې مرامنامه او د ټولنې د ساتنې / محلي دفاع نوښت ادارې تاسيس شوې چې دې ادارو هم د کومکي پوليسو په شان ورته ستونزې درلودې. په حقيقت کې دا ډول مرامنامې نه يوازې د افغانستان ملي پوځ په جلب او جذب منفي اغيزه وکړه بلکې له ملي پوليسو سره موازي ادارې يې رامنځ ته کړې چې له پوليسو سره د همکارو ادارو پر ځای د هغوی سيالې ادارې وګرځيدې. د ملي پوليسو په پرتله کومکي پوليس ډېره کمه روزنه تر لاسه کوي؛ کومکي پوليسو يوازې له ۱۰ ورځو روزنې څخه وروسته د ملي پوليسو په شان (ځانګړی) يونيفورم او له هغوی سره په برابره اندازه معاش اخيست (ICG 2007:13). د افغان کومکي پوليسو پر ځای دوه نوې تاسيس شوې ادارې د امريکا د متحده ايالاتو د نظامي ځواکونو له خوا د عراق د تجربې پر بنسټ رامنځته شوې؛ دغه ځواکونو په ۲۰۰۶ز کال کې په عراق کې د (القاعدی) پر ضد جګړه کې (د عراق ريښتيني ځامن) په نوم د سلو زرو ۱۰۰،۰۰۰ جنګياليو محلي ځواک جوړ کړ. امريکايي ځواکونو په افغانستان کې د اربکيانو دود هم بيرته راژوندی کړ. د اربکيانو اصطلاح هغو رضا کاره ځواکونو لپاره کارېده چې د قبايلي جرګې

۱۲. د ټولنير پوليس Community policing or Community-oriented policing اصطلاح موخه داده چی پوليس د جرايمو د مخنيوي او د ټولنی د همکاری د راجلبولو په موخه بايد د ټولنی سره نږدی او حسنه اړيکي ولري.

له خوا په ځانګړو شرایطو او قبايلي سيمو کې جوړېدل، دا ځواکونه د پيړيو لپاره په قبايلي سيمو کې موجود وو. د امريکا د متحده ايالاتو له خوا جوړې شوې مليشې له اربکيانو سره تو پير لري ځکه چې دا مليشې نه د قبايلي جرګې تر اغيز لاندې دي او نه هم رضاکاره دي. د دې خبرې معنی دا ده چې د معاشونو د ودرېدو په صورت کې به دا مليشې د دولت له مراقبت/ له اغيزې څخه دباندې ووځي او خپلسري به خپله کړي (Ruttig 2010:10). دا مليشې د دې پر ځای چې د ټولنې د ساتنې په موخه رامنځ ته شي د جګړې له يو اړخ سره د نظامي مرستې په موخه رامنځ ته شوې؛ ځکه نو د دې ځواکونو په ايجاد کې د جرګې دا اړين اصل له پامه غورځول شوی چې "شخړې ته د شدت ورکولو پر ځای د هغه د کمښت لپاره هڅه وشي" (Ruttig 2010:10).

که څه هم په ځينو سوله غوښتونکو سيمو کې مليشو خپلې وسلې د دې لپاره دولت ته وسپارلې تر څو ولسواکه پوليس جوړ شي، خو بيا هم دا سيمې له مرستو بې برخې پاتې شوې. د دې سيمو د مشرانو يوه ګيله دا وه چې د امريکا مرستې د هغو جرمي ډلو مشرانو ته رسيږي چې تل يې دولت ته د وسلو له سپارلو ډډه کړې. دا کار په حقيقت کې نيغ په نيغه د دولت جرمي کولو ته د لارې هوارلو په معنی دی:

> "دولت د سوله غوښتونکو قومي مشرانو پر ځای مجرمو جهادي مشرانو ته د امتيازاتو په ورکولو مصروفه دی. د دولت دې کار ځينو ته دا انګيزه ورکړې چې د پيسو او دندې لاس ته راوړلو اسانه لاره دا ده چې د دولت پر ضد وسله پورته کړي "(Lefè vre 2010:22).

د افغانستان په عدلي نظام او د دولت په نورو استازو کې د بنسټيز شوې اداري فساد شتون د دې لامل ګرځېدلی چې دولتي کارکوونکي په اسانۍ سره د دولت بوديجې ته په نامشروع ډول لاسرسی ولري او ترې ناوړه ګټه واخلي. اداري فساد کومه نوې ستونزه نه ده. د ډاکټر نجيب‌الله د واکمنۍ په وخت کې (چې په ۱۹۹۲ ز کال د مجاهدينو په لاسونو يې سقوط وکړ) د افغانستان لپاره د شوروي اتحاد له ۸۵ څخه تر ۹۲ سلنه مرستې د حکومتي بېروکراتانو (کارکوونکو) په لاسونو کې ولوېدې (Barfield 2010:248). د شفافيت د نړيوال سازمان له خوا د اداري فساد دانډېکس جدول کې د افغانستان ځای په ډېرې چټکۍ ښکته شو. افغانستان چې د ۲۰۰۵ز کال په جدول کې ۱۱۷ ځای درلود د ۲۰۱۱ز کال په جدول کې په ۱۸۰ مه شمېره کې راغی، چې په دې جدول کې يوازې شمالي کوريا او سوماليه له افغانستان څخه وروسته وو (همدا ډول وګورئ Hartmann 2011:75). د ټولو شنونکو په آند اداري فساد د افغانستان لويه ستونزه ده (-Gardizi et al.2010; Maley 2010:14 15 )؛ د ملګرو ملتونو د يوې نظر پوښتنې د موندنو پر بنسټ افغانانو په ۲۰۰۹ ز کال کې د کورنيو

تولیداتو له ۲۳ سلنې سره برابره اندازه رشوت ورکړی (UNODC 2010:25). د طالبانو د محکمو د بریا یو لامل دا دی چې د دولتي محکمو پر خلاف د طالبانو په محکمو کې رشوت (که څه هم ډېر وي) د محکمې پر پرېکړه کوم اغیز نه لري (Ledwidege 2009:7). کلاوډ (Claude 2010) د نظر پوښتنې د سندونو له مطالعې څخه وروسته هم ورته پایلې ته رسیدلی. لیډویج (Ledwidege) د هغه کس کیسه کوي چې د قتل (وژنې) په تور تورن شوی و خو د رشوت په ورکولو سره یې وکړای شول چې دوسیه تر پرانیستل کیدو سمدستي وروسته بیرته وترې او یوازې د ۶ میاشتو په بند محکوم شو. له نوموړې  مودې څخه وروسته کله چې نوموړی له بنده راووت نو طالبانو د دې لپاره چې نور هم د خلکو ملاتړ خپل او زړونه لاس ته راوړي نوموړې دوسیه یې خپلې محکمې ته حواله کړه. محکمې د تورن ته د جزا ورکولو یا بښولو واک د مقتول کورنۍ ته ورکړ او قاتل یې هغوی ته ورسپاره چې بیا د مقتول د کورنۍ له خوا ووژل شو. خلک په دې اند دي چې د ملکیت په سر شخړو کې د طالبانو محکمې (د دولت د محکمو په پرتله) په ښه توګه د خلکو د حقوقو ساتنه کوي ځکه په هغه صورت کې چې د محکمې پرېکړه د کمزوري اړخ په ګټه او د ځواکمن اړخ په تاوان وي نو نوموړې محکمې په سمه او اغېزناکه توګه د پرېکړې د تطبیق توان لري. د لدبري او کپاو (Ladbury and CPAU 2009 ) د موندنو پر بنسټ:

" د طالبانو په اړه د خلکو عمومي نظر دا و چې په حقیقت کې طالبان پر دې توانیدلي چې د عدلي/قضایي خدمتونو په وړاندې کولو سره د خلکو زړونه وګټي، ځکه د خلکو په باور د طالبانو عدلي/ قضایي خدمتونه په مناسبه توګه عادلانه او اغېزناک دي - د طالبانو د عدلي نظام مناسب والی او اغېزمنتیا لږ تر لږه د دولت د عدلي نظام په پرتله ډېره ده ځکه د دولت عدلي نظام پورته یوه ځانګړتیا هم نه لري. د طالبانو په عدلي/ قضایي نظام کې د نامناسبه او غیر عادلانه جزاګانو د شتون په هکله خلکو کوم منفي نظر وړاندې نکړ. په کندهار کې ښځینه ګډون کونکو د طالبانو او د عدالت په هکله د نورو نظر تایید کړ او ورته نظر یې درلود: ولسي وګړي ځکه د طالبانو ملاتړ کوي چې طالبان د دولت د رسمي عدلي سیستم او محکمو په پرتله ښه عدالت تامینوي "(Ladbury and CPAU 2009:25 ).

د اوسني وخت لویه ستونزه میراثي دوله حکومتي سیستم دی چې حامد کرزي شکل ورکړې دي. دا خبره په دې معنی نه ده چې ګنې شخصاً حامد کرزی د افغانستان یو له ډېرو فاسدو وګړو څخه دی. نوموړی په حقیقت کې نرم طبیعته انسان دی او داسې ښکاري چې هغه د یو خپلواک، ولسواک او نیکمرغه افغانستان لپاره ډېرې هیلې لري. په ورته توګه موخه مو دا هم نه ده چې ووایو

چې هغه فاسد یا ظالم واکمن دی، بلکې اصلي خبره دا ده چې هغه یو کمزوری مشر دی چې په یو غښتلي مرکزي ریاستي نظام کې د ډېر واک خاوند دې. کرزی له واک څخه د شخصي ملاتړ په موخه هغه وخت ګټه اخلي کله چې د کوم ځواکمن کس له خوا تهدید او یا هم ترې د نغدي امتیازاتو غوښتنه وشي. په ولسي وګړو کې د هغه حکومت د" مصلحتي حکومت " په نامه یادېږي ـ حکومت چې بنسټ یې په مصلحت او سازش ایښودل شوی دې او په کې سیالې ډلې او وګړي د شخصي او ګوندي ګټو د خوندیتوب لپاره کار کوي. ښکاري چې حامد کرزي د دولت په سیاسي مرکز کې د فاسدو وګړو یوې ورې کړې ته د دې فرصت ورکړی و چې د شتمنۍ د لاس ته راوړلو او د واک ټینګښت په موخه د ګوندي او سیاسي امتیازاتو نظام نور هم بنسټیز او ټینګ کړي. د تعجب ځای خو لا دا ده چې د دې کړیو ځینې کسان هغه شیک پوشه، سیکولار او غربي تعلیم یافته سلاکاران دي چې د ولسواکۍ او بشري حقونو دفاع لپاره نارې وهي؛ خو په حقیقت کې همدا کسان د ګوندي ګټو په ساتنه، خپلوي پالنه او اداري فساد کې ډېر زیات ښکیل دي.

په قضائیه قوه کې اداري فساد یو ستره ننګونه ده. افغانستان شاید د نړۍ یوازینی هیواد وي چې قاضي ته له رشوت ورکولو پرته په ښاري سیمو کې ځمکه نه شي پیرودل کیدای. که څه هم افغانستان به د نړۍ یوازینی هیواد نه وي خو په یقیني ډول په نړۍ کې یو له هغو څو هیوادونو څخه دی چیرته چې ملي نظر پوښتنې دا ښیي چې ډېره شونې ده چې ولسي وګړي د ورځنیو چارو د سرته رسولو لپاره رشوت ورکړي. دپولیسو ، اردو او ګمرک مامورینو په پرتله د قضایه قوې په ادارو کې مامورین تر ډېره بریده په رشوت کې ښکیل دی وګورئ (Asia Foundation Survey: 2008, 2009 and 2011)، که څه هم د ۲۰۰۶ز او ۲۰۱۰ز کلونو نظر پوښتنو ګډوډې موندنې لرلې. وګورئ (Asia Foundation 2011:102) په ورته ډول، ولسي وګړي پر دې آند دي چې د اجرائیه او مقننه قوې د غړو په پرتله د قضائیه قوې غړي د ولس د ګټو پر ځای خپلو ګټو لپاره کار کوي (Asia Foundation 2010:101; 2011:102). خو د نظر پوښتنې د موندنو مثبت اړخ دا دی چې د قضایه قوې په اړه د خلکو په نظر کې لږه اندازه مثبت بدلون راغلی دی. تر دې هم مثبته خبره دا ده چې له ۲۰۰۹ز کال څخه وروسته افغانستان د نړۍ یوازینی هیواد و چې د فساد په تور یې سلګونه قاضیان مجازات او یا هم له دندې ګوښه کړل. په ۲۰۰۹ز کال کې په یو اړخیزه توګه دا کار لومړی د سترې محکمې په نوښت په خپله اداره کې پیل شو:

"[په ۲۰۰۹ ز کال کې] ۹۲ قاضیان وروسته له هغې ونیول شول چې د قضایي پلټونکو د

غولونکو عملیاتو[۱۳] په پایله کې د پېتو کمرو له لارې په رشوت اخیستنه ولیدل شول. دا کار په قضایي برخه کې د نړیوالو کارکونکو له ملاتړ او د هغوی له خبرولو پرته تر سره شو. په حقیقت کې د نړیوالو کارکونکو یوه برخه په دې کار ناراضه وو ځکه د دوی په آند قاضیان تیر ایستل شوي او د مرافعه غوښتنې حق نه دی ورکړل شوی. که څه هم داسې ښکارېده چې د قاضیانو نیول، له دندې ګوښه کول او توقیفول د قاضیانو په چال چلند یو څه اغیزناک و، خو په پای کې دا پروسه وروسته له هغه چې عملیاتي کارکونکو ته د مرګ ګواښونه وشول، لومړی یو څه کمزورې او بیا په بشپړ ډول په ټپه ودرېده. "

د امریکا له نظامي مامورینو سره (چې د آیساف د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د پروګرام مسولین وو) د مرکو پر بنسټ زمونږ موندنې د کارتر او کلارک (Carter and Clark) له موندنو سره ډېر ورته والی لري. کارتر او کلارک (Carter and Clark) په ۲۰۰۹ ز او ۲۰۱۰ز کلونو کې د امریکا د فدارل د تحقیقاتو اداري (FBI) د مامورینو او له خورا وخیم جرایمو سره د مبارزې د ځانګړو ځواکونو (Serious Crimes Task Force) د لوړرتبه مامورینو په فنی مرستو سره پر دې وتوانیدل چې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ستر خنډونه په نښه کړي. له دې ابتدایي لاسته راوړنو څخه وروسته د خورا وخیم جرایمو پر ضد د مبارزې ځانګړو ځواکونو د غربي هیوادونو په شان، په افغانستان کې د اسانو اهدافو (ټیټ رتبه قاضیانو) د نښه کولو پر ځای د سختو اهدافو (لوړ پورو چارواکو) د موندلو په تکل کې شول. د دې پروسې لومړی قضیه (چې په هغه کې نسبتًا ډېر لوړ رتبه چارواکي ښکیل وو) وروسته له هغه د ولسمشر کرزي په امر وتړل شوه چې نوموړو چارواکو له ولسمشر کرزي سره ټیلفوني اړیکه ټینګه کړه. په پای کې، په سیاسي ډول:

" د خورا وخیم جرایمو پر ضد د مبارزې ځواکونه بې واکه، بې اعتباره او بې زوره ځواکونه دي د داسې یو لوړ رتبه چارواکي د محکوم کیدو کومه بیلګه نه لیدل کیږي چې له سیاسي کورنۍ سره اړیکه و لري. د دا ډول (فساد) قضیې په لویه څارنوالۍ کې په بریالیتوب سره نه څیړل کیږي. لوی څارنوال او د اداري فساد ضد جرګه مشر له ولمسشر کرزي سره نږدې اړیکي لري. هر هغه کس چې د لوړ رتبه چارواکو پر ضد د فساد د دوسیو د څیړلو هڅه وکړي خپل ځان او خپلې کورنۍ ته ستونزه پیدا کوي "(August 2011 interview, US military, Kabul).

د فیلکنس او روبن (Filkins and Rubin2010) د، راپور له مخې د لویې څارنوالۍ پخوانی

---

۱۳. غولونکی عملیات Sting operation هغه عملیاتو ته ویل کیږي چې د قانون تطبیق کونکی کی د قانون ماتونکو او مجرمینو د نیولو په موخه په پټ ډول په لاره اچول کیږي (د ژباړن یادښت).

مرستيال، فضل احمد فقيريار، وروسته له هغه له دندې ګوښه شو چې د مکررو غوښتنو پر بنسټ د حکومت د لوړ رتبه چارواکو د فساد دوسيو د ترلو څخه يې انکار وکړ. د فيلکنس او روبن (Filkins and Rubin) د راپور پر بنسټ، په دغه لست کې د کرزي د حکومت ۲۵ لوړرتبه چارواکو نومونه هم شامل وو؛ د دې چارواکو له ډلې څخه يو هم د حج او او قافو پخوانی وزير محمد صديق چکري او بل د ملي امنيت برحاله سلاکار رنګين سپنتا وو.

د لويې څارنوالی ګوښه شوی (يا د افغان حکومت په وينا متقاعد) پخوانی مرستيال وروسته د کابل د محکمې له خوا په دې تور محکوم شو چې نه يوازې په دولت يې دا تور لګولی چې نوموړی يې له وخت څخه دمخه تقاعد کېدو ته مجبور کړی، بلکې په دروغو سره يې په رنګين سپنتا د فساد تور لګولی وو (Rubin 2010). د افغانستان د قضايي سيستم د بې عدالتۍ پر خلاف د اعتراض پر مهال فقير يار وويل چې دی به د دی محکمې (چې فوق العاده تبليغاتی ارخ يې درلود) د پرېکړې پر خلاف لوړې محمکې نه د مرافعې غوښتنه وکړي. خو د افغانستان د محکمو اوسني حالت ته په کتو سره ډېر کم خلک دا هيله لري چې کمزوری به له پياوړي څخه په محکمه کې دعوه وګټي. په حقيقت کې بي بي سي فارسي/ پښتو ته "د افغانستان د اسلامي وګرواکي وګرواک رئيس ته سرخلاصي ليک" په نوم ليږل شوي ليک کې ډاکټر سپنتا په خپله د افغانستان عدلي نظام د "عدالت ضد نظام" ګڼلی او ليکلی يې و چې" ما نه غوښته چې د دولت د دې تنظيم (قضايي سيستم) څخه شکايت وکړم، خو هره ورځ د دې هيواد په سلګونو ولسي وګړي د دې تنظيم له خوا تورو تيارو ته ليږل کيږي او له ازآدۍ څخه محروميږي " (www.bbc.co.uk/pashto/ news/ story/2009/12/091219_spant-letter-2-karzai.shtml). ډېره شونې ده چې ښاغلی فقير يار هم له دې عدلي نظام څخه زيانمن وي ځکه دا نظام د سياسي او اقتصادي ځواکمنو وګړو د ګټو د خونديتوب لپاره کار کوي.

کله چې ولسمشر په کال کې له ۸۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ پورې د ښښنې فرمانونو صادروي ـ او د دې فرمانونو ډېره برخه د با نفوذه کورنيو د وګړو لپاره کارول کيږي (Carter and Clark 2010:33) ـ نو د قضايي چارو مامورين نه يوازې د ځان د خونديتوب په اړه انديښمن کيږي بلکې په دې هم باوري کيږي چې د فساد پر وړاندې د دوی هڅې کومه ګټه نه لري، ځکه د دوی هڅې د ولسمشر د ښښنې د فرمان پر بنسټ بې له کومې لاسته راوړنې څخه ختميږي. په دې توګه په اداري فساد تورنو کسانو د خونديتوب او د بشريت ضد جرايمو تورنو کسانو (هغه کسان چې له پياوړو کورنيو څخه وي او د پخوانيو جګړه مارو خو اوسني سياستوالو سره ټينګې اړيکې لري) خونديتوب سره يو برابر دی. د

کمونستي نظام د امنیتي اداري (اکسا) پخوانی مشر د محکمې له خوا په اعدام محکومیدای شي خو همدا محکمه بیا نه شي کولای چې د اوسني نظام د نخبه (واکمنې) ډلې غړي محاکمه کړي (Hartmann 2011:186). د آیساف هغه مامورین چې مخکې ترې یادونه وشوه د خپلې مرکې پر مهال وویل چې په ۲۰۰۹ز او ۲۰۱۰ز کلونو کې د ټیټ رتبه قضایي مامورینو پر خلاف د فساد ضد هڅې اغېزناکې وې. د آیساف د مامورینو په وینا، د ۱۰،۰۰۰ لسو زره افغانانو څخه د QSAR درې میاشتنۍ نظر پوښتنې موندنې ښیي چې دولتي محکمو ته د ښځرو د هوارولو په موخه د هغو خلکو مراجعه کې تدریجي زیاتوالی راغلی چې پخوا یې د طالبانو محکمې د دولت د محکمو په پرتله غوره ګڼلې. د آیساف مامورینو هڅه وکړه تر څو دغه معلومات مونږ (لیکوالانو) سره شریک کړي خو پر دې کار بریالي نه شول.

## مخدره مواد او د عدلي نظام جرمي کول[۱۴]

له طالبانو څخه وروسته په افغانستان کې د غیرقانوني مخدره توکو تولید او قاچاق د عدلي نظام له جرمي کولو سره ډېر تړلی او په دې توګه د اداري فساد یو اړین لامل ګڼل کیږي. په روانه جګړه کې د افغانستان د ملي اردو د نه بریالیتوب یو دلیل اداري فساد اوعدلي نظام جرمي کیدل دی. ځینې کسان په ملي اردو کې دنده یوازې په مخدره موادو د اعتیاد له کبله اخلي، ځکه په دې توګه دوی په اسانه او وړیا ډول مخدره توکي تر لاسه کوي. افغانستان څو پرله پسې کلونه د نړۍ د تریاکو کابو ۹۰ سلنه برخه تولیدوله، په وروستیو کې افغانستان په نړۍ کې د چرسو تر ټولو لوی تولیدونکي هیواد په توګه وپیژندل شو (UNODC 2010:7). له شوروي اتحاد سره د مجاهدینو د اقتصادي جګړې پر مهال د ISI او CIA په محاسبه اي/ استدلالي مرسته په افغانستان کې د تریاکو سوداګري، د مخدره توکو د پیسو وینځل او د وسلو او مخدره توکو قاچاق پیل شو (Maass 2011:7). په قوي احتمال سره د ISI ځینې غړي هم د مخدره توکو په قاچاق کې ښکیل وو (Coll 1991; Rubin 2002:196-9).

طالبانو د غربي نړۍ د فشارونو د کمولو په موخه پر دې وتواندل چې په ۲۰۰۰ز کال کې د مخدره توکو تولید په ډېره لویه کچه را ټیټه کړي: په ۲۰۰۱ز کال کې د مخدره توکو تولید کابو ۹۰ سلنه راکم شو. په ورته توګه د ۲۰۰۸ز کال څخه تر ۲۰۱۰ز کال پورې دمخدره توکو تولید په مناسبه کچه را ټیټ شوی و، خو په ۲۰۱۱ز کال کې تولید بیرته لوړ شو او شونې ده چې په ۲۰۱۲ ز کال کې

۱۴. د جرمی کول یا criminalization اصطلاح په کریمنولوجی کی هغه کړنلاری ته ویل کیږي چی په هغی کی عادي چاری په جرمی چارو او عادي وګړي په مجرمینو بدلیږي د بیلګی په ډول یو شمیر هغه کارونه چی پخوا جرم نه وو د نوی قانون په اساس جرم وګڼل شي په دې توګه د عدلي او قضایی نظام مامورین هر څه ته د جرم او هر کس ته د مجرم په نظر ګوري (د ژباړن یادښت)

(د رسمي احصايې تر خپرېدو پورې) د توليد کچه نوره هم لوړه شي. نومورې دوه بېلګې په تيرو درېو لسيزو کې د مخدره توکو د توليد د موقتي کميدو يوازينۍ دوه بيلګې دي. د اوسنۍ جګړې دواړه خواوې ـ له يوې خوا طالبان او له بلې خوا د شمال تړلوالي ځينې جګړه مار او د کرزي ځينې نږدې ملګري او د کورنۍ غړي - د مخدره توکو له قاچاق څخه په پرله پسې ډول ګټه اخلي. دا سمه ده چې طالبان د جګړې د پرله پسې ساتنې لپاره د مخدره توکو په کښت او توليد ماليه راټولوي خو د طالبانو جګړې ته د مخدره توکو د جګړې[15] نوم ورکول به لږه مبالغه وي (Peters 2009; 2011:101)؛ ځکه دا خبره لا هم د اختلاف وړ خبره ده چې طالبان د جګړې ډېره بوديجه له کومه ځايه او څنګه لاس ته راوړي (Hafvenstein 2011). دا به هم لږه مبالغه وي ، خو ډېره لږه مبالغه، چې افغانستان د مخدره توکو دولت وګڼو. جانتن ګوډهنډ (Jonathan Goodhand 2009) د موندنو پايله داسې بيانوي چې د افغانستان د کورنيو چارو وزارت په حقيقت کې "د ترياکو وزارت" دی ځکه دا وزارت د مخدره توکو د توليد او قاچاق په سيمو کې کليدي پوستونه لري (Goodhand 2009:20). د کورنيو چارو وزارت په ورته توګه د افغانستان عدلي نظام خورا پياوړې تنظيم (پوليس) هم تر لاس لاندې نيسي. د افغانستان د عدلي نظام په نادره توګه د يو نظام په توګه کار کوي (Johnson et al. 2003; Wardak 2004). د يوه مرکه ورکونکي له آنده د افغانستان عدلي نظام مشخصًا د فساد د پاره د نظام په توګه کار کوي.

د نورو بيوزلو هيوادونو د جګړې په شان، په افغانستان کې هم د جګړې ټينګښت سوداګري ګرځيدلې (July 2011 interview, Provincial Peace Council leader ). د جګړې د دوام يو لامل هم د مخدره توکو سوداګري ده ځکه د جګړې د ټينګښت په صورت کې هغه کسان چې له مخدره توکو څخه ګټه پورته ،کوي کولای شي خپله سوداګري پرمخ يوسي. دا خبره تر لوړې کچې پورې آن د ISI په لوړ پوړو کارکوونکو پوری هم صدق کوي چې د پيسو اصلي ګټه همدوی اخلي؛ دا پيسې همدا ډول د مختلفو او ډېرو مختلفو سرچينو څخه راځي لکه (د تر هګرۍ د ځپلو په موخه) د امريکا له نظامي مرستو څخه نيولې د جهاد د ملاتړ لپاره د سعودي عربستان، عربي متحده اماراتو او غربي هيوادونو د شتمنو تر مرستو پورې رسيږي. بې له شکه د نړيوالو مجرمينو منظمه شبکه له افغانستان څخه اروپا ته د مخدره توکو په قاچاق کې ډېر زياته ښکېل ده ځکه د مخدره توکو د سوداګرۍ کابو ۸۰ سلنه ګټه يوازې همدغه بهرنۍ شبکې اخلي. د ښکيلو خواوو د نومړو ګټو او د

۱۵. د مخدره توکو جګړه narco-insurgency هغه جګړې ته ويل کيږي چې د مخدره توکو د توليد، قاچاق او دهغې د پاينښت لپاره ترسره کيږي.

اوږدې جګړې له امله د سولې هڅې له ستونزو او ننګونو سره مخ دي ـ دا موضوع په راتلونکې مبحث کې څېړل کيږي.

## د جګړې جرمي کول

په ۲۰۰۱ز کال کې د بريتانيې لومړي وزير ټوني بلئير (Tony Blair) په افغانستان کې خپله مداخله داسې توجيه کړه چې له افغانستان څخه بهرنيو هيوادونو ته د مخدره توکو د قاچاق د مخنيوي لپاره په افغانستان کې مداخله اړينه ده. يوه لسيزه وروسته، نن (ناټو) پر دې خبره اعتراف کوي چې په افغانستان کې د سولې راوستو لپاره دوی" د رشوت په بدل کې سوله" او "د مخدره توکو په بدل کې سوله " تګلاره خپله کړې وه چې له مخې يې له افغانستان څخه نورې نړۍ ته د مخدره توکو قاچاق ته اجازه ورکول شوې وه. د (ناټو) دا تګلاره وروسته نور هم بدتره شوه ځکه په اوله کې يې يوازې په اداري فساد، مخدره توکو قاچاق او د جګړه مارانو پر جنګي جرايمو سترګې پټې کړې وې؛ خو وروسته ، د (بش) د ادراې پر مهال، د "ترهګرۍ پر ضد جګړه" کې "د شکنجې په بدل کې سوله" تګلاره هم خپله کړه. د (ګوانتانامو) په زندان او د (بګرام) په بدنامه زندان کې د شکمنو جنګيالو توقيفول او شکنجه، د توقيفيانو ناقانونه بهر ته ليږدول، شپني عمليات او د CIA د بې پيلوټه الوتکو په بريدونو کې په پرله پسې ډول د ولسي وګړو وژنې په مستند ډول موجودې دي (BBC 2009; Centre for Constitutional Rights 2006; Human Rights Council 2011; The Guardian 2011; UNAMA 2011). د (ناټو) له خوا له محکمې پرته وژنې دومره ډېرې شوې چې د شکمنو کسانو د نيولو او محاکمه کولو ضرورت نه پيښيده. د آيساف هغو مامورينو چې مونږ ورسره مرکه کړې، د دې کار يو لامل د قاضيانو ډار او د رشوت موجوديت ښيي يعنې له يوې خوا قاضيان له دې ډارېدل چې طالبان د اوږدې مودې په حبس محکوم کړي او له بلې خوا قاضيانو له تورنو طالبانو څخه رشوت اخيسته نو په دې بنسټ آيا د طالب جنګياليو نيول او محکمې ته سپارل به منطقي وای؟

د (ناټو) له خوا "د جګړې جرمي کولو" طالبانو ته هم "د جهاد د جرمي کولو" توجيه په لاس ورکړه. تر ۲۰۰۲ ز کاله پورې طالبانو په ملکي خلکو ځان وژونکي بريدونه نه دي تر سره کړي او يا لږ تر لږه د دې ډول بريدونو مسولئيت يې په غاړه نه دی اخيستی. له ټيټ پوړو طالبانو څخه نيولې د هغوی تر لوړ پوړو چارواکو او ددوی پخوانې د بهرنيو چارو وزير چې له مونږ سره يې مرکه کړې، تر ملا محمد عمر پورې ټولو په نيويارک د ۲۰۰۱ز کال د سپټامبر د ۱۱ نيټې ځانوژونکي بريدونه وغندل (همدارنګه وګورئ Strick van Linschoten and Kuehn 2020) . له ۲۰۰۲ز کال څخه

را پدېخوا طالبانو د (ناټو) د جنایاتو په غبرګون کې د (القاعده) د تګلارې په پیروۍ د سعودي په تخنیکي مرسته او په پاکستان کې د ISI تر حمایې لاندې د ځانوژنې مرکزونو پر مټ وحشت او ترور ته مخه کړه. له پورته شننو څخه دا فرضیه په لاس راځي " څومره چې جګړه اوږدېدې په هماغه اندازه جګړه نوره هم جرمي کېږي، په ځانګړې ډول هغه وخت چې له پیل نه د جزاګانو څخه د خوندیتوب ګې شمېر بېلګې موجودې وي ". په حقیقت کې دا کومه نوې نظریه نه ده، دا نظریه د (هابز) نظریه ده. ډورک هایم (Durkheim) هم پر همدې آند دی چې په کومو ټولنو کې بې نظمي حاکمه شي، نور نو هلته د قوانیونو او اصولو د وضع کولو لپاره د خلکو خوښې او موافقې ته اهمیت نه ورکول کېږي؛ داسې ټولنې بیا نه یوازې د جګړې د اصلي طراحانو او منظمو وحشي جګړه مارو ډلو ځای وي، بلکې هلته بیا د هر ډول منحوسه او ناوړه ځواکونو د څرګندېدو لپاره زمینه برابره وي. د بېلګې په ډول، په افغانستان کې شخصي غچ ته اوس د جګړییزو وژنو نوم ورکول کیږي او یا هم د وسله والو ډلو د روغې جوړې لپاره کارول کیږي (von Biljert 2009). مونږ خپلې فرضیې ته په دې ډول ادامه ورکوو چې " تروریزم سره مبارزې په هکله د "جنګي مثال/ سرمشق" پر ځای د " عدالت د تطبیق مثال/ سرمشق" کارول حل لار نه ده"؛ د دې پر ځای باید د حل اړین لاره ولټول شي او زموږ په آند هغه د ترمیمي عدالت لاره او له مجازاتو څخه د خوندیتوب کلتور له منځه وړل دي. دا کار په سوله ایز ډول د جرګې او شورې له لارې تر سره کیدای شي چې په افغاني ټولنه او کلتور کې ژورې ریښې لري او د ټولنیز عدالت د بنسټ او جوړښت په توګه په ټولنه کې موجود دی. د عدالت دا دودیزې ادارې او د پرېکړه کولو بنسټونه د دې لیکنې په دویمه برخه کې څېړل شوي دي.

# مأخذونه

*1. Afghan, S. (2011), ' Kandahar after the Fall of the Taliban' , in W. Mason, ed., The Rule of Law in Afghanistan: Missing in Inaction. New York: Cambridge University Press.*

*2. Afghanistan Justice Project (2005), Casting Shadows: War Crimes and Crimes against Humanity 1978-2001, available online at www.afghanistanjusticeproject.org/index.htm.*

*3. Afsah, E. (2011), ' Is Constitutionalism Possible without Governance? International Standards and the Afghan Legal System' , in A. Nollkaemper, ed., International Law in Domestic Courts. Oxford: Oxford University Press.*

*4. Ashouri, M. and Rahmdel, M. (2003), Final Report—Iran, report submitted for the pro- ject Modelling the World Heroin Market: Assessing the Consequences of Change in Afghanistan Production, Tehran, Mimeo.*

*5. Asia Foundation (2009), Afghanistan in 2009: A Survey of the Afghan People. Kabul: The Asia Foundation.*

*6. (2010), Afghanistan in 2010: A Survey of the Afghan People. Kabul: The Asia Foundation.*

*7. (2011), Afghanistan in 2011: A Survey of the Afghan People. Kabul: The Asia Foundation.*

*8. Barfield, T. (2010), Afghanistan: A Cultural and Political History. Princeton, NJ: Princeton University Press.*

*9. Bayley, D. H. and Perito, R. M. (2010), The Police in War: Fighting Insurgency, Terrorism, and Violent Crime. Boulder, CO: Lynne Rienner.*

*10. BBC (2009) ' Ex- Detainees Allege Bagram Abuse' , available online at http://news.bbc.co.uk/1/ hi/world/south_asia/8116046.stm.*

*11. Braithwaite, J., Charlesworth, H. and Soares, A. (2012), Networked Governance of Freedom and Tyranny: Peace in Timor- Leste. Canberra: ANU E Press.*

*12. Braithwaite, J., Cookson, M., Braithwaite, V. and Dunn, L. (2010), Anomie and Violence: Non- Truth and Reconciliation in Indonesian Peacebuilding. Canberra: ANU E Press.*

*13. Carter, S. and Clark, K. (2010), No Shortcut to Stability: Justice, Politics and Insurgency in Afghanistan. London: Chatham House.*

*14. Centre for Constitutional Rights (2006) Report on Torture and Cruel, Inhuman and Degrading Treatment of Prisoners at Guantanamo Bay, Cuba, available online at http:// ccrjustice.org/ files/Report_ReportOnTorture.pdf.*

*15. Claude, A. C. (2010), Afghanistan: Justice and Reconciliation: The Informal Justice System in Afghanistan. Kabul: Civil Military Fusion Center.*

*16. Coll, S. (1991), 'Pakistan's Illicit Economies Affect BCCI: Bank Shaped by Environment of Corruption and Illegal Trade in Weapons, Drugs', The Washington Post, 1 September: A39.*

*17. Cotter, J. (2007), 'Corrupt Cops Slow Afghan Reform', Edmonton Sun, 4 March. Ellickson, R. (1991), Order Without Law: How Neighbors Settle Disputes. Cambridge, MA:Harvard University Press.*

*18. Filkins, D. and Rubin, A. (2010), 'Graft-Fighting Prosecutor Fired in Afghanistan', The New York Times, 29 August, available online at www.nytimes.com/2010/08/29/ world/ asia/29afghan.html.*

*19. Fink, N. C. and El-Said, H. (2011), Transforming Terrorists: Examining International Efforts to Address Violent Extremism. New York: International Peace Institute.*

*20. Gardizi, M., Hussmann, K. and Torabi, Y. (2010), Corrupting the State? Or State-Crafted Corruption. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit.*

*21. Giustozzi, A., Franco, C. and Baczko, A. (2012), Shadow Justice: How Taliban Run Their Judiciary. Kabul: Integrity Watch Afghanistan (IWA).*

*22. Goodhand, J. (2009), 'Bandits, Borderlands, and Opium Wars: Afghan State-Building Viewed from the Margins', Working Paper, Danish Institute for International Studies.*

*23. Grossman, P. (2006), 'Truth, Justice and Stability in Afghanistan', in N. Roht-Arriaza and J. Mariezcurrena, eds, Transitional Justice in the Twenty-First Century, Beyond Truth Versus Justice, 255-77. Cambridge, NY: Cambridge University Press, available online at www. restorativejustice.org/articlesdb/articles/7724.*

*24. (2009), Transitional Justice and DDR: The Case of Afghanistan. New York: Interna-*

*tional Center for Transitional Justice, available online at http://ictj.org/sites/default/files/ICTJ-DDR-Afghanistan-CaseStudy-2009-English.pdf.*

*25. Guardian, The (2011) ' Afghan Civilians Killed by RAF Drone', available online at www. guardian.co.uk/uk/2011/jul/05/afghanistan-raf-drone-civilian-deaths.*

*26. Hafvenstein, J. (2011), 'Afghanistan's Opium Strategy Alternatives: A Moment for Masterful Inactivity?', in W. Mason, ed., The Rule of Law in Afghanistan: Missing in Inaction. New York: Cambridge University Press.*

*27. Hartmann, M. E. (2011), 'Casualties of Myopia', in W. Mason, ed., The Rule of Law in Afghanistan: Missing in Inaction. New York: Cambridge University Press.*

*28. Herodotus (1954), The Histories, translated by A. de Selincourt. Harmondsworth: Penguin Books.*

*29. Hobbes, T. (1651), Leviathan, available online at Project Gutenberg, www.gutenberg.org/ ebooks/3207.*

*30. Human Rights Council (2011) Report of the United Nations High Commissioner for Human Rights on the Situation of Human Rights in Afghanistan and on the Achievements of Technical Assistance in the Field of Human Rights, UN General Assembly, A/HRC/16/67, available online at http://daccess-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/GEN/G11/103/31/PDF/G1110331. pdf?OpenElement.*

*31. International Crisis Group (ICG) (2007), Reforming Afghanistan's Police. Kabul and Brussels: International Crisis Group.*

*32. (2008), Policing in Afghanistan: Still Searching for a Strategy. Kabul and Brussels: International Crisis Group.*

*33. (2010), The Threat from Jamaat-ul Mujahideen Bangladesh. Dhaka and Brussels: International Crisis Group.*

*34. (2011), The Insurgency in Afghanistan's Heartland. Kabul and Brussels: International Crisis Group.*

*35. Johnson, C. W., Maley, W., Thier, A. and Wardak, A. (2003), Afghanistan's Political and Constitutional Development. London: Overseas Development Institute.*

*36. Kilcullen, D. J. (2011), 'Deiokes and the Taliban: Local Governance, Bottom-Up*

*State Formation and the Rule of Law in Counter-Insurgency`, in W. Mason, ed., The Rule of Law in Afghanistan: Missing in Inaction. New York: Cambridge University Press.*

*37. Ladbury, S. and Cooperation for Peace and Unity (Afghanistan) (CPAU) (2009), Testing Hypotheses on Radicalisation in Afghanistan: 38. Why Do Men Join the Taliban and Hizb-i Islami? Kabul: Department for International Development.*

*39. Ledwidge, L. (2009), `Justice and Counter Insurgency in Afghanistan: A Missing Link`, RUSI Journal, 154: 6-9.*

*40. Lefèvre, M. (2010), Local Defence in Afghanistan: A Review of Government-Backed Initiatives. Kabul: Afghanistan Analysts Network.*

*41. Maass, C. D. (2011), Afghanistan`s Drug Career: Evolution from a War Economy to a Drug Economy. Kabul: Afghanistan Analysts Network.*

*42. Maley, W. (2010), `Afghanistan: An Historical and Geographical Appraisal, International Review of the Red Cross, 92: 1-18.*

*43. Mason, W. (2011), `Introduction`, in W. Mason, ed., The Rule of Law in Afghanistan: Missing in Inaction. New York: Cambridge University Press.*

*44. Migdal, J. S. (1988), Strong Societies and Weak States: State-Society Relations and State Capabilities in the Third World. Princeton, NJ: Princeton University Press.*

*45. Murray, T. (2007), `Police-Building in Afghanistan: A Case Study of Civil Security Reform`, International Peacekeeping, 14: 108-26.*

*46. Nixon, H. (2011), Achieving Durable Peace: Afghan Perspectives on a Peace Process. Oslo: Peace Research Institute Oslo (PRIO).*

*47. Nordland, N. (2012), `Top Afghans Tied to `90s Carnage, Researchers Say, New York Times, 23 July, available online at www.nytimes.com/2012/07/23/world/asia/key-afghans-tied-to-mass-killings-in-90s-civil-war.html.*

*48. Paoli, L., Greenfield, V. and Reuter, P. (2009), The World Heroin Market: Can Supply Be Reduced? New York: Oxford University Press.*

*49. Peters, G. (2009), Seeds of Terror: How Heroin Is Bankrolling the Taliban and Al Qaeda. New York: Thomas Dunne Books.*

*50. (2011), `The Afghan Insurgency and Organized Crime, in W. Mason, ed., The Rule of*

*Law in Afghanistan: Missing in Inaction. New York: Cambridge University Press.*

*51. Rubin, A. (2012), 'Top Afghan Security Official Wins Case Challenging Corruption Accusation, The New York Times, 25 September, available online at www.nytimes.com/2012/09/25/world/ asia/rangin-spanta-wins-case-challenging-corruption-charges.html.*

*52. Rubin, B. R. (2002), The Fragmentation of Afghanistan: State Formation and Collapse in the International System, 2nd edn. Karachi: Oxford University Press.*

*53. Ruttig, T. (2010), How Tribal Are the Taleban? Kabul: Afghanistan Analysts Network. (2011), The Battle for Afghanistan: Negotiations with the Taliban: History and Prospects for theFuture. Washington, DC: New America Foundation, available online at www.counterter- rorism.newamerica.net.*

*54. Saikal, A. (2004), Modern Afghanistan: A History of Struggle and Survival. London: IB Taurus & Co.*

*55. Semple, M. (2011), 'Afghanistan: Fault Lines in the Sand, New Statesman, 7 July.*

*56. South Asian Terrorism Portal (2012), Jama'atul Mujahideen Bangladesh (JMB), available online at www.satp.org/satporgtp/countries/bangladesh/terroristoutfits/JMB.htm.*

*57. Strick van Linschoten, A. and Kuehn, F. (2012), An Enemy We Created: The Myth of the Taliban/Al-Qaeda Merger in Afghanistan, 1970-2010. London: C. Hurst and Co.*

*58. UNAMA (2011) Treatment of Conflict Related Detainees in Afghan Custody, Report by UN Office of the High Commissioner for Human Rights, available online at http://unama.unmis- sions.org/Portals/UNAMA/Documents/October10_%202011_UNAMA_Detention_ Full-Report_ENG.pdf.*

*59. United Nations Office on Drugs and Crime (UNODC) (2010), Corruption in Afghanistan: Bribery as Reported by the Victims. Vienna: UNODC.*

*60. Vendrell, F. (2011), 'The International Community's Failures in Afghanistan', in W. Mason, ed., The Rule of Law in Afghanistan: Missing in Inaction. New York: Cambridge University Press.*

*61. von Biljert, M. (2009), 'Unruly Commanders and Violent Power Struggles: Taliban*

*Networks in Uruzgan, in A. Giustozzi, ed., Decoding the Taliban: Insights from the Afghan Field. New York: Columbia University Press.*

*62. Wardak, A. (2002), ' Jirga: Power and Traditional Conflict Resolution in Afghanistan' , in J. Strawson, ed., Law after Ground Zero. London: Cavendish.*

*63. (2004), ' Building a Post- War Justice System in Afghanistan, Crime, Law & Social Change, 41: 319-41.*

*64. Wilder, A. (2007), Cops or Robbers? The Struggle to Reform the Afghan National Police. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit.*

*65. Woodward, R. (2011), Obama' s Wars. New York: Simon & Shuster.*

# په افغانستان کې جرم او جګړه

## دویمه برخه: د (جفرسون) بدیله لار؟

**لنډیز:**

د دې مقالې په لومړۍ برخه کې د امریکې د متحده ایالتونو د ولسمشر (بارک اوباما) هغه خبرې را نقل شوې چې نوموړي خپلې نږدې سیاسي کړۍ ته ویلې وې چې د امریکا موخه په افغانستان کې د (جفرسون) د ولسواکۍ پلي کول نه دي. د مقالې د دویمې برخې (د بحث ) اړین موضوع دا ده چې د ولسواکۍ په اړه د (جفرسون) د کلیوالي وګړواکۍ په هکله نظریات چې له افغاني دود سره همغږي دي او په دې توګه د افغانستان په شان ټولنو کې د (جفرسون) وړاندیز د (هابز)ش د تحلیل (چې په لومړۍ برخه کې وړاندې شو) کموالی پوره کوي. په هغو سیمو کې چې ټولنیزه ګډوډي لري د (اغیزناکو) پولیسو او عدالت نه شتون یوه ټولنیزه تشه ده چې استبدادي دولة نظم او قانون، لکه د طالبانو قانون، ځان ته جلبوي چې دا تشه ډک کړي. د داسې حالت له رامنځ ته کیدلو څخه وروسته سوله او عدالت تر هغې پورې پلی او واکمنېدای نه شي تر څو پورې چې د عدالت په غیررسمي او سیمه ییزو نظامونو او د دولت په عدلي نظام، چې یو د بل بشپړونکې او جوړونکې دي، تکیه ونه شي. د عدالت د سیمه ایزو او ملي بنسټونو ترمنځ توازن او د هغوی له واک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې د مخنیوي لپاره د ګډې څارنې تقویت کول د سولې د راوستلو او د عدالت د تامین لپاره یوه ثابته او پرله پسې لاره ده د هغه په پرتله چې نظام بدل شي یا د راتلونکي ځایناستي نظام د اصلاح لپاره د "ټولنیزي انجنیرۍ" نزولي تګلاره[16] پلې شي.

۱۶. که چیرته یوه اداره یا حکومت د نزولي تګلاری (top-down approach) څخه ګټه اخلي دا په دی معنی چی د حکومت ټول پلانونه او تګلاری د لوړپوړو اداري یا حکومتي چارواکو لخوا جوړ او پلی کیږي ، په دی توګه د پلان او تګلاری په جوړولو کی کومه ځانګړی رول نه لري. برعکس که چیرته اداره

## سریزه

"په افغانستان کې جګړه او جرم: لومړۍ برخې، د (هابز) حل لاره، (Braithwaite and Wardak 2012) کې مونږ (لیکوالانو) استدلال وکړ چې ځینې وختونه د دولت مخالفین په خطرناکه او بې نظمه کلیوالي ټولنو کې د نظم په راوستلو سره مشروعت لاس ته راوړي او واک تر لاسه کوي. دا د مشروعیت د ترلاسه کولو بدیله لار ده چې د (هابز) له سره توپیر لري. واک ته د رسېدو دا لار په حقیقت کې د هابز د حل لارې په شان محدودیتونو او ستونزې نه لري. دویمه لیکنه (همدغه لیکنه) د افغاني حل لارې په اړه ده چې ددولت جوړولو په کړنلاره کې په پام کې نه وو نیول شوی - دا لیکنه چې د (جفرسون) (د نظر پر بنسټ) د (هابز) د حل لار بشپړوي : په داسې ډول سره چې د دولت جوړونې د هڅې او هغو عنعنوي کلیوالي نظامونو غښتلي کول چې امنیت منځته راوړي په ګډه یو د بل بشپړونکې وګرځي.


## په افغانستان کې دولت، ټولنه او ټولنیز نظم

که څه هم په لوړه جوړونکي کچه او په تاریخي لحاظ دولتي رسمي لاس لاندی راوړل د ټولنیز نظم په راوړلو کې کمزوری (Saikal 2005) او ستونزمن وو (Shahrani 1996)، خو په افغاني ټولنه کې په ټیټه او منځنی کچه ټولنیز نظم تر ډېره د نارسمي ټولنیز لاس لاندي/ برلاسي/ اغیزه له لارو ساتل شوی (Barfield and Nojumi 2010; Glatzer 1998; Wardak 2002; 2006). د دې کار یوه مهمه پایله دا وه چې د شوروي اتحاد له وتلو وروسته کله چې افغان دولت راوپرځید نو په لرې پرتو کلیوالي سیمو کې، چیرته چې د هیواد مطلقه اکثریت اوسیږي، بیا هم ټولنیز نظم موجود و. حتی نن ورځ هم د لویو ښاري سیمو په پرتله په کلیوالي سیمو کې نسبتاً غښتلی ټولنیز نظم موجود دی په داسې حال کې چې (په لویو ښاري سیمو کې) په لسګونو زره افغان او د (ناټو) په مشرۍ د شاوخوا ۵۰ هېوادونو څخه جوړ نړیوال امنیتي ځواکونه (آیساف) میشت دي. د تعجب وړ خبر خو لا دا ده چې په کلیوالي سیمو کې د تاو تریخوالي او بې نظمۍ اصلي سرچینه همدغه ځواکونه- طالبان، آیساف او افغان امنیتي ځواکونه - دي چې د نظم د تحمیل هڅې کوي. خو دا تحمیلي هڅې کمزورې، مصنوعي او بې دوامه ثابتې شوي دي.

---

یا حکومت د صعودي تګلاری (bottom-up approach) څخه ګټه اخلي نو دا په دی معنی چی حکومت د پلان یا تګلاری په جوړولو کی دخلکو رایه او نظریه په پام کی نیسي او د خلکو د غوښتنو او د ټولنی د شرایطو په پام کی نیولو سره پلانونه پلي کوي.

په تیرو ۱۲ کلونو کې افغان او نړیوال پالیسي جوړونکي پاتې راغلي چې په افغانستان کې پرله پسې نظم او ثبات رامنځته کړي ځکه دوی پر دې نه دي توانیدلي چې په مختلفو کچو د افغان دولت او د ټولنې په پیچلیو اړیکو پوه شي. دوی په ورته توګه په دې کې هم پاتې راغلي چې پوه شي په افغانستان کې په مختلفو ټولنیزو کچو او د ژوند په مختلفو برخو کې دولتي او مختلف نادولتي بنسټونه د ټولنیز نظم په جوړښت او ټینګولو که برخه اخلي. تر دې هم مهمه خبره دا ده چې په افغان دولت او نړیواله ټولنه کې دا سیاسي اراده شتون نه لري چې په بشپړ ډول په دې اړیکو پوه شي او بیا یې په خپله تګلاره کې ځای پر ځای کړي. په افغاني ټولنه کې د ټولنیز نظم د جوړښت او ساتلو په اړه د وردګ (Wardak 2006) د کار په استناد، مونږ (لیکوالان) د ټولنیز کنټرول لاندې اړین بنسټونه پیژندلی شو: پراخه نسبي کورنۍ ، د خپلوۍ نسبي ګروپونه، قبیله، توکمیز (نژادي) ګروپ او دولت (وګورئ ۱ شکل).




شکل: په افغاني ټولنه کې د ټولنیز لاس لاندي/ برلاسي/ اغیزه د لوړې، منځنۍ او ټیټې کچې بنسټونه (سرچینه) (Wardak 2006)

۱ شکل څرګندوي چې دولت د هرم په سر کې ځای لري او د ټولنیز کنټرول (څارنې) تر ټولو لوړ بنسټ او مرجع ده. توکمیز یا نژادي ګروپونه او قبیلې د ټولنیز لاس لاندي/ برلاسي/ اغیزه د منځنۍ کچې بنسټونه دي (که څه هم لوی ژبني- توکمیز ګروپونه چې نسبتًا په خپلواکه سیمو کې ژوند کوي هم د لوړې کچې د بنسټونو ځانګړتیاوې لري). د خپلوۍ کوچني ګروپونه او لویې کورنۍ د ټولنیز کنټرول تر ټولو ټیټ بنسټونه دي. دولت د ټولنیز لاس لاندي/ برلاسي/ اغیزه له نورو بنسټونو سره یو بل توپیر هم لري: دولت یوه رسمي اداره ده چې د ټولنیز او حقوقي نظم د ساتنې په موخه رسمي قوانین وضع کوي او د ویبر (Weber 1964) په اصطلاح ، (د عقلاني-قانوني "واک" څخه

کار اخلي. د افغانستان په لرې پرتو سيمو کې ولسوالي دولت تمثيلوي : خو (په نومړو سيمو کې) د ټولنيز برلاسي د ساتنې په موخه د دولت اجراتو ته ډېر وختونه د شک په سترګه کتل کېږي. بارفيلډ او نجومي (Barfield and Nojumi 2010) دا حالت داسې بيانوي: "د افغانستان په کليوالي سيمو کې د کابل نظر (د مرکزي حکومت تګلارو او کړنو) ته د شک په سترګه کتل کېږي. د دې پر ځای چې د دې سيمو خلک ځان د يو واحد ولس برخه وګڼي چې د ګډو ګټو درلودونکي وي، دوی هغه ځايي ټولنيزو ډلو ته ډېر وفاداره دي چې د خپلوۍ او يا هم د سيمې پر بنسټ منځ ته راغلي" (Barfield and Nojumi 2010:44).

له بله پلوه ، توکميز ګروپونه ، قبيلې، د خپلوۍ ګروپونه او پراخه نسبي کورنۍ د ټولنيز کنټرول نارسمي بنسټونه دي چې هر يو د دې بنسټونو څخه د نارسمي کړنلارې او "دوديز واک" له لارې د ټولنيز نظم په ساتلو کې مرسته کوي (Weber 1964) . وردګ (Wardak 2006) خپله پايله داسې وړاندې کوي چې په هره کچه چې د ټولنيز برلاسي بنسټ ۱ شکل په هرم په ښکتنۍ برخه کې وي ، نومړی بنسټ په هماغه کچه په افغاني ټولنه کې د ټولنيز نظم په ساتنه کې ډېر غښتلی رول لوبوي. په دې ډول په افغاني ټولنه کې ټولنيز نظم په دوديزه توګه د ټولنيز برلاسي د نارسمي بنسټونو له لوري له ښکتنۍ برخې څخه عمدتاً اداره شوی. که څه هم نومړي بنسټونه نيمګړي او د نارينه وو په واک کې دي، بيا هم دا (نارسمي) بنسټونه د (جفرسون) د ولسواکۍ له نظر سره ډېر ورته والی لري.

په افغاني ټولنه کې تر ټولو ډېرې مهمې پريکړې د پراخه کورنيو په "شخصي"(private) حريم کې نيول کيږي يعني مخکې له دې چې ستونزې او شخړې د "عمومي" (public)، ځای پر ځای حليږي. کله چې کورنۍ د ستونزو په حلولو او د ټولنيز نظم په راګرځولو کې پاتې راشي او يا هم شخړه د څو لويو کورنيو د غړو ترمنځ تر سره شي نو بيا د کلي (او يا هم له کليو) څخه د خپلوۍ (نسبي) ګروپ څخه مرسته غوښتل کيږي. د کلي (يا د څو کليو) په کچه د شخړو د حلولو جرګه د ټيټې کچې نارسمي او دوديز بنسټ دی چې د خپلوۍ په کوچنيو ډلو (خيلونه په پښتنو ميشته سيمو کې) کې ترې کار اخيستل کيږي (Wardak 2006).

په دويمه برخه کې مونږ (ليکوالان ) هوډ لرو چې له خپلو ساحوي (ميداني) څيړنو څخه په ګټه اخيستنې سره د کليوالي شخړو په حلولو کې د جرګې رول په تفصيلي ډول سره وڅيړو؛ وروسته له هغې بيا په لويو ښارونو کې د معاصر بنسټ په توګه د جرګې په "مختلط والي" (hybridity) بحث کوو چې د ولسواکه خارنې له لارې په ياد بنسټ کې له واک څخه د ناوړه ګټې اخيستنې مخه نيول کېدای شي. د نومړو موضوعاتو له تحليل څخه وروسته به د جرګې د دوو اړخونو (بهر ليږدونکی/

تبعیضي او ترمیمي) او د سیالو سیاسي ښځینه/ اناث حقوقي-سیاسي نظرونو په اړه بحث وشي او په همدې توګه په افغانستان کې د کلیوالي ولسواکۍ او ښاري سیاست په رڼا کې د عدالت او عدم تشدد په اړه بحث وشي.

## جرګه او د شخړو حل

په افغانستان کې په اکثریت پښتني میشتو سیمو کې کلیوالي شوراګانې یا جرګې - یا په جنوب کې مرکه د پرېکړو او د شخړو د حلولو اړین بنسټونه دي، دا بنسټونه (جرګې او شوراګانې) نه یوازې دا چې د کلیو په کچه فعالیت لري بلکې له کوچني "خیل" څخه نیولې تر قبیلې او یا هم د څو قبیلو د کانفدراسیون (اتحادیې) پورې د پرېکړو او د شخړو د حلولو اړین بنسټونه تشکیلوي. په ناپښتني سیمو کې شورئ تقریباً د جرګې برابر بنسټ دی (Carter and Conner 1989; Glatzer 1998; Malekyar 2000; Smith and Manalan 2009; Wardak et al. 2007). په دې توګه، جرګه او شورئ د شخړو د حلولو د نارسمي بنسټونو په توګه په ټول افغانستان کې شتون لري. که د کلي جرګه او شورئ ونه توانیږي چې یوه شخړه حله کړي نو په شخړه کې ښکیلې خواووې کولای شي چې د قبیلې په کچه د پراخه واک لرونکې جرګې غوښتنه وکړي، په دې ډول جرګو کې د یو اړخیز قضاوت د مخنیوي لپاره له (ښکېلو) قبیلو څخه په مساوي شمیره (د ټولنې) منلي مشران را غوښتنل کیږي. د امریکائي څیړونکې بارفیلډ (Barfield 2010:105) په باور د پښتنو تاریخ او ټولنه د قبیلوي برابرۍ او ولسواکۍ د سلطنتي نخبه پلو تمایلاتو ترمنځ ګړدود تشکیلوي. جرګه ، لږ تر لږه د نارینه ووء په منځ کې د دې دود د ټولنیز مساوات (برابرۍ) یو اړخ او بېلګه ده. د دودیزي جرګې ګرد (دایروي) جوړښت یو کس ته اجازه نه ورکوي چې په ځلا/ برملا توګه پر نورو اوچت وي. د منځګړتوب اساسي دنده هغه سپین ږیري پر مخ وړي چې په هوښیارۍ، انډول ساتلو او ریښتیولۍ کې نیک نوم ولري او خلک په خپله نوموړو مشرانو ته مراجعه کوي. "منځګړي له دولتي مامورینو سره توپیر لري او هغه دا چې منځګړي د هغو ستونزو په اړه چې دوی ته راوړل کېږي ډېر ژور محلي معلومات لري او د همدې معلوماتو په رڼا کې داسې پریکړه کوي چې د ټولنې خلکو ته د منلو وړ وي" (Barfield 2010:233; Ledwidge 2009:7). خو بیا هم کله چې د هیواد په جنوبي سیمو کې شخړه په محلي جرګه/ شورئ کې حل نه شي، نو شخړه د حل په موخه د ولسوالۍ شورئ ته لیږل کیږي چې په دې توګه د ولسوال او د پرېکړه نیونکي (جرګې/ شورئ) ترمنځ اړیکې او همغږي منځته راځي (Wardak 2010).

ننواتې د قبیلوي جرګې یو مهم ډول دی. ننواتې د ښښنې د غوښتلو او د سولې د وړاندیز پر وړاندې

د التزامي ښنې په معنی دی. د تورن یا ملامت لوري خپلوان د متضرر یا قرباني کور ته یوه ډله خلک استوي. په دوديز ډول سره د خپلوانو دا ډله د کورنۍ له مشرانو، یوه ښځه چې د قرآن کریم یوه نسخه ورسره وي، د تورن نور نږدې خپلوانو (او یا هم ځینې وختونه خپله تورن) او ملا امام څخه جوړه شوې وي. دا ډله یو پسه او (یوه اندازه) غنم د متضرر کور ته وړي چې ډېر ځلې پسه د متضرر د کور په دروازه کې حلالوي چې کور ته له ننوتلو څخه وروسته د تورن په استازیتوب د ښنې غوښتنه کوي. د ننواتې نه منل د ولسي دود خلاف کړنه ده، نو له همدې امله ډېر وختونه د ننواتې پایله ښنه او پخلاینه وي. دا ډول جرګې له ډېر پخوا څخه د داسې بنسټونو په توګه پېژندل شوي چې د"رغنیز عدالت" ځانګړتیاوې لري (Barfield et al. 2006; Schmeidl 2011; Wardak 2006). د رغنیز عدالت موضوع د افغانانو د یوه عامه تفکر د بحث موضوع ده، چې دا بحث د غربي رغنیز عدالت نظریه (restorative justice) له هغې تګلارې سره ښلوي چې پر بنسټ یې هرومرو د سولې او پخلاینې ملي کړنلارې (موخو) ته ورسېږي او د افغانانو په مشرۍ د حقیقت موندنې او پخلاینې ملي کمیسیون رامنځته کړي (Social Development and Stability Afghanistan Organization 2010:4-5). لکه څرنګه چې (Merry 2006) وائي کیدای شي استدلال وشي چې پخلاینې ته د رسیدو او د تاوتریخوالي د مخنیوي اړوند د غربي رغنیز عدالت بحث په افغاني مفکوره کې ډېر ځای پر ځای شوې، خو له بده مرغه چې غربي (نړۍ) کې د افغاني رغنیز عدالت په هکله ډېره کمه پوهه موجوده ده.

په لومړۍ لیکنه کې مونږ (لیکوالانو) دا په ډاګه کړه چې د طالبانو پر ضد د (ناټو) د جګړې پایله دا وه چې (اوس خلک) د د دولت د محکمو په پرتله د طالبانو محکمو ته ارزښت ورکوي. خو له بله پلوه بیا د دواړو په پرتله جرګو ته په افغاني ټولنه کې ډېر ارزښت ورکول کیږي. کله چې له افغانانو څخه وپوښتل شو چې د خپلې ستونزې د هوارۍ په موخه له چا څخه مرسته غواړئ، نو تر ټولو ډېر عام ځواب د (ځایي جرګې / شورئ مشران) وو (په ۲۰۱۰ ز کال کې ۴۲ سلنه و، په ۲۰۱۱ ز کال کې کچه نوره هم ډېره شوه او ۶۶ سلنه وو)، د ځایي جرګې / شورئ مشران د لاندې نورو په پرتله ډېر مخکې وو : د ولسوالۍ چارواکي (۳۱ سلنه او ۳۵ سلنه ) پولیس (۲۵سلنه او ۲۸ سلنه ) ملا آمامان (۱۸ سلنه او ۲۳ سلنه ) د پارلمان غړي (۱۰ سلنه او ۸ سلنه ) غیر دولتي موسسې یا انجوګانې (۴ سلنه او ۶ سلنه ) او بهرني ځواکونه (۲ سنله او ۲ سلنه ). کله چې له نوموړو خلکو څخه د دولتي محکمو په پرتله د جرګو / شوراګانو د غوره والي د ځانګړیو دلایلو په اړه پوښتنې وشوې، نو تر ټول عام ځوابونه دا و چې (دوی جرګو / شوارګانو ته ځکه ارزښت ورکوي) (Asia Foundation 2010: 127):

- چې د ځايي شورئ (غړي) ريښتوني دي (۳۵ سلنه )
- د دولت په محکمو کې فساد شتون لري (۱۵ سلنه )
- شخړې په اغيزناکه توګه حلوي (۱۰ سلنه )

په څلورو ترسره شويو سروې ګانو (پلټنو) کې کله چې د ارزونې (لاندې) پينځو معيارونو په نظر کې نيولو سره د دولت د محکمو او د جرګو/ شوراګانو په هکله پوښتنې وشوې، نو د دولت د محکمو په پرتله جرګه/ شورئ په اساسي توګه په ډېره لوړه کچه د خلکو لپاره د منلو وړ وه (Asia Foundation 2007: 459-60; 2009:91; 2010:134; 2011:152): جرګه/ شورئ:

- ته لاس رسی لرم.
- عادلانه او د باور وړ دي.
- زموږ د خلکو ځايي اصول او ارزښتونه تعقيبوي.
- د عدالت پر وړاندې کولو کې اغېزناکې دي.
- په چټکه توګه او خپل وخت کې شخړې حلوي.

د دې معنا دا ده چې په څلورو مختلفو وختونو کې د پرتلې له ۲۰ څخه په ۲۰ معيارونو کې د دولت محکمې په ډېره کمه کچه د منلو وړ وي. د آسيا فاونډيشن د ۲۰۰۹ ز کال سروې موندنې دا هم ښيي چې د هغو افغانانو له جملې څخه چې په د قضيې (د حل په موخه ) دولتي محکمې ته تللي، اکثره وګړي د محکمې د پريکړې په پايله ناخوښ وو، (دا په داسې حال کې ده) چې جرګې / شورئ څخه د نا خوښه وګړو کچه يوازې ۲۰ سلنه وو (Sharma and Sen 2008:62).

## په لويو ښاري سيمو کې د عدالت د سيستمونو اختلاط

د عدالت د نارسمي سيستم غوره والی يوازې په پښتون مېشتو کليوالي سيمو پورې، چېرې چې جرګې ژورې ريښې لري، محدوده نه دی. ربيکا ګنګ (Rebecca Gang 2011) د شخړو د هغه لارو چارو (CBDR) څخه چې ښځو په کې ونډه لرله او د قتل تر کچې شخړې په کې حلې شوې، د کابل د تاريخي ښار په هزاره او شيعه ميشتو سيمو کې يوه څېړنه ترسره کړې. په دغه لارو چارو کې (د شخړو د حلولو په موخه) د شريعت د احکامو، د اتباعو د حقوقو په برخه کې د دولت د نافذه قوانينو او د سيمې له هغو اصلي (بومي ) دودونو څخه چې د رغنيز عدالت بنه لري، په ګډه ډول ګټه اخيستل شوې:

"د شخړو د حلولو محلي او سيمه ائيزې لارې چارې بهير کوم بدلون نه منونکی بهير نه دی او

په ورته توګه له داسې دود او کلتور څخه نه دی جوړ شوی چې بدلون ونه مومي. که څه هم دود او دستور د څېړنې په سیمه کې د محلي شخړو د حل لارو چارو لپاره یوه نمونه (سرچینه) ده، د افشار د شخړو د حلولو محلي لارې چارې څو اړخیز جوړښت دې چې د حکومت د عدلي ناتوانۍ د پوره کولو لپاره فعالیت کوي "(Gang 2011:4).

د (شخړو د حل د لارو چارو) اختلاط د هغې د یو ګډون کونکي ۶۰ کلن ملا امام له دې نقل قول څخه هم څرګندېږي:

"په هر قوم ، په هر ولایت کې د بدو دود اوس هم شتون لري . [بد د وژونکي له ټبر یا قبیلې څخه د وژل شوي نږدې خپلوانو ته د ښځې ودولو ته وایي]. خو، زه خلکو ته وایم چې دې دود ته په شریعت کې اجازه نه ده ورکړل شوې، د بیلګې په ډول، که چیرې یو کس بل ووژني نو هغه نجلۍ چې نه د دې کار په هکله په څه پوهیږي او نه یې هم دا کار سرته رسولی، بلې کورنۍ ته ورکول کیږي. کله چې داسې وشي، نو د دې کار یوازینۍ پایله دا وي چې ډېر نور خلک هم زیانمن کیږي او یا هم ګناهګاره کیږي " (Gang 2011:29).

په اسلامي ټولنو کې د نارسمي سیستمونو په هکله لویدیځ تبصره کونکي د شخړو د حل د سیستمونو مختلط والی له پامه غورځوي او هم دا له پامه غورځوي چې په دغه مختلط والی کې د ښځو د حقوقو ددفاع اصلي سرچینه اسلامي شریعت دی. د ښځو حقوق ښایي هغه وخت ښه خوندي شي چې په دې ډول مختلط سیستم کې د قانون هره سرچینه له بلې سرچینې سره د مثبتې سیالۍ له لارې له ځواک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې د سرچینو مخه ونیسي:

"زما مور زما له پلار سره هغه وخت شخړه پیدا کړه کله چې زما پلار بل واده وکړه او زما مور او د هغې ماشومان یې د کور له وسایلو یا پیسو پرته له کوره وشړل. که څه هم زما مور پر دی آند وه چې د ښځو لپاره مناسبه نه ده چې د دې ډول ستونزو د حلولو لپاره ولسوالۍ یا سپین ږیرو ته لاړې شي، خو بیا هم زما مور سپین ږیرو ته لاړه او له هغوی څخه یې دیوې غونډې د جوړولو غوښتنه وکړه. زما مور او پلار دواړه په غونډه کې کیناستل. سپین ږیرو زما پلار ته وویل: "دا یوه عزتناکه ښځه ده. تا بل واده وکړه او دا ښځه دې تش لاس له کوره وشړله. آیا ته له خدای «ج» څخه نه وېرېږې؟" پس له هغې زما پلار دا ومنله چې زما مور او مور ته نفقه راکړي "(Gang 2011:31).

د شخړو د حلولو په دا ډول سیستم کې د قوانینو پر ورانديې مسولیت یوه مهمه موضوع ده. د بیلګې په ډول، د کورنۍ شخړو په حلولو کې د دې لپاره چې نارینه د ښځې له وهلو څخه لاس

واخلي نو پولیسو ته په سپارلو یا زندان ته په لیږلو ګواښل کیږي. خو سره له دې، مسولیت تر ټولو ستر ډول د وړوکې ټولنې (پر وړاندې مسولیت) دی چې حتی په لویو ښاري سیمو کې هم تر سترګو کیږي:

"د خلکو او د سپین ږیرو ترمنځ روښوالی شته. خلک ځینې سپین ږیري ټاکي څکه دوی په ټولنه کې ریښتني، د درناوي وړ او ښه سابقه لرونکي وګړي پیژني. کله چې سپین ږیري د یوې شخړې د حل لپاره راټولیږي، هغوی پر دې پوهیږي چې خلکو دوی د یادو دلایلو له مخې ټاکلی. هغوی پر دې باور وي چې " زه باید ریښتنی واوسم تر څو په ټولنه کې خپل نیک شهرت وساتم " (Gang 2011:22).

په کابل کې د شخړو د سیمه ائیز حل لارو (CBDR) دوه نورو ګډون کونکو وویل چې دا لارې چارې څکه شتون لري چې دولت عامو خلکو ته د عدالت راوستلو کې پاتې راغلی:

"کله چې زه په ۲۰۰۴ز کال کې افغانستان ته راغلم، ما کرزي ته رایه ورکړه. زه د یو ښه حکومت په جوړېدو خوښ وم. کله چې ما ولیده چې کرزي لوړې چوکۍ پخوانیو قومندانو ته ورکوي، زه پوه شوم چې هغه به د حکومت او نظم په کنټرول ونه توانیږي . اوس دا حکومت د خلکو پام نه ساتي، دې حکومت د افغانانو په سر سودا کړې. په همدې دلیل، حکومت د شتمنو خلکو او د هغو خلکو شخړې هواروي چې پیسې ورکوي، خو غریب خلک د شخړو د حلولو په موخه یوازې ځایي مشرانو ته تللی شي. موږ دا شوراګانې د خلکو د سهولت لپاره جوړې کړې. موږ د خلکو د ستونزو د هوارولو هڅه کوو تر څو هغوی حکومت ته تللو ته مجبوره نه شي " (Gang 2011:25).

د ننواتې رغنیزه ځانګړنه د شخړو د حل په دې اختلاطي لارو چارو کې نوره هم په قوت لیدل کیږي: په رغنیز عدالت کې یوازې تورن مسول او ګرم نه ګڼل کیږي څکه کله چې شخړه پراخه وې نو د ټولنې ځینې نور خلک هم د مسولیت احساس کوي:

د بایسکل په سر شخړه کې (د تورن) د کورنۍ ښځې له دې امله ګرمې وګڼل شوې چې بیځایه یې شخړه پراخه کړه نو له همدې امله یوه ډله ښځې د شخړې د متقابلې (قرباني) خوا کور ته د ننواتې په توګه لاړې. د شخړې د حالت شدت ته په کتنې سره، د متقابلې خوا د کورنۍ غړي د ننواتې غړو ته لاره پرانسته چې کور ته ئې ننوزي. متقابلې خوا د ننواتې کونکو له خوا ټیکرى ،چې د بښنې غوښتلو نښه یا سمبول وء، قبول کړل.

څرنګه چې مختلط او د شخړو د حل نوری دودیزې عدلي لارې چارې د دولت او طالبانو

محکمو په پرتله تل غوره ګڼل شوي، د نظام له بدلون څخه یوه لسیزه وروسته (چې په کې دودیز عدالت له پامه غورځول شوې وه) ناتو ددې لپاره چې د طالبانو د عدالت بلونکي داعیه کمزوری کړي، له جرګې/ شورۍ څخه یې ملاتړ ونه کړ.

## د جرګو دوه اړخونه: بهر ایستونکی / تبعیضي خو رغنیز عدالت

په کلتوري لحاظ ، ښځو ته په جرګه/ شورۍ کې د ګډون او پریکړې حق په عمومي ډول سره نه دی ورکړل شوی. په جرګو کې ځینې وختونه په بدو (کې د ښځو د ورکړې) او کله بیا هم په بدل (د دوه کورنیو ترمنځ د واده په موخه د نجونو بدلول) پریکړې کیدې. دا کار د دې لامل شو چې په ملګرو ملتونو او د ناټو په غړیو هیوادونو کې د بشریحقونو نادولتي موسسو او د هغوی ملاتړو ته دا فرصت په لاس ورکړي چې له ۲۰۰۱ز کال څخه وروسته د افغانستان په عدلي چوکاټ کې د جرګو / شوراګانو د ځایولو (رسمي کولو) مخنیوي وکړي. د نړیوالو له خو د دولت جوړونې په پروسه کې د جرګو په اړه د بدبینۍ بله سرچینه دا وه چې د څو لسیزو جګړو په ترڅ کې ټوپک سالارانو یو په بل پسې جرګې د عدالت د ټنیګښت پر ځای د عدالت ضد موخو لپاره وکارولې. په افغانستان کې د عدالت د رسمي او دودیزو سیستمونو په اړه دا یو خواشینونکی حقیقت دی چې زوراکي کولای شي په دې سیستمونو کې له خپلې خوښې سر سم د زور او یا پیسو پر مټ د خپلې غوښتنې مطابق پریکړی ترلاسه کړي. نو په دې توګه که چیرې د دولت قضایه قوه د فاسدو زورواکو د غوښتنې خلاف پریکړه وکړي نو دوی په اجرایه قوه کې له خپل اغیز او نفوذ څخه په ګټې اخیستنې سره کولای شي چې د قضایه قوې پریکړه بیرته رد کړي. د بېلګې په توګه که چیرته څوک زنداني شي نو کیدای شي چې د زندان مسولینو ته سمدلاسه رشوت ورکړي تر څو بېرته خوشې کولو ته یې لار برابره کړي. همدارنګه د مرکو په ترڅ کې له مونږ (لیکوالانو) سره داسې اندیښنې شریکې شوې چې د ځمکو خاوندان (غاصبین) ځیني جرګې تر خپل اغیز لاندې راوستي تر څو د ځمکو اړوند د راستنیدونکو مهاجرینو د غصب د دعوې مخه ونیسي (په همدې توګه وګورئ) Schmeidl 2011:61. بله اندېښنه دا وه چې د شخړې دواړه خواوې جرګې ته د مچلغې (هغه تضمین چې د پیسو، وسلو او کله هم د ځمکې په شکل اخیستل کیږي) د ورکړې لپاره اړ ایستل کیږي چې د جرګې د پریکړې د نه منلو په صورت کې د دوی مچلغه ضبط او جرګه ماران یې ځان ته کړي. دا د غریبو خلکو لپاره زیان دی ځکه دوی نه شي کولای چې خپله شتمني (تضمین) له لاسه ورکړي، که څه هم دا کار (د مچلغې ضبط) هومره له زیاتی ډک نه دی څومره چې په لویدیځه نړی کې یو کس د محکمې پریکړې ته د سپکاوي په

تور زنداني کيږي.

واک ته د طالبانو تر رسيدو دمخه په کليو کې د ښځو شوراګانې ډېره نااشنا خبره نه وه. د بشر د حقوقو د معيارونو مطابق د جرګو / شوراګانو د اصلاحاتو مفکوره د ۲۰۰۱ ز کال په اوږدو کې وروسته له هغې له منځه لاړه کله چې په نوموړو بنسټونو (جرګو / شوراګانو) تور پورې شو چې په طالبانو پورې تړاو لري (او طالبان) د ښځو د حقوقو پر وړاندې ډېر ظالمانه دريځ لري. خو په عين وخت کې دا حقيقت ښکاره وء ې په عدلي نظام کې اداري فساد يوه اړونده مهمه موضوع ده ځکه د اداري فساد له امله ډېر عام پښتانه د دولت د محکمو په پرتله د طالبانو محکمې غوره ګڼي او بيا د دواړو په پرتله جرګه غوره ګڼي؛ خو د جرګو جوړښت داسې دی چې تر ډېره له اداري فساد څخه نه زيانمن کيږي. دا ځکه چې د طالبانو يا د دولت قاضيانو په پرتله " دا ډېره ستونزمنه يا ګرانه ده چې د جرګې ۱۲ يا ډېرو غړو ته رشوت ورکړل شي" (Schmeidl 2011:62). له دې نه علاوه، د جرګو / شوراګانو تر ټولو لويه ښيګڼه دا ده چې جرګې / شوراګانې په داسې ټولنه کې د خلکو د پخلاينې زمينه برابروي چې وګړي يې له نورو داسې وګړو سره نږدې ژوند کوي چې (يو د بل پر وړاندې) د بې رحمۍ ډېره ډارونکې او خطرناکه سابقه لري، نو پر همدې بنسټ خلک داسې پريکړې مني چې د هغوی د نږديوالي او ګډ ژوند سبب ګرځي.

## د دويز عدالت سياسي شوې سيالۍ

له کلونو را پدېخوا تر ۲۰۰۷ ز کاله پورې جرګې / شوراګانې د هغوی مخالفينو له ډېرو منظمو او سختو فشارونو سره سره بيا هم پر ځای پاتې او وژغول شوې. پخواني کمونيستي رژيم هڅه وکړه تر څو د واک د مرکزي کولو پروژې له لارې جرګې /شوراګانې له منځه يوسي، د دې پروژې له مخې ټول سيال کليوالي واک (لرونکي) چې رژيم ورته د فيوډالانو نوم ورکړی و بايد له منځه تللای وای. په ورته توګه، د ۲۰۰۱ ز کال څخه وروسته د امريکې متحده ايالتونه د فيمينستانو (feminist)[17] او د لويديځ لوستو افغان حقوقي او سياسي نخبه ګانو تر اغيز لاندې وو. دا کار د امريکې د متحده ايالاتو د لومړۍ ميرمنې لارا بش (Laura Bush) د هغې داعيې سره تړلی وو چې پر افغانستان باندې يرغل يې د افغانو ښځو د خپلواکۍ د ترلاسه کولو جګړه بللې وه. دواړه ډلو، د فيمينساتو ملاتړو او د امريکې متحده ايالتو، د داسې تګلارې په برابرولو تاکيد کاوه چې له مخې يې د دولت رسمي عدلي نظام مرد سالاره جرګې / شوراګانې کمزوري کړي. د افغانستان قضايه قوې هم د دې کار (تګلارې) ملاتړ پيل کړه، حتی يو ځل د قضايه قوې مشرتابه د هغه مخکښ ليکوال د عدلي تعقيب رسمي

۱۷. د ښځو او نارينه وو د سياسي او ټولنيزو حقوقو د برابری د پلويتوب غورځنګ (وګوری څاروان ، ژورناليزم قاموس ، انګليسي پښتو .د ژباړن يادښت)

ګوانښ وکړه چې دساحوي شواهدو پر اساس یې دا په ډاګه کړې وه چې د قضایه قوې (محکمو) په پرتله د خلکو له نظره جرګو د عدالت د غوره والي یو اصلي لامل په قضایه قوه کې د پراخ فساد شتون دی (Supreme Court of Afghanistan) 2007. ډېرو هغو جنګ سالارانو چې د مرکز، ولایتونو او ولسواليو د حکومت کنټرول یی په لاس کې درلود دودیزو جرګو ته د خپل ځواک د سیال (خطرناک سیال چې له ټولنې څخه سرچینه اخلي) په سترګه کته. دوی هم د کمنونستي سیاستمدارانو په شان د جرګو کنترول یا له منځه تلل غوښتل. خو ولسمشر کرزي بیا له نورو سره توپیر درلود او په فکري لحاظ یې د جرګو د کمزوري کولو د نومورو ګډو هڅو مخالفت کاوه. هغه پر دې پوهېده چې د دودیز عدالت د کمزوري کولو هڅې له پیله ناکامه شوې، ځکه په ټول هیواد کې د مدني او جزایي شخړو ۸۰-۹۰ سلنه په جرګو / شورا ګانو کې حل کیده (Claude 2010; Wardak et al. 2007).

د جرګو / شوراګانو او د محکمو د ملاتړ کونکو ترمنځ تر ۶ کالو شخړو وروسته ځینې بنسټونه لکه د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوت (USIP) (Barfield et al. 2006; Coburn and Dempsey 2010; Toomey and Thier 2007) د عدالت د دودیزو سیستمونو د بیا ځواکمنولو لپاره د مختلط سیستم د ایجاد او عملي کولو هڅې پیل کړې، چې په دې توګه به د عدالت ددودیز سیستمونه داسې پیاوړي کړي چې د عدلت د رسمي سیستم ، د ملګرو ملتونو د جندر د برابرۍ او د بشري حقونو د معیارونو پر وړاندې مسولیت ولري. دا کار د افغانستان د بشري پرمختګ د ۲۰۰۷ز کال د راپور (Afghanistan Human Development Report 2007) (Wardak et al. 2007; Wardak 2004) د وړاندیز پر بنسټ پیل شو چې په افغانستان کې یې د" عدالت مختلط موډل" وړاندیز کړی و. د دی موډل له مخې د عدالت د رسمي او نارسمي سیستمونو ګډ سیستم وړاندیز شوی وء چې په هغې کې د ښځو په مشرۍ د بشریحقونو وړاندیز شوی څانګه به په محکمو او جرګو د نظارت دنده لري. په ورته وخت کې محکمې او جرګې به یو پر بل نظارت کوي (همدارنګه وګورئ Schmeidl 2011. د یادونی وړ ده چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه اداره (یوناما UNAMA) د قانون د حاکمیت پروګرام په کندوز ولایت کې دا نظریه داسې پلې کړه چې سیمه ییزې شورۍ ته یې د ښځو چارو ریاست او عدلیې وزارت د حقوقو مدیریت دفترونو تر څنګ په یوې ودانۍ کې دفتر پرانیست.

د وردک د" عدالت مختلط موډل" د وړاندیز له مخې د جرګې / شورۍ پرېکړې هغه وخت الزامي دي چې د افغانستان د قوانینو، د شرعي قوانینو او له نړیوالو بشریحقونو سره په ټکر کې نه وي چې دا د نظارت او څارنې څو اړخیز میکانېزم دی (Choudhury 2011). په بدو کې د ښځو

ورکړه د شریعت د احکامو په ګډون د (نومورو) درې واړه قوانینو او اصولو سرغړونه ده، چې د وردګ د وړاندیز پر بنسټ د دیني عالمانو شوری په دې برخه کې ځانګړی رول لري تر څو په بدو کې د ښځو ورکړه وځاري چې د شریعت ضد یوه کړنه ده. په دې خبره پوهیدل اړین دي چې د قانون د حاکمیت ناکامي په حقیقت کې د ناټو له مداخلې څخه د رامنځته شویو پراخه ناکامیو یوه برخه وه؛ دا (ناکامي) د دې لامل شوه چې په ۲۰۰۷ز کال کې په افغانستان کې د قانون د حاکمیت لپاره د امریکا د متحده ایالتونو بودجه دوه برابره شوه، چې دا بودیجه په ۲۰۰۸، ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ز کلونو کې په ترتیب سره دوه، دوه برابراه ډېریده (Katzman and Wyler 2010)، خو له ۲۰۱۱ز کال څخه وروسته بیرته مخ په کمیدو شوه.

د امریکې د دې بې ساري خو ځنډل شوو مرستو ډېره لږه برخه د کلیوالي جرګو او شوراګانو د ملاتړ په برخه کې ولګول شوې خو دا کار په ۲۰۱۰ز کال کې وروسته له هغه پیل شو چې طالبان د" قانون د حاکمیت د وسله وال خوځښت " په توګه بېرته راڅرګندیدلي وو.

که څه هم په ستراتیژیک لحاظ (د جرګو/ شوراګانو په اړه د تګلارې بدلون) په ۲۰۱۰ز کال کې ډېره ناوخته و، خو په تګلاره کې بدلون له دوه اړخو منطقي ګام وو:یو دا چې جرګې/ شورا ګانې (په هغه ډول چې ګمان کیده) په حقوقو تیری نه کوي: او دویم دا چې دا دودیز بنسټونه د اصلاح وړ بنسټونه دي، په ځانګړې توګه کله چې د جرګو په پرېکړو کې په بدو کې د ښځو د ورکړې او د بدل بېلګې ډېرې په کمیدو شوی (Dunn et al. 2011; Smith and Lamely 2009). د بیلګې په ډول په ۲۰۰۶ز کال کې د آسیا فاونډیشن (Asia Foundation 2010:137) د سروې ګډون کوونکیو" اجباري ودونه" د ښځو پر وړاندې درېیمه لویه ننګونه په ګوته کړه (د نارینه و او ښځو په اړه پایلې یو شان وې)، دا په داسې حال کې چې " تعلیم " او " د ښځو د حقوقو نه شتون" په ترتیب سره اوله او دویمه لویې ننګونې وې. اما د دې ننګونو درجه د آسیا فاونډیشن د ۲۰۰۸، ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ز کلونو په ټول پوښتنو کې نیمائي ته راښکته شوی ـ یعنی د ښځو په هکله تر ټولو کم اهمیته ننګونې وې.

د ۲۰۰۰مې ز لسیزی په منځیو کې د شخړو د حلولو په ملي سروی کې یوازې ۶۷ سلنه خلکو وویل چې ښځې هیڅکله په جرګو/ شوراګانو کې ګډون نه کوي (CPHD 2007)، که څه هم دا کچه ډېره لوړه ده خو بیا هم د مطلق نه ګډون په معنی نه ده؛ دا حالت د عدالت رسمي سیستم او پولیسو کې د ښځو د ونډې پرتله هومره بد هم نه دی- (د عدالت په رسمي سیستم کې) په ۲۰۰۷ز کال کې یوازې ۳ سلنه ښځینه قاضیانې وې (Wardak et al. 2007) - او د پولیسو (په ارګان کې) د ښځو د ګډون کچه له ۱ سلنې څخه هم ښکته وه (SIGAR 2011). پر دی برسیره د والډمن (Waldman

2008:18) په آند جرګې/ شوراګانې د کورني تاوتريخوالي د کچې په کمولو او د ښځو د حقوقو د حفاظت پر وړاندې د خلکو د موقف په اړلو کې تر ټولو مخکښ رول لري:

"د بيلګې په توګه په بادغيس کې د (سنايي پر مختيايي ادارې) د سولې يوه شورئ د اجباري ودونو دود ته د پای ټکی کيښود، دا دود د اوږدې مودې راهيسې هلته موجود و. يوې بلې شورئ د ښځو او ماشومانو په وهلو بنديز ولګوه (Suleman and Copnall 2006: 43). د افغانستان په نورو سيمو کې د نوموړو دودونو شتون ته په کتنې سره (ويل کېدای شي چې) نوموړې لاس ته راوړنې ډېرې بې سارې دي. د سي پي ای يو CPAU (د سولې او يووالي لپاره مرسته) اداري موندنې هم ښيي چې د دوی پروګرامونو د کورني تاوتريخوالی کچه کمه کړې؛ په ځانګړې توګه، د ځينو انفرادي شخړو حلولو پر ټولنه پراخه اغيزې لرلي "(Waldman 2008:18).

مونږ (ليکوالان) دا کار د ښځو د حقوقو د دفاع لپاره (ددی پر ځای چې جرګې / شوراګانې د ښځو د حقوقو پر سرغړونه تورني شوي) ډېر اغيزناک ګڼو. دا ځکه چې د دې شونتيا ته زمينه برابروي چې د جرګو/ شوراګانو له لارې د ښځو د حقوقو موضوع د دوديز عدالت په بحث کې ځای پر ځای شي (Merry 2006). په حقيقت کې د دې کار لپاره د افغانستان د ۲۰۰۷ز کال د بشري پرمختګ راپور يوه عملي او د ازمايښت وړ حل لار وړانديز کړې.

## په افغانستان کې د عدم تشدد او عدالت لپاره د نوې لارې پيدا کول

په داسې يوه جګړه کې چې ولسمشر کرزی، ناټو او طالبان يې نه شي ګټلی (Braithwaite and Wardak 2011) اوربند يوه وروستۍ هيله ده تر څو داسې يو بنسټ جوړ شي چې د جګړې ټولې خواوې د جرګو / شوراګانو او د يو مطلقه ولسي، ټول شموله ، تعدد پالونکی اساسي قانون په ګټه له خپل واک څخه تير شي. د لويديځ ډېر پوځي قومندانان پر دې آند دي که څه هم دوی نه شي کولای چې طالبانو ته په پوځي ډګر کې ماتې ورکړي، خو د طالب جنګيالو وژل به طالبان د سولې موافقې ته حاضرېدو ته اړ باسي چې ددولت او ناټو په ګټه وي. برايت ويت او وردګ (Braithwaite and Wardak 2011) استدلال کوي چې دا يوه غلطه لار ده، په ځانګړې توګه کله چې د لوړ رتبه طالبانو خبره مطرح کيږي. په پوځي لحاظ د طالبانو لوړ رتبه غړي تر ډېره بريده د پاکستان د څارګرې اداري (ISI) تر فشار لاندې دي، او هغوی طالبانو ته وايي چې که چيرې دوی د امريکا پر ضد خپله جګړه روانه ونه ساتي نو دوی به امريکا ته په دې موخه وسپارل شي چې ګوانتانامو ته يې وليږي او يا به

ووژل شي. په تیرو وختونو کې آی اس آی د امریکا متحده ایالتونو ته د لوړ رتبه طالبانو (هغوی چې د سولې لپاره یې لېوالتیا لرله) د ځای ښودلو له امله د یاد دولت څخه ډېر امتیازونه تر لاسه کړي دي.

د طالبانو د منځنۍ کچې پر قومندانو د ناټو د نظامي فشار په پایله کې د هغو پخوانیو طالبانو، هغوی چې د سولې لپاره یې لیوالتیا لرله او د خپلې سیمې او خلکو لپاره جنګیدل، ځای ځوانو طالبانو ونیوه چې د پخوانیو طالبانو په پرتله ډېر سخت دریځي او ظالم وو او له خپلې سیمې او خلکو څخه لرې پاتې شوي وو. دا ځکه چې دوی (ځوان طالبان) له سیمي او زورواکو لرې پاته او د پاکستان په دیني مدرسو کې روزل شوي. همدارنګه دوی د بې پیلوټه الوتکو د یرغل او په پاکستان او افغانستان کې د ملکي خلکو د تکراري وژنو نور هم سخت دریځه کړي. د رادیکالو طالبانو د حبرکت ددوام په دې هکله یو افغان مشر داسې وایي "پاکستان د طالبانو د تولید ماشینونه یا وسیلې لري. دا وسیلې یې پیسې، مدرسې او او خپله د طالبانو بې سوادي ده" (July 2011 interview, Kabul). دا مشر نور هم زیاتوي: " پاکستان په افغانستان کې روغه جوړه هم نه شي راوړلای، خو له پاکستان پرته په افغانستان کې روغه جوړه نشي راتللای" (July 2011 interview, UN, Kabul).

برابېت وبېت او هم استدلال کوي چې د ټیټې کچې طالبانو وژنه هم زیانمنه ده ځکه چې په پښتنو کې د غچ اخیستنې دود ډېر قوي دی: "که ته ما نن ووژنې نو زما ورور به بیا تا ووژني". د غچ اخیستنې یوه لار دا ده چې (طالبان) د افغانستان له ملي اردو او ملي پولیسو په لیکو کې ځای نیسي او بیا خپل بهرني روزونکي وژني چې دا کړنه په عسکري فحو ىٔ کې د "زرغون پر نیلي" یرغل په نوم یادېږي[۱۸]. د دې خبرې ثبوت دا دی چې کله د منځنۍ کچې جنګیالي وژل کیږي نو ځای یې د هغوی ځوان خپلوان نیسي. بله دا چې د طالبانو د غړو د وژلو لپاره د شپنیو عملیاتو په پایله کې بیګناه ملکي وګړي هم وژل کیږي، چې دا کار هم وسله وال مخالفت د عادي خلکو په منځ کې زیاتوي.

جرم پوهان (criminologists) باید د دې ورټیا ولري چې په افغانستان کې وژنو ته له یوه پراخه لید لوري وګوري نه یوازې د جګړې له لید لوري څخه، د بېلګې په ډول دوی باید (وژنو) ته د قربانیانو او زیانمنو له نظره د لیدلو ورتیا ولري. په دویم شکل کې د اکسفام (Oxfam) سروې موندنې (Waldman 2008:12) ښیي چې عام افغانان د طالبانو له لاسه له وژل کیدو څخه وېره لري، خو د جنګ سالارانو، جرمي ډلو، نړیوالو ځواکونو، د مخدره توکو د قاچاقبرانو ،د افغان پولیسو او د هغه

۱۸. د Green-on-blue attacks اصلاح په عراق او افغانستان کی دنومړو هیوادونو د ملي ځواکونو لخوا دهغوی پر بهرني روزونکو د برید لپاره کارول شوی. په نظامي برخه کی د پوځي عملیاتو د ترسره کولو او ددوست او دښمن ځواکونو د پیژندنی لپاره مختلف رنګونه کارول کیږی چی سور رنګ ددښمن د ځواکونو، زرغون رنګ د بی پلوه ځواکونو او نیلي یا اسماني رنګ د ملګري یا مرستنویه ځواکونو لپاره ځانګړی شوی (د ژباړن یادښت).

وسله والو چې د لوړ پوړو افغان چارواکو د وژلو لپاره ګومارل کیږي څخه د وېرې کچه په بې ساري ډول لوړه ده. د افغانستان د ملي اردو، کورنۍ تاو تریخوالي، او د قومونو خپلمنځي شخړو څخه د وېرې کچه هم ډېره لوړه ده. دتفکر بدلون (paradigm change) چې اوس مهال ورته ډېره اړتیاده دا دی چې د تاوتریخوالي ، وېرې او د جګړه ییز حالت ځای په تدبیر سره څو اړخیز اوربند ونیسي: څو اړخیز اوربند بې وسلې کولو ته، د عسکری په ځای ټولنیزو پولیسو ته او تاوتریخوالي د کنترل او د عدالت د تامین لپاره جرګې او محکمې ګډ کارته زمنیه برابره کړي.

د امریکې ولسمشر بارک اوباما (Barack Obama) په ۲۰۱۱ز کال کې د لومړۍ ځل لپاره ددې ډول" د تفکر د بدلون " راوستو لپاره خپل چمتووالی وښود، او دا کار دهغوی د ملي امنیت په کړۍ کې ځینو شخصیتونو له ډېر پخوا څخه غوښتلو (Woodward 2011). له طالبانو سره د پخلاینې تګلاره ، په دې شرط چې دوی به له القاعده او تروریزم سره خپلې اړیکې پریکوي او د ښځو د برابرۍ حقوقو ته به درناوې لري، به ډېره اغیزناکه ثابته شوې وه که له ۲۰۰۱ز کال څخه را پدیخوا په پرله پسې توګه پرمخ وړل شوې وای. سره له دې چې دا کار ترسره نه شو بیا هم دا تګلاره تر ټولو ډېره هیله ښښونکې ده. د طالبانو یو پخوانی وزیر له طالبانو سره د خبرو د ناګزیری او د سولې د پخواني مشر مرکچي (چې بالاخره د طالبانو لخوا ووژل شو) د بدلولو په هکله داسې وایي:

"ښښتانه لکه د ربړي پنډوسکې غوندې دي. هر څومره چې پرې ډېر فشار راوړې، هغومره ډېر پورته الوزي. ته به هیڅکله د هغوی د ماتولو/ کمزورولو وړتیا پیدا نه کړې. شمالي ټلواله د سولې پر وړاندې تر ټولو لوی خنډ دی. هغوی د سولې په عالي شورۍ کې د لوړو چوکیو د کنټرول له لارې په ډېرې چالاکۍ سره د سولې مخه نیسي " (August 2011 interview).


د اسیا فاونډېشن (Asia Foundation 2010:4) د سروې موندنې ښيي چې د افغانانو ۸۳ سلنه د حکومت له وسله والو مخالفینو سره د سولې د خبرو او له پخلاینی څخه ملاتړ کوي، په داسې حال چې دا کچه په ۲۰۰۹ز کال ۷۱ سلنه وه.

لکه څرنګه چې د جرګو په هکله دا خبره یوه تیروتنه ده چې د بشریحقونو (د مراعتولو په برخه کې) جرګې هیڅکله د اصلاح وړ نه دي، په ورته توګه د طالبانو تورنول په تروریزم او نورو هم یوه تیروتنه ده. د سولې مرکچیان باید د دې وړتیا ولري چې د افغانانو بشریحقونو ته د ټینګې ژمنتیا او په تیر وخت کې د بشري حقوقو د سرغړونکو د بدنامولو د سیاست ترمنځ توپیر وکړي. لویدیځ کې اوس هغو لیکنو (بحثونو) ته ارزښت ورکول کیږي چې په افغانستان کې د پخلاینې په سطحې او غولونکو هڅو نیوکه کوي (Sajjad 2010; Semple 2009; United States Institute of Peace

2009; Waldman 2008; 2010) ، خو د ریښتیني پخلاینې لپاره په پرله پسې او ځو اړخیزه ژمنو هڅو ټینګار کوي؛ د لویدیځ په پالیسي جوړونکو کړیو کې دا تفکر اوس ډېر اعتبار لري.

د اکسفام (Oxfam) د نوموړې سروې، چې په ۲ شکل کې ترې یادونه شوې، موندنې څرګندوي چې: "ټولنیزې یا د قومي مشرانو ټولنې د شخړو د حلولو تر ټولو ډېر ښه پېژندل شوې لار ده، چې د جرګو/ شوراګانو په نوم یادیږي". دا سروې د افغانستان د بشریحقونو د خپلواک کمیسیون (AIHRC 2006: 14-17) له سروې څخه چې ۸۰۰۰ کسانو پکې ګډون کړی وو، په نقل قول سره وايي چې "۵۸ سلنه ګډون کونکو وویل چې دولتي بنسټونه د دوی د ستونزې په هوارولو کې پاتې راغلي، دا په داسې حال کې ده چې یوازې ۱۳ سلنه ګډون کوونکو وویل چې شوراګانې د دوی (د ستونزو په هوارولو) کې پاتې راغلي" (Waldman 2008:14). والډمن (Waldman 2008:14) د یو آین ډي پي (UNDP 2007:93-4) سروې ته په اشارې سره وايي چې د شورئ له خوا په حل شوو ۸۰ سلنه قضیو کې "تل یا ډېر ځلې" په سولې باندې پرېکړه شوې او ۵۰ سلنه قضیو کې زیانمن ته د خسارې جبران په ورکړه پریکړه شوې.


دا چې څنګه کولای شو چې د سولې د خسارې د جبران او عدالت د ودې لپاره د جرګو / شوراګانو او له محکمو څخه په ګډه او اغیزناک ډول کار واخلو، کومه اسانه لاره نشته، په ځانګړې توګه کله چې د جګړې او جرم اختلاط ګواښونکی حالت (لکه څرنګه چې په ۲ شکل کې ښودل شوی) شتون ولري. په داسې حال کې چې دودیزه مرد سالاره جرګې/ شوراګانې له ډېر مشروعیت څخه برخمنې دي، د ملي پیوستون د پروګرام له لارې د هیواد د ۷۰ سلنه کلیو څخه څه له پاسه




۲ شکل: د افغانستان په ۶ ولایتونو کې د ۵۰۰ افغانانو سروی ۲۰۰۷ز کال: د امنیت په وړاندې ستری ننګونی

سرچینه: (Waldman 2008:12)


۱۶۰۰۰ شوراګانې د ښځو په برابر او متوازن ګډون سره جوړې شوي (په ۲۰۱۱ز کال کې د شوراګانو ۳۵ سلنه غړي ښځې وې). ښايي په سيمه ييزه کچه دا شورا ګانې ډېر مشروعيت ونه لري او شونې ده چې د حکومت او د بهرنيو مرسته کونکو د آلې (ګوډاګي) په سترګه ورته وليدل شي. سره له دې بيا هم زمونږ (ليکوالانو) مرکې داسې ښيي چې په ډېرو سيمو کې نوموړو شوراګانو ته چې (د ملي پيوستون د پروګرام له لارې) د ټولنيزو پرمختيايي شوراګانو په چوکاټ کې جوړې شوي، خلک په ښه او مثبت نظر ګوري. دا شوراګانې هغه وخت مثبتې ګڼل کيږي چې ورسپارل شوې دنده (خلکو ته د مرستو رسول) په صعودي ډول په داسې توګه سرته ورسوي چې د سيمه ييزو پرمنختيايي پروګروامونو د لومړيتوب په اړه په سيمه ييزه کچه د ښځو او ځوانانو په ګډون د ټاکل شوو غړو غوښتنې او غړ تر مرسته کونکو ورسوي. د اکسفام د سروې پر بنسټ د خلکو ډېره کوچنۍ برخه د شخړو د حلولو په موخه نوموړو نويو جوړو شوو شوراګانو ته مراجعه کوي (Waldman 2008:14). سره له دې بيا هم ټولنيزې پرمختيايي شوراګانې په شورئ کې د ګډون په موخه ښځې روزي که څه هم دا يوه بشپړه ښځينه شورئ وي چې له نارينه شورئ سره په موازي ډول کار کوي. ۳ شکل د هغې سروې پايلې ښيي چې له ګډون کوونکو څخه پوښتل شوي وو چې "آيا په کلي کې داسې کومه ښځه شته چې نارينه او ښځې ورته درناوی لري؟". په ښکاره ډول د دې پوښتنې ځواب په هغو کليو کې چې د ملي پيوستون د پروګرام په ملاتړ په کې شورا ګانې جوړې شوې، تر ډېره بريده به (هو) وي.




۳ شکل: آيا په کلي کې داسې ښځه شته چې نارينه او ښځې ورته درناوې لري؟

سرچنه: World Bank 2011:170

په جرګه/شورئ کی د مشرانو ښځودګډون څومره ملاتړ کوي؟




۴ شکل: په جرګو/شوراګانو کی د ښځو د ګډون د ملاتړې په هکله
(سرچینه: CPAU ، راتلونکی )

همدارنګه د افغانستان په شمالي ولايت کندوز کې د پراخه کچې په يوه وروستنۍ سروې کې چې هځونکې (پايلې) لري، له ګډون کوونکو وپوښتل شول چې "د جرګې/ شورئ په پروسه او پريکړه نيونه کې د سيمه ييزو مشرانو ښځو (سپين سرو) له ګډون څخه څومره ملاتړ کوئ؟" لکه څنګه چې په ۴ شکل کې ښودل شوی، د ګډون کونکو ۶۲ سلنه د جرګې/ شورئ په پروسه کې د مشرانو ښځو له ګډون څخه ټينګ ملاتړ، ۱۴ سلنه څه نا څه ملاتړ او ۲۲ سلنه څه نا څه يا ټينګ مخالفت وښوده.

په ۴ شکل کې له معلوماتو څخه داسې څرګندېږي چې د کندوز په ولايت کې چې د ډېرو ګډو کلتورونو لرونکی ولايت دی، پرېکنده اکثريت د شخړو د حل په دوديزو پروسو کې د ښځو او نارينه د ګډون ملاتړ کوي؛ خو د جرګو په پروسه او پريکړه نيونه کې د ښځو د ګډون څرنګوالی او شرايط تر هغه ډېره پيچلي دي چې په سروې کې په ساده ډول ښودل شوي. په جرګو/ شوراګانو کې د ښځو د ګډون په هکله د خلکو په دريځ کې بدلون ته کتو سره، د USAID د خپل ځينو تمويل شوو پروګرامونو له لارې د افغانستان په سويل او ختيځ کې له (سيمه ييز) دود سره سم د" سپين سرو " ډلې جوړې کړلې (USAID 2010).

په ورته توګه د ښځو د چارو وزارت د خپلې (کمې بودیجې لرونکې) پروګرام له لارې "دېرې نامتو ښځې" هڅوي تر څو په کلیوالي حکومتدارۍ او د ښځو د شورئ له لارې د شخړو په حلولو کې ګډون وکړي (July 2011 interview, Provincial Director for Women's Affairs) په حقیقت کې د ښځو چارو وزارت د افغانستان په ډېرو برخو کې فعاله شتون لري.

اوسمهال ډېر نارینه د شورا له لارې د ښځو له ګډون سره همغږې دي ځکه د ښځو ګډون عملاً د کلي لپاره ګټور دی د بیلګې په ډول د نوي کوهي یا د میوو د بڼ لپاره د بودیجې پیدا کول. د اسیا فاونډېشن سروې ګانې ښیي چې خلک له دې سره نسبتاً ډېر لږ مخالفت لري چې ښځې په جرګو /شوراګانو او ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو کې د دوی استازیتوب وکړي، خو په ییزه توګه په ولایتي شورئ او ملي شورئ کې د ښځو له غړیتوب او استازیتوب سره ډېر مخالفت لري (Asia Foundation 2010:144). دا کار په تدریجي ډول د پخلاینې (یا منځګړیتوب) په شوراګانو کې د ښځو غړیتوب لپاره لار هواروي چې په دې توګه به د تاوتریخوالي هغه ډېر ډولونه حل شي چې په افغاني ښځو او نارینه وو منفي اغیز لري. د اسیا فاونډېشن د وروستنۍ سروې موندنې دا په ډاګه کوي چې جرګې/شوراګانې د ټولو استازو بنسټونو په پرتله ډېر د خلکو د باور وړ دي (په ۲۰۱۰ز کال کې ۶۶ سلنه، په ۲۰۱۱ز کال کې ۷۰ سلنه)، په ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو د خلکو د باور کچه هم مخ په ډېریدو ده (په ۲۰۱۰ز کال کې ۶۱ سلنه او په ۲۰۱۱ز کال کې ۶۸ سلنه) او د پارلمان په پرتله د استازي بنسټ په توګه ډېر د خلکو د باور وړ دي.

د اکسفام د سروې پر بنسټ عادي افغانان غواړي چې د شخړو د حلولو لپاره هم د دولت رسمي محکمو او هم د جرګو/ شوراګانو غیر رسمي سیستم ته لاسرسی ولري، که څه هم اکثریت خلک د شخړې د حل لپاره جرګو / شوراګانو ته لومړیتوب ورکوي (Waldman 2008:14-15).

## د کلیوالي / ښاري شوراګانو له لارې د ډیموکراسۍ او سوله ییزه سیمو پراختیا

افغانستان د یوې بېلګې په توګه دا په ګوته کوي چې د دولت اجرائیه ځواک له لارې په نزولي ډول (top-down approach) د ډیموکراسۍ پلي کول څومره ستونزمن دي، که څه هم په ۲۰۰۱ز کال کې له دولت سره د نړۍ د ټولو لویو ځواکونو کم سارې مرستې او د افغانستان د ژغورل شوو خلکو بې سارې ملاتړ وو. په افغانستان کې د ډیموکراسۍ د ناکامۍ اصلي لامل ناامني ده. اسیا فاونډېشن (Asia Foundation 2010:4) د موندنو پر بنسټ د هغو افغانانو شمیره مخ په ډېرېدو ده چې د رایه ورکولو په موخه په ټاکنو کې (له ګډونه څخه) وېره لري؛ د ۲۰۱۰ز کال په منځیو

کې دا کچه ۶۰ سلنه وه او د هېواد په سویل–ختیځ کې دا کچه ۸۳ سلنه وه. (د نړۍ په کچه) ډېرې غوړېدلې او پرمختللې ډیموکراسۍ لومړی په هغو ښارونو کې ډیموکراتیک بنسټونه جوړ کړل چې د معاصرو معیارونو له مخې ډېر واړه ګڼل کېدای شي - لکه د جرمني د لیوبک (Lü beck) ښار او د فلانډرز (Flanders) د بروژز (Bruges) ښار چې نن ورځ هم کوچني ښارونه دي او د هامبورګ (Hamburg)، باسټن (Boston)، یارک (York) او فلورنس (Florence) ښارونه چې نن ورځ په لویو ښارونو بدل شوي. ډېر خلک ډیموکراسي تر مطلق العنانه (استبدادي) حکومت غوره ګڼي خو له ډیموکراسۍ څخه د ګټې اخیستنې لپاره اړینه ده چې لومړی باید د ډیموکراسۍ پر مفهوم پوه شو. د تاریخ په اوږدو کې ولسي خلکو د محلي اتحادیو، ښاري شوراګانو او کلیوالي غونډو له لارې ډیموکراسي زده او پلې کړې. د دې بنسټونو د نورو ګټو تر څنګ یوه ګټه دا وه چې (خلکو به) د واکمنو فیوډالانو د محکمو د استبدادي پرېکړو څخه لرې، په خپلو منځو کې د جرم په اړه لګېدلې تورونه سپین او شخړې حلولای. فیوډالي محکمو قضایي او اجریوي واکونه درلودل. سلطنتي او فیوډالي محکمو ته په کتنې سره دا ثابته شوې وه چې د اجریوي پرېکړو په پرتله (په ځانګړي ډول کله چې د جګړې د پیل په اړه وي) له قضایي پرېکړو څخه سرغړونه ډېره اسانه ده.

دې منشور ته په کتنې سره (په دې توګه) دا ډېره ستونزمنه ده چې پوه شو چې د کریمنولوژۍ د مسلک (پوهان یا لارویان) په نظري لحاظ ولې په خپل ځان ډاډه نه دي تر څو په دې احتمال بحث وکړي چې جزائي برخه تل د وګړو لپاره د ډیموکراسۍ د زده کړې اصلي ځای یا برخه ده. لکه څنګه چې د افغانستان له شمال څخه یو وزیر چې د خپلې ځانګړې سیمې په اړه غږېده، داسې وویل:" کلیوالي حکومت په دودیزه توګه ولسواکه دی. دولت یوه غیر ډیموکراټه بنسټ دی چې په نزولي ډول (top–down) جوړ شوی او محلي ولسواکه بنسټونه تر اغیز لاندې راولي" (July 2011 interview). ډېره شونې چې دا کار له تاوتریخوالو د (ډکې) او ناکامې ولسواکۍ په سیمه، لکه افغانستان، کې پیښ شي. په افغانستان کې د جرګو / شوراګانو د بنسټونو څېړنه د یوې بیلګې په توګه د دې ښکارندې ده چې د هابز (Hobbes) د نظر له مخې د ولس پر وړاندې د ولس د جګړې په حالت کې ولسي وګړي د جرمونو د کنټرول سیمه ییزو (بسنټونو) ته تر ټولو ډېر هیله مند وي. خو په ورته وخت کې یاده څېړنه دا هم په ډاګه کوي چې استبدادي ځواکونه - د طالبانو سیمه ییز زورواکي، د ناټو او د افغانستان د ملي اردو سیمه ییز قوماندان - کولای شي چې د جرمونو د څارنې دا ګډ او پخلاکونکي بسنټونه (جرګه/ شوریٰ) په خپله ګټه او خوښه وکاروي. د دې کار سره سره بیا هم شونې ده چې خلک په سیمه ییزه کچه په خپل چاپیریال کې وګړوالي تجربه کړي. له زورواکۍ

څخه ډیموکراسۍ ته د بریا کومه یوه سمه او نیغه لاره نشته. دا هم (د بریا لپاره) سمه لاره نه ده چې یوازې دې د ملي ټاکنو د ترسره کولو لپاره سوله ساتي ځواکونه ولیږل شي. د روغې جوړې او د اړین پرمختګونه نزولي تګلاره (top-down approach) مهمه ده خو دا کار هله ګټور دی چې په سیمه ییزه محلي کچه ډیموکراسي رامنځته او بنسټیزه شي (Kaldor 1999). زمونږ (لیکوالانو) د موندنو پایله دا ده چې اړینه ده چې جرم پیژندونکو د ډیموکراسۍ په اړه د هغه بحث یوه برخه وي چې له مخې یې د ډیموکراسۍ د رامنځته کیدلو هڅې باید د مرکز پر ځای له (کلیوالي) ټولنو څخه پیل شي. د دې بحث له مخې په کلیوالي او کوچنیو ښاري سیمو کې د قضایه قوې د ډیموکراته کېدلو لپاره چټکې هڅې هماغومره اړینې دي څومره چې په مرکز (او لویو ښاري سیمو) کې د اجرایه قوې د ډیموکراته کیدو هڅې اړینې دي. په پخو او سرته رسیدلو دموکراتو ټولنو کې کله چې خلک له دولت څخه لیرې او منفي نظر ولري نو جرم پوهنه کولای شي دا بحث رهبري کړي چې آیا ټاکنیز سیاست او که قضائیه قوه ددموکراسۍ د احیاء لپاره اړینه او لاره پرانستلای شي.

زمونږ (لیکوالانو) ادعا دا ده چې ښايي د ټولنې ځوانه طبقه د ولسواکۍ په معنی په خپلو ښونځیو او ګاونډ کې د رغنیز عدالت په کانفرانس [19] کې د ګډون له لارې ښه زده کړې ـ ددې په پرتله چې د کارګرګوند په سیمه ییزو غونډو[20] کې ګډون وکړي. که چیرې ځینې خوځښتونه (لکه طالبان) د لیبرال پوهانو په پرتله په یاد حقیقت ښه پوهېږي او قبلوي یې، نو د قانون د حاکمیت مذهبي وسله وال خوځښتونه په آسانۍ سره کولای شي چې په بیوزلو ټولنو کې دا حالت په خپله خوښه او خپله ګټه وکاروي.

## د ټولنې له لارې د ژغورونکي (لېوايتان) ولسواکه کول

د دې بحث موخه دا نه ده چې د توماس هابز دا نظر رد کړي چې د قلمرو ډېره برخه تر هغې پورې له سولې برخمنه کیدای نه شي تر څو چې (له نظامي اړخه) د قلمرو د کنټرولوونکیو پر سر هوکړه نه وي شوې. نو ژغورونکی باید د خپل قلمرو په حدودو کې ټولې سیالې وسله والې ډلې بې وسلې کړي. په دې توګه د ژغورونکي دا کار به د سولې پر لور لومړنی قدم وي. د ولسي جمهوریت تاسیس

۱۹ د ترمیمي عدالت کانفرانس (Restorative Justice Conference) د ترمیمي عدالت (Restorative Justice) یو ډول دی چې موخه یې د سرغړنکي اصلاح او متضرر ته داوښتي زیان جبران دی. په دی کانفرانس کې سرغړونکی ، متضرر، د تولنی استازی یا غړي او د شخړی ددواړو خواو د کورنۍ غړي او ملګري ګډون کوي تر څو شخړی ته په ګډه د حل لاره پیدا کړي او متضرر ته جبران د خساری ورکړي.

۲۰ د کارګر ګوند (Labour Party) د برطانیی یو له مخکښ ګوندنو څخه دی، یاد ګوند په ټول هیواد کی څانګی (branches) لري چی په دی څانګو کی اړونده ځایي غړي په سیمه ائیزو مسایلو د مشوری لپاره ناستی (meetings) ترسره کوي چی په حقیقت کی د کارګر ګوند تر ټولو د ټیټی کچی ناستی او غونډی دي

دویمه مرحله ده چې په دې توګه د جګړې او تاوتریخوالي پر ځای د غړ اوچتولو او رایې ورکولو له لارې سیاسي سیالیو ته لاره هواروي (وګورئ Pinker 2011). خو ژغورونکی په سملاسي توګه نه شي کولای ولسواکي رامنځته کړي. په هغو ټولنو کې چې ډېری خلک یې په کلیو او ورو ښارونو کې اوسیږي د دوی اړتیا یوازې دا نه وي چې ژغورونکی (دولت) یې له نظامي یرغلګرو وساتي بلکې دوی باید د ځایي نامسوله وسله والو ډلو څخه هم خوندي شي، دا کار یوازې په کلیوالي کچه د کلیوالي بنسټونو په واسطه رامنځته کېدای شي ـ که څه هم کلیوالي بنسټونه هغه وخت د امنیت او ثبات په راوستو کې هم ډېر اغېزناک وي چې د دولت له خوا یې ملاتړ وشي او په ګډوره توګه له دولتي بنسټونو سره یو ځای شي.

یو مهم عنصر چې د زورواکۍ نظام په ولسواکۍ بدلوي دا دی چې د کلیوالي او ښاري سیمو وګړي د محلي جرمونو د اداري تر څنګ د ولسواکۍ په مفهوم پوه شي، په دې بهیر کې ځینې ولسواکه کلي او بانډې دومره اقتصادي وده کوي چې د تاریخ په اوږدو کې ژغورونکي (دولتونه) دې ته اړ شي چې د دوی د واک او ډیموکراټیکو غوښتنو په نظر کې نیولو سره نظام برابر کړي (North et al. 2009). سولې او ملي ولسواکۍ ته د رسیدو په تګلاره کې د جرمونو د کنټرول کلیوال بنسټونه یا کم ارزښته ګڼل شوي دي او یا هم نه دي پیژندل شوي. له بله پلوه، کله چې د دې تګلارې پیل د هابز د نظریې" د ټولو جګړې " حالت وي نو طالبان د امنیت په راوړلو سره چې له استبداد سره مل وي، کولای شي په لرې پرتو سیمو کې خپله واکمني پیل او پراخه کړي.

ملګري ملتونه او نور مرستندویه دولتونه باید د جګړې په سیمو کې د عدالت د دویز بنسټونو ـ چې د خلکو په خوندیتوب کې یې مرسته کړې ـ د ملاتړ او ساتنې لپاره خپلې ټولې هڅې په کار واچوي او په ځانګړې ډول هغه وخت چې نوموړي بنسټونه د جګړو مارو له خوا له تهدید سره مخ وي. د فرصت د تیورۍ[۱] پر بنسټ، دا کار " د قانون د حاکمیت د وسله وال خوځښت" لکه طالبان، د څرګندېدو او د واکمن کېدلو د مخنیوی یوه لاره ده.

په همدې توګه ملګري ملتونه کولای شي چې د جرایمو د مخنیوی او والسواکي د ټینګښت لپاره د خلکو د پوهاوي له لارې یوه مشروعه تګلاره رامنځته کړي، ځکه دوی په کلیوالي کچه د جرمونو دکنټرول مخنیوی یوه غښتلې محلي (سیمه ائیزه) حکومتداري لري. پرته له شکه چې دا د سولې او ولسواکۍ له ډېرو لارو څخه یوه لار ده چې باید ملاتړ یې وشي. خو دا لار تر دې دمه حتی د جرم

۱. د فرصت تیوری (Opportunity theory) د ټولنپوهنی یوه تیوری ده چی ددی نظریه/ فرضیه په اساس سرغړونکی یوه منطقي پریکړه کوي او داسی موخه غوره کوي چی د کمی هڅی او خطر په پایله کی ډېره ګټه ترلاسه کړي.

پېژندونکو (کریمنولوجستانو) په ګډون د (ټولو) له پامه غورځول شوې.

د کانګو په جمهوریت کې د ملګرو ملتونو د سوله ساتونکو د ناکامی په هکله د سیورین اوټیسرا (Severin Autesserre 2010) کتاب کې د لیکوالې په آند د ملي ډیپلوماسۍ په اړه د غربي او افریقایي پوهانو ښاري لید لوری (د ملګروملتونو د سوله ساتونکو د پروژې) د ناکامۍ اصلي لامل و - دوی د معاصرو کورنیو جګړو اصلي سرچینه چې په کلیو کې وه، له پامه غورځولې وه." د سوله راوستونکو په آند نامرکزي یا سیمه ییزه جګړې د هابزي ننګونو په شان دي: دا جګړې شخصي جګړې دي او جرمي بڼه لري" (Autesserre 2010:42) . خو نومورې سوله راوستونکي پر دې آند وو چې د ملګرو ملتونو سوله ساتونکي باید یوازې د ملي تګلارې په پروګرامونو او په هغه لویو نظامي ځواکونو تمرکز وکړي چې د دولت د واکمنۍ لپاره جګړه کوي.

د اوټیسرا (Autesserre 2010) د تحلیل له مخې د کانګو په جمهوریت کې د سوله ساتونکو ځواکونو کړنې به هله ډېرې اغیزناکې وای چې ملګرو ملتونو د سیمه ییزو ستونزو (هغه ستونزې چې هابز په نښه کړي) د ولو په موخه له کلیوالي او ملي مشرانو سره په ګډه کار کړی وای. موږ (له لیکوالې سره) په دې کې همنظره یوو چې د سولې راوستلو په معاصره غوره طریقه کې په کلیوالي او کوچنۍ ښاري سیمو کې د جګړه مارو ډلو (چې په سیمه ییزه کچه د سیمه ییزو بنسټونو له لارې د واک د ترلاسه کولو هڅه کوي) په اړه جنایي پوهه همدومره اړینه ده څومره چې په نړیوالو اړیکو او ملي سیاست پوهېدل اړین دي. په پاپو نیو ګینا (Papua New Guinea) کې د ۵۰۱ قبیلوي جګړو په اړه د یوې وروستنۍ څېړنې پایلې دا په ډاګه کوي چې د عدالت هغه دودیز بنسټونه چې د رغنیز عدالت ځانګړنې لري، د تاوتریخوالي په کمولو او په هېواد کې د سولې په بیا راوستلو کې اغېزناک وو (Wiessner and Pupu 2012).

کله چې لویدیځوال د جرمونو د کنټرول دا نالویدیځه، نااشنا کلیوالي بنسټونه ګوري کوم چې د بشري حقونو ځینې مخالفې ځانګړتیاوې لري، نو ښایي دوی د نومورو بنسټونو د هغو هڅو پر وړاندې خنډ شي چې موخه یې د لویدیځ په ملاتړ او د هابزي (ژغورونکو) ځواکونو په ملتیا د سوله ساتونکو د هغې تګلارې مخالفت وي چې کلیوالي حکومتولي رنګول غواړي. که چیرې ژورې پلټنې دا په ډاګه کړي چې نومورې بنسټونه د هغو ژغورل شوو بنسټونو له ډلې وي چې خلک یې څه نا څه له تاوتریخوالو او ګډوډیو څخه ساتلي وو، نو غوره خبره دا ده چې سوله ساتونکي او مرستندویه (هیوادونه یا بنسټونه) له هغو خلکو څخه ملاتړ وکړي چې ددې بنسټونو د اصلاح غوښتونکي وي او نه د هغو خلکو چې غواړي یاد بنسټونه څنډې (حاشیې) ته کړي. د بېلګې په توګه، په افغانستان

کې دېر واقع بين (بومي) فيمينستي فعالان په جرګو او شوراګانو کې د اصلاحاتو غوښتونکي دي:
۱: (په جرګو کې) د سپين ږيرو تر څنګ د سپين سرو فعاله برخه اخيستنه هڅول؛
۲: له نارينه شوراګانو سره د اندول په موخه د ښځينه شوراګانو د جوړلو لپاره مرسته کول؛
۳: د بشريحقونو څخه د سرغړونه په صورت کې د بشريحقونو د بنسټونو، رسنيو او محکمو پر وړاندې د مرد سالاره شوراګانو په مسوليت ټينګار کول؛
۴: د مرد سالاره شوراګانو پريکړې بايد د ثبت په کتابونو کې وليکل شي، ښځينه فعالينو غير دولتي موسسې او محمکې بايد دې کتاب ته لاسرسی ولري تر څو د هغو پريکړو په ضد د غبرګون غوښتنه وکړي چې د ښځو حقوق يې نقض کړي وي؛۵: د واده په اړه بايد د جرګو / شوراګانو کړنې ثبت شي ترڅو ښځه پر دې پوهه شي چې خاوند يې پخوا څو ښځې لرلې او يا اوس څو ښځې لري؛او
۵: له ملا امامانو سره په (ګډه) کار کول ترڅو د جرګې هغه پرېکړې او د شريعت پر ضد وګڼي چې (په بدو کې يې) ښځې ورکړي وي .

له دې څخه هم انکار نه شي کيدای چې د ښځو د حقوقو يو شمير داسې فعالان شته چې د بدو د له منځه وړلو لپاره له ملاامامانو سره ګډ کار ته زړه نه ښه کوي او د جرګو له اصلاح سره دېر همغږي نه دي او لويديځ دوله محکمو ته د جرمونو دمخنيويد صلاحيت په ورکړې ټينګار کوي. په حقيقت کې د ښځو د حقوقو هغو فعالانو ته چې د جرګو په سيستم او ادانه کې د اصلاحاتو غوښتونکي دي هومره ارزښت نه دی ورکړل شوی څومره چې د ښځو د حقوقو د فعالانو ته ورکړل شوی چې د جرګو له منځه وړولو غوښتونکي دي. د دويمې ډلې غوښتنې په لويديځ کې ښې منل شوي او له ۲۰۰۱ز کال څخه راپدېخوا يې له لويديځ څخه دېره بسپنه ترلاسه کړې. د ښځو د حقوقو د فعالانو ياده (دويمه) مدنی ټولنو (NGO'S) په نامه د دېرو لګښتونو په کولو سره خپل کارونه مخې ته وړي، خو د تعجب وړ خبره دا ده چې دا مدني ټولنې د افغانستان تر ټولو تاريخي (پخواني) او پر ځان بسيا مدني ټولنو (جرګو / شوراګانو) د له منځه وړلو غوښتونکې دي.

د افغاني ټولنې حقيقت دا دې چې په تاريخي توګه يې د ټولو هغو هڅو پر وړاندې مقاومت کړی چې له پاسه څخه يې دنظام تپل موخه ده: په ۱۹۲۰ مه ز لسيزه کې د شاه امان الله خان د عصري او لويديځ دوله اصلاحاتو او په ۱۹۸۰مه ز لسيزه کې د شوروي له کمونيستي رژيم څخه متاثره افغان سوسياليزم چټکې ماتې درسونه بايد هير نشي. دواړو هڅه وکړه چی د نورو" مدرنې " نسخي په دوديزه ټولنه تحميل کړي. په ورته توګه په ۱۹۹۰مه ز لسيزه او د ۲۰۰۰مې ز پېړۍ د لومړي لسيزو

کې د مجاهدینو او بیا طالبانو له پاسه تپل شوي مذهبي حکومتونو هم په ډېرې چټکۍ سره ناکامي تجربه کړه. د دې لپاره چې افغانستان په خپل قلمرو کې، له ګاونډیو او له نورې نړۍ سره په پرله پسې سوله کې پاتې شي نو اړینه ده چې د دې هیواد دودیز بنسټونه له اوسني عصر سره عیار او وترل شي. امریکا او لویدیځ ملاتړي یې لا اوس هم وخت لري چې په افغانستان کې د سولې د راوستلو او د عدالت د پرمختګ لپاره د لاندې خوا - د افغاني کلیوالي ولسواکۍ له لارې- چې له پاسه څخه د هابزي ژغورونکي ملاتړ له ځانه سره ولري مرسته وکړي. ډېره شونې ده چې د افغانانو دا صعودي دوله (bottom-up)، او په ورته وخت کې نزولي دوله(top-down) ، طریقه د عدالت په اغیزناک دول تامین او د افغانانو لپاره تل پاتې سوله راوړي. کیدای شي دا اړینه وي چې سوله ساتونکي دې د افغان دولت او افغاني ټولنې (د هغو ټولو په ګډون چې په صعودي دول د پخلاینې لپاره کار کوي) ساتنه وکړي. ډېره شونې ده چې نوې نزولي دوله (top-down) ټولنیز جوړښت چې د لویدیځ وسله والو ځواکونو په ملاتړ او د شپنیو عملیاتو له لارې )چې د طالبانو د نیولو او وژلو په موخه ترسره کیږي( پر خلکو تپل کیږي په اوږد مهال کې ډېر زیانمن ثابت شي.

# مأخذونه

1. Afghanistan Independent Human Rights Commission (2006), Economic and Social Rights in Afghanistan. Kabul: Afghanistan Independent Human Rights Commission.

2. Asia Foundation (2007), Afghanistan in 2007: A Survey of the Afghan People. Kabul: The Asia Foundation.

3. (2009), Afghanistan in 2009: A Survey of the Afghan People. Kabul: The Asia Foundation.

4. (2010), Afghanistan in 2010: A Survey of the Afghan People. Kabul: The Asia Foundation.

5. (2011), Afghanistan in 2011: A Survey of the Afghan People. Kabul: The Asia Foundation.

6. Autesserre, S. (2010), The Trouble with the Congo: Local Violence and the Failure of International Peacebuilding. Cambridge and New York: Cambridge University Press.

7. Barfield, T. (2010), Afghanistan: A Cultural and Political History. Princeton, NJ: Princeton University Press.

8. Barfield, T. and Nojumi, N. (2010), 'Bringing More Effective Governance to Afghanistan: 10 Pathways to Stability', Journal of Middle East Policy, XVII: 40-53. .

9. Barfield, T., Nojumi, N. and Thier, A. (2006), The Clash of Two Goods: State and Non-State Dispute Resolution in Afghanistan. Washington, DC: United States Institute of Peace, avail-able online at www.usip.org/files/file/clash_two_goods.pdf .

10. Braithwaite, J. and Wardak, A. (2011), 'Is Killing Taliban a Good Idea?', Inside Story, available online at http://inside.org.au/is-killing-taliban-a-good-idea/.

11. (2012), 'Crime and War in Afghanistan: Part I: The Hobbesian Solution', British Journal of Criminology. doi: 10.1093/bjc/azs066

12. Carter, L. and Connor, K. (1989), A Preliminary Investigation of Contemporary Afghan Councils. Peshawar: ACBAR.

13. Centre for Policy and Human Development (CPHD) (2007), A National Survey on

*Local Dispute Resolution Mechanisms in Afghanistan. Kabul: ACSOR.*

*14. Choudhury, N. (2011), 'Reconceptualizing Legal Pluralism in Afghanistan', Windsor Review of Legal and Social Issues, April: 21-52.*

*15. Claude, A. C. (2010), Afghanistan: Justice and Reconciliation: The Informal Justice System in Afghanistan. Kabul: Civil Military Fusion Center.*

*16. Coburn, N. and Dempsey, J. (2010), Informal Dispute Resolution in Afghanistan. Washington, DC: United States Institute of Peace.*

*17. Dunn, D., Chisholm, D. and Mason, E. (2011), Afghan Rule of Law and Stabilization Programme (Informal Component): Assessment. Kabul: USAID.*

*18. Gang, R. (2011), Community-Based Dispute Resolution Services in Kabul City. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit.*

*19. Glatzer, B. (1998), 'Is Afghanistan on the Brink of Ethnic and Tribal Disintegration?', in W. Maley, ed., Fundamentalism Reborn? Afghanistan and the Taliban. New York: St Martins.*

*20. Kaldor, M. (1999), New and Old Wars: Organized Violence in a Global Era. Cambridge: Polity Press.*

*21. Katzman, K. and Wyler, L. (2010), Afghanistan: US Rule of Law and Justice Sector Assistance, Congressional Research Service, Report No. R41484, 9 November.*

*22. Ledwidge, L. (2009), 'Justice and Counter Insurgency in Afghanistan: A Missing Link', RUSI Journal, 154: 6-9.*

*23. Malekyar, S. (2000), 'Qadamhaie Ashti wa Solh dar Anannaie Hazarahaie Afghanistan', in Qadamhaie Ashti wa Masauliate ma Afghanistan. Falls Church, VA: Kabultec.*

*24. Merry, S. E. (2006), Human Rights and Gender Violence: Translating International Law into Local Justice. Chicago: University of Chicago Press.*

*25. North, D. C., Wallis, J. J. and Weingast, B. (2009), Violence and Social Orders. New York: Cambridge University Press.*

*26. Pinker, S. (2011), The Better Angels of Our Nature. New York: Viking.*

*27. Saikal, A. (2005), 'Afghanistan's Weak State and Strong Society', in S. Chesterman, M. Ignatieff and R. Thakur, eds, Making States Work: State Failure and the Crisis of Governance. Tokyo and New York: United Nations University Press.*

*28. Sajjad, T. (2010), Peace at All Costs? Reintegration and Reconciliation in Afghanistan. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit.*

*29. Schmeidl, S. (2011), 'Engaging Traditional Justice Mechanisms in Afghanistan: State-Building Opportunity or Dangerous Liaison?', in W. Mason, ed., The Rule of Law in Afghanistan: Missing in Inaction. New York: Cambridge University Press.*

*30. Semple, M. (2009), Reconciliation in Afghanistan. Washington, DC: United States Institute of Peace.*

*31. Shahrani, N. (1996), 'State Building and Social Fragmentation in Afghanistan: A Historical View', in A. Banuazizi and M. Weiner, eds, The State, Religion and Ethnic Politics: Afghanistan, Iran, Pakistan. New York: Syracuse University Press.*

*32. Sharma, S. and Sen, P. K. (2008), 'Institutionalization of the Justice System', in R. Rennie, ed., State Building, Security and Social Change in Afghanistan. Kabul: The Asia Foundation.*

*Smith, D. and Lamely, J. (2009), A Holistic Justice System for Afghanistan. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit.*

*33. Smith, D. and Manalan, S. (2009), Community-Based Dispute Resolution Processes in Bamiyan Province, Afghanistan Research and Evaluation Unit. Kabul: AREU.*

*34. Social Development and Stability Afghanistan Organization (2010), Concept on a National Comprehensive Peace and Reconciliation Process. Kabul: Prepared for The Asia Foundation.*

*35. Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (SIGAR) (2011), Tenth Quarterly Report by the Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction to the United States Congress. Washington, DC: SIGAR.*

*36. Suleman, M. and Copnall, D. (2006), Evaluation of Peace-Building Programmes in Farah and Badghis, Western Region of Afghanistan. Kabul: Sanayee Development Organization.*

*37. Supreme Court of Afghanistan (2007), 'Resolutions of the Supreme Council of the Supreme Court of Afghanistan', Mizan Weekly, 47 (6 December). Kabul: Supreme Court of Afghanistan.*

*38. Toomey, L. and Thier, A. J. (2007), Bridging Modernity and Tradition: Rule of Law and Search for Justice in Afghanistan. Kabul: United States Institute of Peace.*

*39. United Nations Development Programme (UNDP) (2007), Afghanistan Human Development Report. New York: UNDP.*

*40. United States Institute of Peace (2009), Afghanistan: Progress in Peacebuilding. Kabul: United States Institute of Peace.*

*41. USAID (2012), District Assessment in Tirin Kot, Rule of Law and Stabilisation Component. Kabul: USAID.*

*42. Waldman, M. (2008), Community Peacebuilding in Afghanistan: The Case for a National Strategy. Oxford: Oxfam International.*

*43. (2010), Dangerous Liaisons with the Afghan Taliban: The Feasibility and Risks of Negotiations. Washington, DC: United States Institute of Peace.*

*44. Wardak, A. (2002), 'Jirga: Power and Traditional Conflict Resolution in Afghanistan', in J. Strawson, ed., Law after Ground Zero. London: Cavendish.*

*45. (2004), 'Building a Post-War Justice System in Afghanistan', Crime, Law & Social Change, 41: 319-41.*

*46. (2006), 'Structures of Authority and Local Dispute Settlement in Afghanistan', in H.-J. Albrecht ed, Conflicts and Conflict Resolution in Middle Eastern Societies: Between Tradition and Modernity. Berlin: Duncker & Humblot.*

*47. (2010), 'A Field Assessment: Linking Formal and Informal Customary Justice Mechanisms in Ahmad Aba (Paktia) and Zone 5 of Jalalabad: An Exploratory Project', unpublished Field Report, Kabul, TLO.*

*48. Wardak, A., Saba, D. and Kazem, H. (2007), 'Bridging Modernity and Tradition: Rule of Law and the Search for Justice', Afghanistan Human Development Report. Kabul: CPHD, available online at http://hdr.undp.org/en/reports/nationalreports/asiathepacific/afghanistan/name,3408.en.html.*

49. Weber, M. (1964), The Theory of Social and Economic Organization, edited by T. Parsons. New York: Free Press.

50. Wiessner, P. and Pupu, N. (2012), 'Toward Peace: Foreign Arms and Indigenous Institutions in a Papua New Guinea Society', Science, 337: 1651-3.

51. Woodward, R. (2011), Obama's Wars. New York: Simon & Shuster.

52. World Bank (2011), World Development Report. Washington, DC: The World Bank.